# د دیکتاتورۍ نه دیموکراسۍ ته

(د آزادۍ لپاره یوه مفکوروي طرحه)

جین شارپ

د البرت انیشتین مؤسسه

Ketabton.com

مترجم: **م. رقیب**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د البرټ انشټين د مؤسسې رسالت:

د البرټ انشټين په مؤسسه کښې تل زمونږه دنده په نړيواله سطحه د عدم تشدد د مبارزې مطالعه او په نښتو کښې ئې د ستراتيژيکي استعمال رواجول دي.

دا مؤسسه متعهده ده چې:

- د ديموکراتيکو مؤسسو او آزاديو نه دفاع کوي.

- د ديکتاتورۍ، ظلم،او ټولنيزو وژنو سره به مخالفت کوي.

- او د سياسي هدفونو د لاس ته راوستلو لپاره پر تشدد، د يوې وسيلې په حيث تکيه کولو باندې کموالی راولي.

پورتني دندې په دريو لارو تر سره شوي:

- د عدم تشدد د مبارزې د اصولونو تحقيق، او د پاليسيو د مطالعاتو هڅول او په تيرو وختونو په مختلفو نښتو کښې د هغوی استعمال.

- ددې مطالعاتو د نتيجونه خلک د خپرونو، کنفرانسونو، او د ډله ئيزو ارتباطي وسائلو په ذريعه خبرول.

- د عدم تشدد د مبارزې د ستراتيژيکي قدرت په هکله هغو ډلو ته سلا او مشورې ورکول،چې په نښتو کښې را ګير دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بخښونکي او مهربانه خدای په نامه

ددې کتاب ټول حقوق د البرت انيشټين
مؤسسې سره محفوظ دي.

د کتاب پېژند نه
---------------

د کتاب نوم................د ديکتاتورۍ نه ديموکراسۍ ته

ليکوال.....................ډاکټر جين شارپ

پښتو مترجم..............م . رقيب

شمېر......................۵۰۰ ټوکه

د چاپ کال..............۲۰۰۸م ۱۳۸۷ ش

ځايځی..................د دانش خپرندويه مؤسسه--پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

منته

ددې اثر په ترجمه کولو او د مفاهیمو په روښانه کولو کې له ما سره زما ګرانې لورجمیلې اود پښتو دمناسبو لغاتو په پیداکولو کې زما محترم ملګری عبدلکافي رسولي ګټورې مرستې کړي،چې زه د دواړو نه د زړه له کومې مننه کوم.

م . رقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عنوان ........................................................................مخ**

د مترجم سریزه ............................................................۷

د لیکوال سریزه ............................................................۹

لومړۍ فصل ...............................................................۱۲
له دیکتاتوریو سره په واقعیت باندې ولاړه مقابله
تلپاتې ستونزه
آزادۍ د تشدد د لارې نه
کودتاوې،انتخابات او بهرني ژغورونکي
له حقیقت سره مخامخ کېدل

دویم فصل..................................................................۱۹
د مذاکرو ګټې او محدودیتونه
تسلیمېدل، د مذاکراتو د لارې نه
په مذاکراتو کې قدرت او عدالت
د توافق وړ دیکتاتوران
څرنګه سوله؟
د امیدوارۍ لپاره دلیلونه

دریم فصل .................................................................۲٦
قدرت له کومه راځي(دقدرت منابع)
د بیزوګانو د خاوند کیسه
د سیاسي قدرت ضروري سرچیني
د دیموکراتیکي قوتونو مرکزونه

څلورم فصل.................................................................۳۲
دیکتاتوري خپله کمزورتیاوې هم لري
د دیکتاتوریو کمزورتیاوې
د دیکتاتورۍ په کمزورو برخو برید کول

پنځم فصل..................................................................۳٦
د قدرت استعمال(په کار آچونه)
د سیاسي سر غړوني خاصیتونه
د عدم تشدد د مبارزې د کار ډول
د عدم تشدد وسلې او انضباط
څرګندتیا،محرمیت او لوړ معیارونه
د قدرت د اړیکو انتقال
د بدلون څلورم میکانزم(لارې چارې)
د سیاسي سرغړوني آزادي بخښونکي نتیجي
د عدم تشدد د مبارزې پېچلتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم فصل.............................................................. ٤٦
ستراتيژيکي پلان جوړولو ته اړتيا
پر واقعيت باندې ولاړپلان جوړونه
د پلان جوړولو په مقابل کې موانع
په ستراتيژيکي پلان جوړولو کې څلور مهم اصطلاحات

اوم فصل .............................................................. ٥٣
د پلان جوړولو ستراتيژي
د وسايلو انتخابول
د ديموکراسۍ(آزادۍ) لپاره پلان جوړول
خارجي مرستې
د لويې ستراتيژۍ تنظيمول
د مبارزې لپاره د ستراتيژيو طرح کول
د همکارۍ د نه کولو د عقيدې خپرول
ځپل کيدل او مقابل اقدام
دستراتيژيکي پلان عملي کول

اتم فصل.............................................................. ٦٣
د سياسي سر غړونې پکار آچول
ټاکل شوی مقاومت
علامتي(سمبوليک) زور آچونه
د مسئوليت ويشل
د ديکتاتور قدرت په نخښه کول
په ستراتيژۍ کې بدلون

نهم فصل .............................................................. ٦٩
د ديکتاتورۍ تجزيه کول
د آزادۍ خپرول
په مسئوليت سره د بريالیتوبونو اداره کول

لسم فصل.............................................................. ٧٤
د دوام لرونکي ديموکراسۍ بنسټ
د کودتاوو مخنيوی.
د اساسي قانون مسوده(لومړی ليک)
ديموکراتيکي دفاعي کړنلاره
يو غوره مسئوليت

د عدم تشدد د مبارزې ١٩٨ ميتودونه .................................. ٧٩

د ليکوال په اړه .............................................................. ٨٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مترجم سریزه

نن سبا بشري ټولنه د ځمکې پر مخ رنګارنګو طبیعي،اجتماعي، اقتصادي،او نورو ګواښونو سره مخامخ ده. که د یوې خوانه د ځمکې د کرې د تودوخې درجې لوړیدل،د نفوسو د شمېر زیاتیدل، د اومو موادوکمیدل او نور عوامل د انسانانو ژوند په کلکه تهدیدوي،له بلې خوا کورنۍ بې عدالتي،دیکتاتوري او بین المللي استکبار او تجاوز په نړۍ کې یو خطرناکه بحران رامنځ ته کړی دی.په هیوادونو کې د ننه کله یو خاص اقلیت په چل ول او یا زور د اکثریت حق غصب او د دوی په برخلیک لوبې کوي. او همدارنګه په بین المللي چوکاټ کې زورور او لوی هیوادونه کمزوري او کوچني هیوادونو باندې توطئې او تجاوزونه کوي،ددوی خاوره اشغالوي،خلک یې مریان او په مادي او معنوي شته یې لوټ او تالان ګډوي.

په دواړو حالتونو کښې د کورنۍ دیکتاتورۍ او یا بهرني تجاوز او اشغال په مقابل کې

محکوم ملتونه درې دریځونه نیولی شي:

لومړی دیکتاتور ته تسلیمېدل او ورنه اطاعت کول،یعني د خپل ټولو حقونو نه تیریدل او ناروا ته ځان سپارل چې البته دا یو غوره اقدام نشي ګڼل کیدای.

دویم: د دیکتاتورۍ او اشغال په مقابل کښې د وسله والې او تشدد لاره ټاکل، چې که ورته پوره ځیر شو دا هم د بریالیتوب،ظلم او دیکتاتورۍ د نسکورولو لپاره یوه مناسبه لاره نه ده. ځکه چې دواړه، دیکتاتوراو بهرني یرغلګر، د تشدد او وسله والې جګړې په وسایلو کښې پر ازادي غوښتونکو تل تفوق لري. ددې لپاره چې دوی منظم وسله وال پوځونه او رنګارنګ د وژنې او ځور وسایل په واک کې لري،چې ازادي غوښتونکي ور سره سیالي نشي کولی. نو وسله واله جګړه هم یو اغیز ناکه لار نشي ګڼل کېدلی.

دریم: د عدم تشدد مبارزه او همکاري نه کولو طریقه ده،چې د محکومو ولسونو په پوره توان کې دی،چې که په معقوله توګه طرح او سم په کار واچول شي،هرومرو به

دځپل شوو ولسونو په بریالیتوب او آزادۍ تمام شي. نو د عدم تشدد مبارزې او د همکاري نه کولو لارې دیکتاتورۍ او اشغالګر ته د تسلیمیدلو او یا ورسره د وسله والې جګړې پرځای یوه معقوله انتخاب دی.

د عدم تشدد جګړه د مبارزې یوه عملي او فعاله ډول دی،چې په جنوبي اسیا کښې تاریخي سابقه لري او د شلمې پیړۍ په نیمایي کې ددې سیمې نه د انګریزانو د شړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جګړه کې ورنه په بریالیتوب کار اخستل شوی دی. د آزادۍ دا لوی جنګ په هندوستان کې د کانګرس ګوند د ګاندي تر لارښونې او په پښتونخوا کې خدایي خدمتګارو د باچا خان تر با کفایته مشرتوب له ډیرو سرښندونو او فداکاریو وروسته

وګاته او د انګریزي ښکیلاک برستنه یې له دې سیمې نه ورټولې کړې. ددې مبارزې په دوران کې پښتانه خدایي خدمتګار، د عدم تشدد د جګړې د انضباط او اصولو ته خپله وفاداري په اثبات ورسوله. نو سره له دې چې پښتون قام د توري او تشدد په استعمال کې ښه مهارت او لوړ شهرت لري،د عدم تشدد د اصول په پکار آچولو کې یې هم پوره استعداد ښودلی اوپه اسلامي نړۍ کې یې په بریالیتوب سره تطبیق کړی دی،نو د خدایي خدمتګارو تعلیمات او تجربه په راتلو نکې کې د پښتنو د کلتوري،اجتماعي،اقتصادي او سیاسي پرمختګ او یووالي لپاره د لارې یو روښانه مثال کیدای شي.

همدارنګه، افغانانو له روسانو سره د خپلې لس کلنې خونړۍ جګړې په دوران کې په پراخه ډول د عدم تشدد د جګړې د ډیرو میتودونو نه لکه اعتصاب، همکاري نه کول او سیاسي سرغړونې او نورو اصولونو نه ګټه آخیستي، چې په افغانستان کښې د روسانو د ماتې غټ عامل بلل کیږي.

پښتانه وایي،چې(مار مړ او کوتک هم مات نشي) نوکه د یو هدف لاس ته راوستل له وسله والې جګړې او وینې توئیدنې پرته د عدم تشدد د مبارزې له لارې ممکن وي، نو د خطرناکو وسلو استعمال ته چې د زیات شمیرانسانانو د ژوند په تباه کولواو نورو ورانیو تمامیږي څه ضرورت؟

د معاصرې نړۍ لوی متفکر او د اجتماعي علومو پیاوړی عالم ډاکټرجین شارپ،چې د عدم تشدد د مبارزې، همکاري نه کولو او سیاسي سرغړونې په موضوعاتو باندې د نیمایي پیړۍ نه زیات علمي تدقیقات او مطالعې کړي، په دې رسالې کې"د دیکتاتورۍ نه دیموکراسی ته" خورا په زړه پورې، پر واقعیت ولاړ او علمي لارې چارې تجویز کړي،چې د سم تطبیق کولو په صورت کې،به ملتونو او هیوادونو ته هرومرو آزادي او خپلواکي وګټي.

ددې رسالې مطالعه به یقیناً لوستونکو ته قناعت ورکړي،چې دا رساله د آزادي غوښتونکو مبارزو لپاره یو آغیزمن، علمي او عملي اثر دی.

په درناوي، م . رقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال سریزه

په انساني ټولنو باندې د دیکتاتوریو د واکمن کېدلو مخنیوی او د موجوده دیکتاتوریو ویجاړول، د ډېرو کلونو راهیسې یو زما د لویو اندېښنو څخه ؤ. دا اندېښني ددې عقیدې نه روزل شوي ؤ، چه انسانان باید د استبدادي رژیمونو تر واک دهغو د ناوړو آغیزو لاندې له مینځه لاړ نشي. د انسانانود آزادیو اهمیت او د د یکتاتوریو د خاصیت (د ارسطو نه تر د استبدادي حکومتونو تحلیلونه) او د ډیکتاتوریو د تاریخ ( مخصوصاً دنازي جرمني او ستا لیني سیستمونو) مطالعې زما داعقیده ئې لاهم تقویه کړه.

وروسته د کلونو نه، راته د هغو انسانانو د پېژند ګلوۍ فرصت لاس ته راغی چه د نازیا نو د حکومت لاندې ځوریدلي وو، او پدې کښې داسې کسان هم وو چه د ډلئیزو بندیخا نو نه ژوندي راوتلي وو. په ناروې کښې مې داسې کسان ولیدل چه د فا شیستي حکومت په مقابل کښې ئې د مقاومت نه ژوندي پاتې شوي ، او د هغو د برخلیک نه هم خبر شوم چې خپل ژوندونونه ئې د لاسه ورکړي وو.

. په مختلفو هیوادونو کښې، د کمونیستي حکومتونو د وحشت او ترور نه اکثرأ د کتابونو او د شخصي تماسونو له لارې مې معلومات تر لاسه کړل. څرنګه چه په کمونستي نظامونو کښې دیکتاتورۍ د ظلم او استثمار نه د خلاصون په نوم پر خلکو تحمیل شوي وو نو ما ته په خاصه توګه زورونکې او دردونکې ؤ.

د ننی ورځې د دیکتاتوریو حقایق، په دې ډېرو نژدیو لسیزو کښې، د هغو هیوا دونو د وګړو د لیدنو کتنو د لیارې نه، چه د استبدادي حکومتونو لاندې لکه پانامه، پولیند، چلي، تبت، او برما اداره کیږي ، نور هم راته روښانه شوي دي.

د دیکتا توریو د تېر ایستونکو خاصیتونو نه مې اکثرأ ځورونکي درک، د تبت د خلکو نه چه د چینائي کمونست تیري کونکو سره مبارزه کوي، روسانو چه د ۱۹۹۱ کال، د سخت دریزو کودتا ئې ناکامه کړه ، او تایلیندیانو چه د عدم تشدد د لارې نه د پوځي حکومت د بېرته راګرځېدلو نه مخنیوی کړي وو تر لاسه کړ.

څرنګه چه د ظلمونواو تیریو په مقابل کښې مې د کرکې احساس ډېریده، د هغو کلکو اتلولیو لپاره چه د باور نه کونکي زړه ورو سړو او ښځو له خوا نه ښودل کېده،ورسره جوخت دهغو ځایونو په لیدلو ځما د قدردانۍ احسا س تقویه کېده، چیرته چه خطرونه لاهم زیات وو،خو سر غړوني او مقاومتونه د خلکو له خوا نه همغسې دوام درلود. زما له خوا نه په لید ل شوو ځایونو کښې د نوریګې د حکومت لاندې پانامه ; د شوروي اتحاد د دوامداره فشار لاندې، په لیتواني کښې ویلینوس ; په پیکنګ کښې د تیانا من میدان، د آزادي غوښتونو د مظاهرو په وخت، او هم کله چې لومړنی زغرلرونکې واسطه په هغه برخلیک جوړونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې میدان ته ورننوتل ; او په مانرپلاو"آزاده برما " کښې د دیموکراتیکو قوتونو ځنګلي قرارګاه شامل دي.

ځنې وختونه مې ماتې خوړلي ځایونو، لکه په ویلینوس کښې د تلویزیون برج او هدیره، د لاتویا دجمهوریت په پلازمېنې کښې ریګا، چیرته چې خلک وژل شوي وو، د شمالي ایطا لیا د فرارا مرکز،په کوم ځای کښې چې فاشیستانو مخالفین ئې په صفونو درولي او وژلي وو، او یو ساده هدیره په مانرپلاو کښې چې دداسې سړو د جسد ونو نه ډک ؤ چې د مړینې لپاره دیر ځوان وو،وکتل. دا مرګونه اووراني، هغه دردونکې واقعیتونه دي چې هرې د یکتاتورۍ ئې شا ته پریږدي.

دې مفکورو او تجربو راته امیدواري پیدا کړو چې ښائي د دیکتاتورۍ مخه نیول به ممکن وي.

دارنګه چې په مقابل کښې ئې بریالۍ مبارزه کولی شي چې بې له دوه اړخیزو درندو انساني تلفاتو،موجوده دیکتاتورۍ ړنګ او د هغې د ایرو نه د نوي استبداد د راجیګېدو مخنیوی وشي.

د ډیرو آغېزمنو لارو د پیدا کولو لپاره ما زیار ایستلي چې په ډېر دقت او احتیاط فکر وکړم

چې څرنګه دکتاتورۍ په بریالیتوب سره د ډېروممکنو لږو کړاونو او انساني ضایعاتو ویجاړولی شو.

پدې هلو ځلو کښې د ډیرو کلونو د مطا لعاتو په ترڅ کښې ما دیکتاتوریو، مقاومتي نهضتونو،

انقلابونو، سیاسي افکارو، حکومتي سیستمونو او په خا صه توګه د عدم تشدد پر واقعیت ولاړومبارزو ته پاملرنې کړي دي.

دا اثر ددې هلو ځلو نتیجه ده. زه پوره باور لرم چې دا یو بشپړ لار ښودنه نه ده. لاکن ښائي چې دا داسې تعلیمات ارائه کړي چې د آزادۍ غوښتونکو حرکتونو لپاره د فکر کولو او پلان جوړولو په برخه کښې مرسته، او داسې آزادي غوښتونکې نهضتونه مینځ ته راولي چې ډېر آغیز من او زورور وي، چې بې لدې لارښودنو نه به ئې مینځ ته راتګ هیڅ ممکن نه وي.

د ضرورت او قصدي انتخاب له مخې دا کتاب په عمومي توګه د موجوده دکتاتوریو د له مینځه وړلو، او د نوو د یکتاتوریو نه، په مخنیوي کولو باندې زور آچولی دی. زه ددې صلاحیت نلرم چې یو مفصل تحلیل او طرزالعمل د یو خاص هیواد لپاره وړاندې کړم. سره لدې، زه امید لرم چې دا عمومي تحلیل د ډیرو ملتونو لپاره چې په خواشینۍ سره، د استبدادي حکومتونو سره په اخ او ډب آخته دي ګټور واوسي. هغوی به ددې نظریاتو مواد د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاصو شرایطو لپاره وڅیړي، او ځان پوه کړي چې څومره ددې تعلیماتو عمده نظریات ددوی د مبارزې لپاره مناسب دی او یا ورته د تغیر ورکولو ضرورت دی.

ددې کتاب په لیکلو کښې زه د ډیرو کسانو نه مدیون یم، او د هغو د مرستو نه د زړه له کومې

مننه کوم. بروس جینکنز زما مخصوص مرستیال، ډیر زیات ارزښتناکې همکارئ ، په محتویاتو، د مسائلو په تشخیص او وړاندې کولو ، د ارزښتناکو وړاندیزینو د ډیرو پیچلو مطالبو په ساده کولو،او د کتاب د ترتیب او تنظیم په برخه کښې ئې کړی دی. د استفان کوډې نه د هغه د کتاب د تصحیح کولو لپاره مننه کوم. ډاکټر کرستوفر کروګلر، او رابرټ هلوي دواړو ګټور وړانیزونه او انتقادونه د کتاب په متن باندې کړي دي. ډاکټر هازل مک فرسون او ډاکټر پاتریشیا پارکمن، په ترتیب د افریقې او لاتینې امریکې د منازعاتو په هکله ما ته معلومات راکړي دي.

که څه هم ددې اثر په لیکلو کښې د ډېرو کسانو د مرستو ، حمایو ،او مهربانیو نه ګټې آخستل شوي، لاکن د ټولو تحلیلونو او نتیجه ګیریو مسئولیت شخصأ ما پورې اړه لري.

ددې کتاب په هیڅ برخه کښې ندی ویل شوی چه د دیکتاتوریو سره مبارزه یوه آسانه او ارزانه هڅه ده. د مبارزې ټول شکلونه خپلې ځانګړې پیچلتوب او تاوانونه لري، او د دیکتاتورانو سره جګړه البته تلفات آړوي. سره لدې،دا زما هیله ده چه دا اثرد مقاومت رهبرانو سره مرسته وکړي چې داسې ستراتیژئ طرح کړي چې ددوی د قدرت اغېزه ډیر زیات او د هدفونو د لاس ته راوستلو په مبارزو کښې ئې تلفات ډیر لږ کړي. دا تحلیل داسې هم باید تعبیر نشي چې کله یو دیکتاتور له مینځه ځي نو دنیا به ټول، ګل او ګلزار ،او کړاونه به ګرد سره، ورسره یو ځای ورک شي. خو په خوا شینئ سره باید ووایو،چې داسې نه ده، او د هیڅ دیکتاتورئ سقوط د یو بشپړ هوسا ټولنې د جوړیدو سبب نه ګرځي. بلکه د زیار او زحمت او اوږدو هلو ځلو لپاره لار جوړوي چې یو عادلانه، ټولنیز، اقتصادي، او سیاسي اړیکې خلق ،او د بې عدالتئ او استبداد ټولې جرړلې له بېخه وباسي. زه هیله لرم چې دا لنډ تحلیل د استبداد او دیکتاتوریو د له مینځه وړلو لپاره ټولو هغوولسونو لپاره ګټور ثانت شي، چې د استبداد د سلطې لاندې ژوند کوي او د خپلې آزادئ او خپلواکئ لپاره مبارزه کوي.

جین شارپ

٦ اکتوبر، ١٩٩٣

د البرټ انیشتین مؤسسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی فصل

### د ډیکټاتوریو سره په واقعیت باندې ولاړه مقابله:

پدې نژدیو کلونو کښې،ډیر استبدادي رژیمونه، که ئي کورنی بیخ او یا بهرنی منشأ درلود ل ، د متشکلو او مجهزو خلکو د مبارزو پر مخ یا پوره ویجاړ او له مینځه تللي او یا کمزورې شوي دي. اکثراً لیدل شوي چه خورا قوي او مستحکمې ډیکټاتوری د خلکو د ډله ایزو سیاسي، اقتصادي، او ټولنیزو سر غړونو او مقاومتونو نه ئې ماتې خوړلي او نسکوره شوي.

د ۱۹۸۰ کال د لسیزې نه راپدیخوا ډیرې دیکتاتورۍ، په استوني، لاتویا، او لیتواني، پولیند،ختیزه جرمني،چکوسلواکیا، او وسلوینیا، مدغاسکر،مالي، بولویا، او پلپاین کښې د خلکو د سیاسي سر غړونکو مبارزو نه ئې ماتې خوړلي دي. د استبداد په مقابل کښې سر غړونکې مبارزې په نیپال،زمبیا، جنوبي کوریا، چلي، ارجنټاین، هیتي، برازیل، یوروگوای، ملاوي، تایلیند، بلغاریا،هنگري، زایر، نایجیریا، او د پخواني شوروي اتحاد په مختلفو برخو کښې (خصوصاً دسخت دریزو د ۱۹۹۱ کال د آگست د میاشتې د کودتا په شنډولو کښې خورا مهم رول ولوباوه.)آزادي بخښونکې نهضتونه ئې پر مخ بیولي دي.

بر سیره پر دې، پدې نژدې کلونو کښې په چین، برما، او تبت کښې ډله ایزې سیاسي سر غړونې صورت نیولي دي. که څه هم دا مبارزې، دیکتاتورۍ او یا بهرنی اشغال ئې پای ته نه دي رسولي، خو بیا هم مستبد رژیمونه ئې بین ا لمللي ټولنې ته رسوا،او هم د خلکو لپاره ئې د سیاسي سر غړونې په اړه ارزښتناکې تجربې پر ځای پریښي دي.

په یقین سره پدې هیوادونو کښې، د دیکتاتوریو ړنگېدل هلته نور مشکلات لکه فقر، جنایت،اداري نیمگړتیاوې، د ژوند د چاپیریا ل ورانی، چه اکثراً د استبدادي رژیمونو میراث وي پای ته ونه رسول. خو بیا هم ددې دیکتاتوریو سقوط، د استبداد ځپلو پرگنو رنځونه ئې تخفیف، او د هیواد د بیا رغونې، د پراخې سیاسي خپلواکۍ، شخصي آزادۍ، ټولنیز عدالت لپاره ئې لاره اواره کړه.

### تلپا تې ستونزه:

رښتیا په نړۍ کښې، په تیرو وروستیو لسیزو کښې د انسانانو لا د پراخې خپلواکۍ او آزادي غوښتنې خوا ته تمایل پیداشوی.

د آزادۍ د کور د مؤسسې[1] ، د احصایې له مخې چه هر کال; د سیاسي حقوقو او مدني آزادیو په برخه کښې کلنۍ سروې برابروي او هیوادونه پدې معیارونو ویشي پدې لسو ورستیو کلونو

---

[1] Freedom House

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې د هغو هیوادونو شمېر چه د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې آزاد ګڼل شوي ډېر زیات شوي دي.

د هیوادونو ویش د کال او سیاسي وضعیت پر اساس

| کال | آزاد | قسماً آزاد | غیر آزاد |
|---|---|---|---|
| ۱۹۸۳ | ۵۵ | ۷٦ | ٦٤ |
| ۱۹۹۳ | ۷۵ | ۷۳ | ۳۸ |

لاکن دا زړه خوښونکي پالیسي د نړۍ د هغې برخې د څېړنې لپاره چې د استبدادي شرائطو لاندې ژوند کوي رښتینې وضعیت غوره کوي. د کال ۱۹۹۳ په جنوري کښې د نړۍ د ۵,٤۵ میلیاردي ټولنې نه په سلو کښې ۳۱ د هغو حکومتونو د ډار لاندې ژوند کاوه چې پدې جدول کښې"غیر آزاد" ګڼل شوي دي. دا هغه هیوادونه دي چې ډېر سخت سیاسي محدودیتونه لري او پکښې د مدني آزادیو نه تخلف کیږي. دا، ۳۸ هیوادونه او ۱۲ منطقې چې د" غیر آزاد" په ډله کښې دي، لکه برما او سوډان د نظامي دیکتاتورۍ لاندې، عنعنوي مستبد پاچاهي رژیمونه ( لکه سعودي عربستان، او بوټان)، حاکمې سیاسي ډلې (لکه چین،عراق، شمالي کوریا) خارجي اشغالګران لکه تبت او ختیز تیمور، او یا انتقالي حکومتونو څنې عبارت دي.

اوس ډېر هیوادونه د چټکو اقتصادي، سیاسي او اجتماعي بدلونونو په حالت کښې دي. که څه هم د "آزادو" هیوادونو شمېر په تیرو لسو کلونو کښې ډېر شوي، ولې بیا غټ خطر شته چې دداسې چټکو بنسټیزو بدلونونو سره، ډېر هیوادونه به مخالفې لورې ته ولاړ شي ، او د دیکتاتورۍ څنې نوې ډولونه سره آخته شي. نظامي ډلې، قدرت غوښتونکي اشخاص ، انتخاب شوي رسمي کسان او عقیدوي سیاسي ډلې په وار واربه هڅې وکړي چه خپلې غوښتنې پر خلکو تحمیل کړي. کودتا ګانې اوس او په راتلونکي کښې به عموماً پېښیږي، او ډېر شمېر خلک به د اساسي، سیاسي اوبشري حقونو نه محروم کړی شي.

له بده مرغه، تېر وختونه اوس هم له مونږ سره دي. د دیکتاتورۍ د جنجال مسئله ژوره ده. خلک په ډېرو هیوادونو کښې په لسګونو کلونو یا پېړیو د کورنۍ او یا د باندني استبداد لاندې اوسیدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قدرت خاوندانو او حاکمانو ته اکثراً مطلق اطاعت له ډېر پخوا نه تلقین شوي دی . په افراطي حالاتو کښې، د ټولنې د کنترول لپاره،دولت یا حا کمه ډله اجتماعي،سیاسي، اقتصادي، او حتي دیني مؤسسات چې د دولت د اقتدار د حوضې نه د باندې هم دي قصداً کمزوری، د لاس لاندې او حتي د رژیم د یوې نوې مؤسسې په رنګ ئې اړوي. په داسې حالاتو کښې د هیواد نفوس اکثرآ په ځانګړي افرادو بېلیږي چې د آزادي غوښتونکي د ګډ کار،باور هم یو پر بل نشي کولی، او حتي پر خپل ابتکار هم کوم ګام نشي آخستلای. په نتیجه کښې، خلک کمزوري کیږي،د هغوی پر ځان باور، او د مقاومت توان له مینځه ځي. ډیر ځل خلک دومره ډاریږي چه خپل نفرت د مستبد رژیم نه او خپله تنده د آزادئ لپاره حتي خپل نژدې دوستانو ته هم نشي څرګندولی. اکثرآ خلک ډیر زیات ډاریږي چې په جدي توګه د عمومي مقاومت په هکله فکر وکړي، او وائي "چې مقاومت څه ګټه لري؟ ". په نتیجه کښې دوی بې هدفه رنځونه او نا امیده راتلونکې سره مخامخ کیږي.

نن سبا د دیکتاتوریو وضعیت د پخوا نه هم ډېر خراب شوی دی. پخوا ځني کسان مقاومت ښودل او هم لنډ مهاله مجموعي احتجاجونه او مظاهرې د خلکو له خوا صورت نیول. تا به ویل چه په خلکو کښې په موقتي توګه څه تازه روح زغلېدلې وه. کله به وګړي او یا ډ لګیو، زړور ولې کمزوري حرکات اجرا کوي، چه ځني قواعد ئې عملي کړی او یا ئې د مقاومت شتوالی نه ئې ښودنه کړی وي. که څه هم دا حرکتونه لوړ اصالت به درلودل ، ولې اکثرآ دا راز مقا ومتونه ددې لپاره چې د خلکو د ډار او اطاعت عا دت چې د مستبدو رژیمونو د مینځه وړلو لپاره لازمي شرط دی کافي نه ؤ. له بده مرغه، دا ډول حرکتونه، نه یوازې نه بریالي کېدل،بلکه هیله ئې هم د خلکو په زړونو کښې نه پیدا کول، حتي ځنې وخت رنځونه او وژنې هم لا پسې ډیرول.

**آزادي د تشدد د لارې نه:**

په دغسې حالاتو کښې، څه باید وشي؟ هغه څرګندې لارې چه اول ځل فکر ته راځي، بې ګټې ښکاري. د اساسي قانون او عدلي موانع، عدلي پریکړې، او د عوامو افکار عادتآ د دیکتاتورانو له خوا نه د پام وړ نه ګرځي. په ښکاره ډول، ظلمونه، شکنجې، د خلکو بې درکه کېدل ، او وژنو ته کتل, خلک دې نتیجې ته رسوي چه یواځې تشدد دیکتاتورئ پاي ته رسولي شي. کله سره لدې چه د قواو اندول د دیکتاتورانو په ګټه وي ،بیا هم پاریدلي قربانیان ځانونه سنبال کړي چه ظالم دیکتاتورسره په هره وسیله چه کولی شي جنګ وکړي. دا رنګه خلک اکثرآ په زړورتیا سره د لوړو انساني تلفاتو او سختیو د ګاللو سره جنګیدلي دي. ددوی لاس ته راوړنې کله د پام وړ او ډیر وچت وي، خو په ډیرو کمو حالاتو کښې دوی آزادي ګټلي دي. په تشدد سره سر غړونې او جګړه کیدلی شي چې د دیکتاتور له خوا نه د کلک ځپلو سبب وګرځي چې اکثرآ خلک به د پخوا نه ډیر بې وسې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تشدد د لارې انتخاب دلیل هر څه چې وي، خو بیا دا یو څرګند واقعیت دئ‌چې: د تشدد لاره غوره کول دا معني لري چې د مبارزې په داسې ډول مو زړه تړلی چې په هغې کښې نژدې د ټولو اړخونو نه استبداد تل تفوق لري. دیکتاتوران داسې مجهز دي چې دوی تشدد په لویه پیمانه کارولی شي. که څه هم، آزادي غوښتونکي که د اوږدې یا لنډې مودې لپاره مقاومت هم وکړي په پای کښې تریخ پوځي واقعیت به تحقق ومومي او مقاومت به ټوټې ټوټې شي. دیکتاتوران تقریباً تل په پوځي وسلې او تجهیزاتو، جبه خانه، انتقالات، او د پوځي قوت په شمېر کښې تفوق لري.او آزادي غوښتونکي، سره له زړورتوبه هیڅکله د هغوی انډول نشي کېدلی.

کله چې د جګړې معمولي شکل غیر عملي وپېژندل شو ځنې مخالفین بیا داړیزو جګړو ته مخه کوي. په هر حال، داړه ئېز جنګونه هیڅکله د ځپل شوو خلکو لپاره کومه ګټه نه درلوده او دیموکراسي لورې ته ئې لارښودنه نه ده کړې. داړه ئېز جنګونه د حل یوه روښانه لاره نشي کېدلی خصوصاً کله چې د خپلو خلکو باندې د درانده تلفاتو سبب ګرځي. سره له تائیدونکي نظریاتو او ستراتیژیکي تحلیلونو او ځنې اوقات بین المللي حمایې دا لاره د ناکامۍ نه مخنیوی نشي کولی. داړه ئېزجنګونه اکثراً ډېر زیات اوږدیږي. ملکي خلک اکثراً د اقتدار لرونکي حکومت له خوا د ډېرو انساني کړاونو سره د خپلې اصلي ټاټوبي نه بې ځایه کیږي. حتي که داړه ئیزې جګړې بریالی هم شي اکثراً ښکاره اوږد مهالې منفي جوړښتي عواقت لري.

فوراً نوی حکومت د ځان د ساتنې او متقابل تدابیرو لپاره نور هم دیکتاتوري کیږي. که ګوریلایان په پای کښې بریالي شي، د نظامي قوتونو د مرکزیت د پراخه کولو او د تولنې د خپلواکو ډلو او مؤسسو د کمزورې کولو او یا د مینځه تللو له آغیزې نه نوی رژیم د خپل مخکیني رژیم نه ډېر دیکتاتور کیږي. بیا به د دیکتاتورۍ مخالفین ددې نوې استبداد د مینځه وړلو لپاره بله نوې لاره ولټوي.

**کودتاوې،انتخابات او بهرني ژغورونکي:**

د یو پېژندل شوې منفور رژیم د لرې کولو لپاره ښائي چې نظامي کودتا نسبتاً ډېر آسان او چټکه لار ښکاره شي. خو په عمل کښې ددې لارې سره سخت مشکلات شته. د ټولو نه مهم دادی چې دا د قدرت نا مناسبه ویش د خلکو او د هغې ممتازې ډلې چې حکومت او د هغې وسله واله قوا په لاس کښې لري همغسې پاتې کیږي. د ځانګړي اشخاصو او ډلو لرې کول د حکومتي مقاماتو نه ډېر امکان لري چې محض د بلې ډلې د پاره د هغوی د ځای د نیولو لاره اواره کړی. په نظري توګه، دا نوې ډله ښائي چې په خپل حرکاتو کښې ملایم او په محدوده اندازه دیموکراتیکو اصلاحاتو ته غاړه کښیږدي، خو سره لدې، ددې برعکس احتمال لري چې تحقق ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د خپل د موضع د تحکیمولو نه ښائي چې نوې ډله د پخوانۍ ډلې نه ډېر بې رحمه او په قدرت مین وي. په پای کښې، نوې ډله چې ورته خلکو سترګې نیولي وو، بې له د ینه چې د بشري حقوقو او یا دیموکراسۍ پروا وکړي هر څه چه ئې زړه وغواړي, کوي به ئې. نو دا یو قبلونکې ځواب د دیکتاتورۍ په مقابل کښې نشي کېدلی.

ددیکتاتورۍ لاندې انتخابات د یو مهم سیاسي تغیر د وسیلې په حیث وجود نلري. ځنې دیکتاتوري رژېمونه ، لکه د پخواني شوروي اتحاد د اداري لاندې په شرقي بلاک کښې ددې لپاره چې دیموکراتیک ښکاره شي نمایشي انتخابات تر سره کوي. دا انتخابات اصلاً سخت کنترول شوي ټولپوښتني وي، چې د هغه کاندیدانو لپاره چې د دیکتاتور له خوا نه تعین شوي د خلکو تائید واخلي. دیکتاتوران چې د فشار لاندې راشي نو ځنې وختونه نوي انتخاباتو ته غاړه ږدي، خو بیا ملکي ګوډاګیان د حکومت په مقامونو ځای پر ځای او تیر ایستنه کوي. که مخالفو کاندیدانو ته اجازه ورکړي، چې په انتخاباتو کښې ګډون وکړي او فرضاً هغوی انتخابات وهم ګټي، له نتیجې نه به په آسانۍ سره مخ واړول شي او"بریالی" کاندید به وډارول، یا بندي او حتي اعدام شي. لکه چې په۱۹۹۰ کال کښې په برما، او په ۱۹۹۳ کال کښې په نایجرېا کښې واقع شو. دیکتاتوران به هیڅکله ونه غواړي چې دارنګه انتخاباتو ته اجازه ورکړي چې هغوی د خپل د باچاهی د تخت نه راوغورځوي.

اوس ډېر خلک د ظالمو دیکتاتوریو لاندې کړېږي ،او ځیني کسان بهرني هیوادونو ته د ځان د ژغورنې لپاره وتلي دي. دوی باور نه کوي چې دا د ظلم لاندې کړېدلي خلک ددې توان ولري چې پخپله د اسارت نه ځان خلاص کړي او فکر کوي، چې یواځې د نورو په اقدام باندې دوی نجات موندلی شي. دوی عقیده لري چې یواځې بین المللي مرسته به کافي وي چې دیکتاتوران نسکور کړي. دا نظریه، چې ځپل شوي خلک قادر ندي چې د ځان ژغورنې لپاره مؤثر اقدام وکړي د وخت د یوې مشخصې دورې لپاره څرګندېږي. څرنګه چې بیان شو، اکثراً ځپلي خلک نه غواړي او مؤقتآ د مبارزې توان هم نلري ځکه چې هغوی په خپل قدرت باندې چې یو ظالم دیکتاتور سره مقابله وکړي باور نلري، او کومه روښانه لاره چې دوی ته نجات ورکړي هم ورته نده معلومه.

پدې شرائطو کښې څرګنده ده چې یو شمېر خلک د خپلې د آزادۍد ارمان تر سره کول په نورو پورې تړلی بولي. دا خارجي قدرت به یا " د نړۍ عامه ذهنیتونه،" ملګري ملتونه، یو خاص هیواداو یا په هیواد کښې د موجود دیکتاتور پر ضد د بین المللي اقتصادي او سیاسي قوانینو تصویبول وي.

دا سیناریو به سترګوته په زړه پورې ښکاره شي، خو په بهرنی ناجي باندې زړه تړل ډېر خطرناکه عواقب لري. دارنګه اعتماد او زړه تړانه ښائي کاملا بې ځایه وي، او په حقیقت کښې هیڅ خارجي ناجي به وجود ونه لري چې عملاً دخالت وکړي. او که فرضاً یو خارجي قدرت د اوضاع د بدلولو لپاره راشي، بیا هم نه ښائي چې پرې باور وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته په بهرني قدرت باندې د اعتماد او مداخلې په اړه باید ځینې ترخه واقعیتونو ته اشاره وکړو:

- ددې لپاره چې خپل اقتصادي ګټې مخکښې ویسي اکثر وخت خارجي دولتونه یو دیکتاتور تحمل کوي، او یا حتي حمایه کوي ئې.

- همدارنګه پردي دولتونه، ددې پر ځای چې خپله وعده د بل هدف د لاس نه د ورکولو په بیه تر سره ، او د هغوی د آزادۍ لپاره کومک وکړي، بنائي چې وغواړي ددوی پر سر د دیکتاتور سره معامله وکړي.

- ځینې پردي دولتونه، د یو دیکتاتور په مقابل کښې یواځې هغه وخت اقدام کوي چې د هغه هیواد په اقتصاد،سیاست، یا وسله والو قوتونو باندې کنترول تاسیس کړي.

- پردي دولتونه عملاً هغه وخت د یو مثبت مقصد لپاره مداخله کوي، کله چې کورنۍ مقاومت ددیکتاتورۍ په لړزولو پیل کړی وي او د رژیم ظلمونه ئې نړیوالو ته په ډاګه کړی وي.

دیکتاتوری په لومړۍ مرحلې په هیواد کښې د قدرت د ویش د ډول په د لیل خپل ژوند ته دوام ورکوي. د هیواد خلک او ټولنه ډیر کمزوري دي چې دیکتاتورۍ ته جدي خطر ورپیښ کړي، او ثروت او قدرت د ډیرو لږو خلکو لاسونو کښې راټول شوی وي. که څه هم ، دیکتاتوري کیدای شي چې د بین المللي اقداماتو نه ګټه واخلي او یا ترې کمزورۍشي خو د هغوی د ژوندانه دوام اصلاً داخلي عواملو باندې تړلی دی.

بین المللي فشارونه کیدای شي چې ډیر ګټور تمام شي، خو کله چې دیوي زوروري کورنۍ تحریک ملا تړ وکړي. نو بیا د مثال په ټوګه، بین المللي اقتصادي تحریمونه ممنوعیتونه،

د دیپلوماتیکو اړیکو شکول، د یکتاتوري رژیم د بین المللي مؤسساتو نه اخراجول، د ملګري ملتونو د مختلفو برخو له خوا نه محکومول، او نور ډیر مرسته کولی شي. سره لدې، د یو زوروري کورنۍ مقاومتي تحریک په نشتوالي کښې د دارنګو اقداماتو صورت نیول به احتمال ونه لري، او که واقع هم شي دومره اغیزناکه به نه وي.

## د حقیقت سره مخامخ کیدل :

کله چې څوک وغواړي یوه دیکتاتوري په اغیزناکه ډول او په ډیر لږ مصرف نسکور کړي نو دا څلور وظیفي باید تر سره کړي:

- اول باید د ځپل شوي خلک اراده، پر ځان باور او د مقاومت کولو وړتیا او مهارت تقویه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ځېل شوو خلکو خپلواکه اجتماعي ګروپونه او مؤسسې ،( مذهبي، اقتصادي، کلتوري او نور ) باید تقویه شي.

- د مقاومت یو قوي داخلي قوت باید ایجاد شی.

- یو جامع او معقول ستراتیژیکي پلان باید طرح او د آزادۍ د ګټلو لپاره باید په مهارت سره پکار واچول شي.

د آزادۍ په جګړه ګښې د مبارزو قوتونو پر ځان باور او کورنۍ ټینګوالی پیاوړی کیږي. څرنګه چې چارلس ستیوارت پارنل، په ۱۸۷۹ او ۱۸۸۰ د آیرلیندیانو د کرایي په اعتصاب کښې ویلي ؤ;

"په دولت باندې اتکا هیڅ ګټه نه لري......باید یوازې پر خپلې ارادې تکیه وکړئ.........یو د بل څنګ ته د دریدلو سره د ځان سره کومک وکړئ..........خپلې کمزوري سره مرسته وکړئ............یو د بل سره اړیکې ټینګې ګړئ........ ځانونه متشکل کړئ..........او تاسې باید بریالي شئ.........کله چې دې خپله تقا ضا عملي کولو لپاره تیار کړ، وروسته د هغې نه به عملي شي.

د یو زورور او پر ځان باور لرونکې قوت، په معقولې ستراتیژۍ او کلک دسیپلین مجهز، زړور او اصیل اقدام په مقابل کښې به دیکتاتورۍ با لاخره نسکوره شي. خو لږ تر لږه پا سني څلور ګامونه باید لومړۍ واخستل شي.

څرنګه چې پورتنۍ څېړنې ښیي، په پای کښې د خلکو آزادي ددیکتاتورۍ نه، د دوی په قابلیت پورې اړه لري، چې غواړي ځانونه آزاد کړي. د سیاسي سر غړونې یا عدم تشدد د مبارزې بریالي حالتونه چې د سیاسي مقصدونو د لاس ته راوستلو لپاره په کار آچول شوي او مخکښې بیان شول ښیي چې د خلکو سره وسیلې شته چې ځانونه آزاد کړي، ولې دا لاره تر اوسه پوره انکشاف نه دی موندلی. مونږ به ددې لارې انتخاب په راتلونکې فصلونو کښې وڅیړو چې د عدم تشدد د مبارزې مؤثرې لارې وښودل شي. خو په سر کښې مونږ باید ددیکتاتورۍ د نسکورولو د یوې وسیلې په توګه د خبرو اترو مسئلې ته کتنه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل

## د مذاکراتو خطرونه

ځرنګه چې په اول فصل کښې وڅیړل شو، ځینې خلک د دیکتاتورۍ سره د مقابلې د سختو مشکلاتو له مخامخ کېدلو سره د بې وسۍ احساس کوي او دیکتاتور ته د منفي تسلیم خوا ته واوړي. یو شمېر نور کسان دیموکراسۍ ته د رسېدلو نه نا امیده کیږي او د دیکتاتورۍ حاکمیت قبلوي او هیله کوي چې د مصا لحې،روغې جوړې او مذاکراتو د لارې ، د خطر نه ځان بچ او ځناورتوبونه پای ته ورسوي. په ښکاره توګه کله چې خلک بله سمه چاره نشي پیداکولی نو دا لاره غوره کړي.

ځرنګه چې د ظالمو دیکتاتوریو په مقابل کښې جدي مبارزه کوم زړه راښکونکی کار ندی، نو ولې مونږ په داسې کار اقدام وکړو؟ آیا ټوک نشي کولی چې د منطق او خبرو اترو لار ونیسي او د مذاکراتو د لارې نه دیکتاتورۍ پای ته ورسوي؟ آیا دیموکراتان نشي کولی چې د دیکتاتورانو انساني احساس وپاروي او ورته قناعت ورکړي چې خپل تسلط په تدریج لږ او په پای کښې د بشپړدیموکراتیک حکومت د جوړېدو لپاره لاره اواره کړي؟

کله داسې استدلال کیږي چې حقیقت تل په یوه خوا نه وي. ښائي چې دیموکراتان دیکتاتوران ئې چې په سختو شرایطو کښې د مجبوریت نه روغ عمل کوي سم نه وي پېژندلاي. یا ښایي چې ځینې کسان فکر وکړي چې دیکتاتورانو به په خوښۍ سره ځان د قدرت نه پرې باسي، کله چې هیواد د ناوړو حالاتو سره مخامخ او ټوک دوی یواځې تشویق او ترغیب کاندي. ځینې کسان به وائي، چې دیکتاتورانو ته باید د وړل وړل لاره چې هر ټوک به ترینه څه لاس ته راولي، وړاندې شي.

دا به وویل شي چې د نوي جګړې خطر او کړاو به ضرور نه وي . که دیموکراتیکو ډلو وغواړي چې جنجال د سوله ایزې مذاکرې د لارې حل کړي ( کیداي شي چې د ا مذاکرې د ځینې پوهو کسانو او یا حتي د یو بل حکومت له خوا نه تر سره شي.) آیا دا لاره به په هغې سختې مبارزې باندې غوره نه وي ، چې که بې له نظامي جګړې نه حتي د عدم تشدد د لارې نه هم تر سره شي؟

### د مذاکرو ګټې او محدودیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې اترې د ځینې ډولونو جنجالي مسائلو د حل کولو لپاره ډېرې ګټورې وسېلې دي او په مناسبو حالاتو کښې باید هیڅکله هېر یا رد نشي.

په ځینې شرایطو کښې، کله چې کوم بنسټیز مسئله د بحث موضوع نه وي او روغه جوړه د قبلونې وړ وي نو مذاکره کېدلی شي چې د جنجال د حل لپاره یوه مهمه د حل وسیله وي. د کارګرانو اعتصاب د مزدوری د لوړولو لپاره یو ډېر ښه مثال کېدلی شي: د مذاکرې د لیارې یوه فیصله ښایي چې د دواړو خواؤ د لورې نه د یوي اندازې پیسې د زیاتولو تر مینځ وي چې د دواړو خواو نه د اعتصاب په پیل کښې وړاندې شوی وي. کارګري جنجالونه د یوي قانوني کارګري اتحادیي تر اداري لاندې، البته د هغې لانجې نه ډیر توپیر لري چې پکښې د یوي ظالمې دیکتاتورۍ د موجودیت او یا د سیاسي آزادي د تاسیس لپاره خبرې کیږي.

کله چې جنجال پر یوې بنسټیزې مسئلې لکه د مذهبي اساسات، د بشري آزادیو مسایل، یا د ګردې ټولنې انکشاف پورې تړلی وي نو مذاکرې د یوې دوه اړخیزې رضائیت بخښونکې حل ته د رسیدو لار نه ده ، ځکه چې ځینې بنسټیز مسایلو باندې مصالحه نشي کېدالی . یواځې د قدرت د اړیکو انتقال د آزادي غوښتونکو په ګټه کولی شي چې په بشپړ توګه اساسي مسا یل خوندي وساتي. چې دارنګه انتقال به د مبارزې د لارې نه صورت ونیسي نه د مذاکرې د لارې نه.

دا نو پدې معني نه ده چې د مذاکراتو نه باید هیڅکله ګټه وانخلو، خو دلته مقصد دادی چې مذاکرې د یوي پیاوړې دیموکراتیک مخالفې ډلې په نشتوالي کښې یوه قوي دیکتاتوري په واقعیت سره د مینځه نشي وړلی.

مذاکرات ښائي په ډیرو حالاتو کښې البته د انتخاب وړ نه وي ، ځکه هغه دیکتاتوران چې موقعیت ئې ډیر مستحکم او ځانونه ډیر خوندي ګڼي حاضر به نشي چې خپلو کورنې مخالفینو سره خبرو اترو ته کښیني او یا کله چې مذاکرې پیل شي نو آزادي غوښتونکي مذاکره چیان به له مینځه ورک کړي چې بیا ئې هیڅ درک ونه لګیږي.

## تسلیمید ل، د مذاکراتو د لارې نه

هغه کسان او ډلې چې د دیکتاتورۍ مخالفت او د مذاکراتو پلوي کوي اکثرآ ښه دلیلونه لري، خصوصآ کله چې د یوه ظالمه دیکتاتورۍ په مقابل کښې په کلونو روانه مبارزه بې له کوم بریالیتوب نه دوام لرلی وي. البته دا د پوهیدلو وړ ده چې ټول خلک که د هرې سیاسي ډلې او عقیدې خاوند وي سوله غواړي. دیموکراتانو هغه وخت د مذاکراتو ډیر غوښتونکې وي چیرته چې دیکتاتورانو په ښکاره ډول په نظامي اړخ کښې تفوق ولري او تخریب او تلفات نور ورته د تحمل وړ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې حالت کښې، يوه زوروره وسوسه پيدا کيږي چې هره بله لاره چې د آزدي غوښتونکو ځينې هدفونه خوندي، او تشدد او متقابل تشدد پای ته ورسوي غوره وګڼل شي.

د ديکتاتورۍ له خوا نه د مذاکراتو په وسيله آزادي غوښتونکو ته د سولې وړانديز يوه رياکارانه عمل دی. تشدد ډير چټک کولی شي چې پای ته ورسيږي ، يواځې که هغوی د خپلو خلکو پر ضد د جنګ د اعلان نه لاس واخلي. که هغوی وغواړي بې له هيڅ ډول معاملې نه د بشر حرمت او حقونو ته په احترام، د بنديانو په پرېښودلو،دشکنجو په بندولو، د عسکري عملياتو په درولو، د حکومت نه په لاس آخستلو، او د خلکو نه د بخښنې په غوښتلو پر خپل ابتکار سر ته رسولی شي. کله چې ديکتاتوري قوي وي خو يو پارونکې مقاومت هم موجود وي، ښايي چې ديکتاتور د سولې د بهانې لاندې وغواړي مخالفين د مذاکراتو د لارې نه ځان ته تسليم کړي. مذاکراتو ته دعوت به په غوږونو ښه لګيږي خو د خبرو اترو په کوټې کښې ډير خطرونه به پټ موجود وي.

د بلې خوا نه کله چې د مقاومت نهضت ډير زيات پياوړی او ديکتاتوري په رښتيا سره د تهديد لاندې وي، نو ديکتاتوران به احتمالاً زيار وباسي چې د مذاکرې د لارې تر ممکن حده پورې پر هيواد باندې خپل کنترول ټينګ او خپلې شتمنې خوندي وساتي. آزادي غوښتونکې په هيڅ حالت کښې نه ښائي چې د ديکتاتورانو سره د هغوی د اهدافو د تر سره کولو لپاره مرسته وکړي.

ديموکراتان بايد په ډير ځير سره هغو تلکونو ته متوجه وي چې عملاً د ديکتاتورانو له خوا نه د مذاکراتو په تګ لارې کښې ځای پر ځای شوي دي. د ديکتاتورانو له خوانه آزادي غوښتونکې مذاکراتو ته رابلل، کېدای شي، چې دارنګه هڅه وي چې ديموکراتان په سوله ايز ډول ځان ته تسليم کړي، په داسې حال کښې چې د هغوی قوتونه خپل تشدد ته دوام ورکوي. پدې ډول تصادماتو کښې د مذاکراتو رول په هغه صورت کښې پر ځای دی چې د استبداد قوتونه په بشپړ ډول تخريب او خپله ديکتاتوران يوې بين المللي هوائي ډګر ته د خوندي تيريدلو په تکل کښې وي.

## په مذاکراتو کښې قدرت او عدالت

که د مذاکراتو په برخه کښې پورتنی قضاوت ځير او سخت ښکاري، ښايي چې ځينې رومانتيکي نظريي چې د هغو سره اړه لري تعديل شي. د خبرو اترو د څرنګوالي په برخه کښې روښانه فکر کول پکار دی.

خبرې اترې پدې معنی نه دي چې دواړه خواوې د برابرۍ د اساساتو سره سم يو ځاي سره کښيني او د مذاکرې د لارې نه،هغه اختلاف چې د جنجال سبب شوي دی حل کړي. پدې برخه کښې دوه واقعيتونه بايد په نظر کښې ونيول شي. لومړۍ دا چې په مذاکراتو کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختلفو نظریو نسبي عدالت او انصاف ندي چې د مذاکراتو په وسیله د موافقې محتوا تعینوي. دوهم دا چې د موافقې محتوا د دواړو خواوو په زور او قدرت پورې اړه لري.

په راتلونکې کښې څو مشکل سوالونه باید په نظر کښې ونیول شي، لکه هره خوا به څه وکړی شي چې خپل هد ف لاس ته راولي که د مذاکرې پر مېز مقابل لوری ورسره جوړ رانغی؟ هره خوا به څه وکولی شي که وروسته د موافقې نه بل لوری خپله خبره ماته او سره د موافقې نه په زوره خپل هدف تر لاسه کړي.

معمولاً په مذاکراتو کښې، توافق ته د مسایلو سمو او ناسمو څېړنو ځینې نه رسېږو، که څه هم ډیرې خبرې به پرې وشي. خو د مذاکراتو اصلي نتیجه د مخالفو خواوو د مطلق او نسبي قوت د څېړنې نه په لاس راځي. آزادي غوښتونکي څه کولی شي تر څو ډاده شي چې د خپلو غوښتنو د ډیر لږ حد نه هم نه محرومیږي؟ دیکتاتوران څه کولی شي چې دیموکراتان بې اغېزې کړي او خپله په کنترول کښې پاتې شي؟ په بل عبارت، که یو توافق حاصل شي، دا ډیر احتمال لري چې به د دواړو خواوو د قدرت او ظرفیت د مقائسې نتیجه وي او وروسته به محاسبه وشي چې څرنگه یو ښکاره جنجال به ښايي چې پای ته ورسیږي.

همدارنگه، باید توجه وشي چې دواړو خواوو د موافقې د رسیدلو لپاره د کوم شي نه غواړي چې تیر شي. په بر یالیو خبرو اترو کښې مصالحه او د اختلافاتو نیمائي کول صورت نیسي، هره خوا یوه برخه د هغه څه نه آخلي چې ئې غواړي او د خپل د هدف د یوې برخې نه تیریږي. د مطلقو دیکتاتوریو په شرایطو کښې آیا د دیموکراسی پلویان د څه نه دیکتاتورانو ته تېرېدلی شي؟

د دیکتاتورانو کوم هدفونه د دیموکراسئ پلویانو ته د منلو وړ دي؟ آیا آزادي غوښتونکي غواړي چې دیکتاتورانو ته( یوه نظامي او یا سیاسي ډله) د اساسي قانون په اساس د هیواد د حکومت په راتلونکې کښې یو دایمي رول ورکړي؟ پدې کښې نو بیا دیموکراسي چېرې دی؟

فرض کوو چې خبرې اترې ښه پر مخ لاړ هم شي، خو بیا باید پوښتنه وکړو: سوله څرنگه به په نتیجه کښې لاس ته راشي؟ آیا وضعیت به د هغه وخت نه چې آزادي غوښتونکې مبارزه ئې پیل کړی ؤ او یا ئې مبارزه کوله ښه وي او یا خراب؟

## د توافق وړ دیکتاتوران

دیکتاتوران ښائي چې د قدرت د غصبولو لپاره مختلف محرکې او نیتونه ، لکه مقام، اقتدار، ثروت، د ټولنې بیا تشکیلول او نور ولري. مونږ باید پوه شو، چې که دوی قدرت د لاسه ورکړ نو ټولې هیلې به د لاسه ورکړي. د مذاکراتوپه مهال به دیکتاتوران هڅه وکړي چې خپل هدفونه په لاس وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څه چې د روغې په خبرو اترو کښې د د یکتا تورانو له خوا نه وړاندې کیږي،بیا هم هیڅوک باید هېر نکړي چې دیکتاتوران به هره وعده ورکړي تر څو خپل دیموکرات مخالفین ځان ته تسلیم کړي، او وروسته به په بې شرمۍ سره د همغو موافقو نه سر وغړوي. که آزادي غوښتونکي ومني چې مقاومت بند کړي چې په مقابل کښې به د دوي ټکول هم د د یکتاتورانو له خوا نه بند شي نو نتیجه به ئې سخته نا امیدي وي. د مقاومت بندول په ډیرو لږو حالا تو کښې د مقابل لوري نه فشار کموي. کله چې کورنۍ او بین المللي مخ نیونکي قوتونه لرې شول دیکتاتوران به خپل فشار او تشدد به له پخوا نه نور هم زیات کړي. د عمومي مقاومت ماتیدل معمولاً هغه قدرت چې د د یکتاتور له خوا نه تشدد او کنترول ئې محدود کړی له مینځه وړي. مستبد حاکم پدې حالت کښې د هر چا په مقابل کښې چې وغواړي عمل کوي. ځرنګه چې کرشنا لال شرید هاراني ویلي:

مستبد حاکم یوازې هغه وخت مونږ ته ضربه راکولي شي چې په مونږ کښې د مقابلې توان لږ وي.

کله چې بنسټیز او حیاتي مسایل تر مینځ وي، نو مقاومت پکار دی نه مذاکرات. مقاومت د دیکتاتور د قدرت نه د بشپړ لاس آخستلو پورې باید دوام وکړي. بریالیتوب اکثرآ د خبرو اترو نه،نه بلکه د مقاومت د ټولو موجودو قوي وسایلو په عاقلانه او مناسب استعمال باندې لاس ته راځي.

زمونږه بحث ځرنګه چې په راتلونکو فصلونو کښې به په مفصله توګه دوام وکړي دادی په سیاسي سرغړونه یا د عدم تشدد مبارزه د هغو ولسونو لپاره چې د خپلې آزادۍ لپاره جګړه کوي، ډیره زورورده وسیله ده، چې په لاس ئې لرو.

## ځرنګه سوله

که چیرې دیکتاتوران او آزادي غوښتونکي غواړي چې د سولې په اړه یو بل سره وغږیږي نود هغو خطرونو لپاره چې مخکښې شته، فوق العاده روښانه او دقیق فکر کول پکار دی. هر هغه څوک چې د " سولې" کلمه پر ژبې راوړي، مقصد ئې سوله د عدالت او آزادۍ سره نه وي.

د ظلم په مقابل کښې مطلق اطاعت،او د ظالمو دیکتاتورانو منفي متا بعت چې د سل هاوو زرو انسانانو په برخه کښې بې رحمۍ کړي حقیقي سوله نه ده. هیټلر اکثرآ د سولې خبرې کولې چې مقصد ئې د هغه ارادي ته تسلیمیدل ؤ. د یو دیکتاتور سوله د بندیخانې یا د هدیرې د سولې نه کوم زیات شی نه دی. نور خطرونه هم شته. صادقه مذاکره کونکي هم کله کله د مذاکرې هدفونه او د خبرو اترو جریان ګډ وډ کړي. دیکتاتوري نظامونه چې خپل حقانیت ئې د دولت د غصبولو، د بشري حقونو نه د تخلف او بیرحمیو له امله له لاسه ورکړی کېدای شي دیموکراتیکي مذاکره کونکي یا باندني کار پوهان چې د مذاکراتو د تر سره کولو لپاره مرستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته را بلل شوي په يوه خبره ورته بين المللي مشروعيت ورکړي. بې لدې مشروعيت نه چې ديکتاتوران ورته سخت ضرورت لري، هغوی نشي کولی چې خپلې حکمرانی ته تر نا معلوم وخته پورې دوام ورکړی. د سولې آستازې بايد هيڅکله ديکتاتورانو ته قانوني مشروعيت برابر نکړي.

## د اميدواری لپاره دليلونه:

څرنګه چې مخکښې وويل شو، د مخالفو قوتونو رهبران د ديموکراتيکو مبارزو نه د نا اميدئ له امله خبرو اترو ته غاړه ږدي. لاکن د نا اميدئ او ضعف دا احساس د بدلولو وړ دی.
ديکتاتوري د تل دپاره نه وي. هغه خلک چې د ديکتاتوری لاندې ژوند کوي نه ښائي چې ضعيف پاتې شي، او هم ديکتاتورانو ته بايد اجازه ور نکړل شي چې تر نا معلوم وخته پورې د زور خاوندان و اوسيږي.

آرسطو، قرنونه مخکښې ويلي ؤ "اوليګارشي او استبدادي حکومتونه د نظامونو په ډولونو کښې ډير لنډ عمر لري. د تاريخ په اوږدو کښې مستبد حکومتونه هيڅکله اوږد عمر نه درلود."

اوسني ديکتاتوری هم کمزورتياوې لري، مونږ کولی شو چې دغو کمزورتياو ته لمن ووهو اود ديکتاتور قدرت ټوټې ټوټې کړو. ( په څلورم فصل کښې به مونږ دا ضعيفې نقطې مفصلاً وڅيړو)

موجوده تاريخ د ديکتاتوری کمزورتياوې مونږ ته راښئي او دا حقيقت څرګندوي چې استبدادي رژيمونه نسبتاً د زمان په لنډې مودې کښې ټوټې ټوټې کيدلی شي. يوائې لس کاله د

(۱۹۸۰ تر ۱۹۹۰) پکار ؤ چې کمونيستي ديکتاتوری په پوليند - ختيز المان کې نسکوره او په چکوسلواکيا - کښې چې په ۱۹۸۹،پيښ شو ، په څو هفتو کښې دړې وړې شي. په کال ۱۹٤٤، په السلوادور او ګواتيمالا کښې د ظالمو چمتو نظامي ديکتاتورانو د پرزولو لپاره تقريباً د هر يو لپاره دوه هفتې مبارزه پکار وو. د ايران د پاچا ډير پياوړی رژيم په څو هفتو کښې ونړېده.

کله چې د مخالفينو زور په پلپاين کښې د مارکوس د ديکتاتوری په مقابل کښې څرګند شو، نو د امريکې حکومت په بيړه خپله حمايه ئې پرې بنده اوپه ۱۹۸٦ کال کښې په څوهفتو ( اونی) کښې ړنګ شو. په پخواني شوروي اتحاد کښې، کله چې سخت دريزو د ۱۹۹۱ کال د آګست په کودتا اقدام کول، نو د سياسي سر غړوني په وسيلې د څو ورځو په مدې کښې شنډه شوه. وروسته بيا ډير رای ورکونکي چې ډير کلونه د ظلم سلطې لاندې وو يوائې د څو ورځو ، هفتو، يا مياشتو خپلواکي ئې لاس ته راوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زوړ باور چې تشدد تل چټک او عدم تشدد تل ډېر وخت د بریالیتوب لپاره ضرورت لري په هیڅ شکل سم نه دی.که څه هم د ټولنې په لاندنې برخه کښې تغیر راوستل، ډېر وخت پکار لري،خو د عدم تشدد د مبارزې په اصول حقیقي جګړه د دیکتاتورۍ په مقابل کښې نسبتآ چټک پر مخ ځي.

د یوې اوږدې ورانونکې جګړې نه د ځان ژغورلو لپاره خبرې اترې د یوې خوانه او یا دیکتاتورته تسلیمید ل د بل خوا نه یواځینۍ لارې نه دي. هغه مثالونه چې اوس وړاندې شول ، او هم هغه مثالونه چې په لمړي فصل کښې وښودل شول راښیي چې د هغوی لپاره چې دواړه سوله او آزادي غواړي بله لار هم شته: چې سیاسي سر غړونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

## قدرت له کومه راځي ( د قدرت منابع )

: د سولي د لارې نه آزادئ ته رسېدل کوم آسانه کار نه دی. دا ډول مبارزه، ستراتيژيکي پوهې، تشکيلات او پلان جوړولو ته ضرورت لري، او د ټولو نه مخکښې قدرت ته ضرورت لري. که ديموکراسي غوښتونکي دا ورتيا ونه لري چې خپل قدرت او امکانات په آغيزه ناکه ډول پکار واچوي، نو نشي کولی چې ديکتاتوري رنگ او پر ځای ئې سياسي آزادي تاسيس کړي. دا څرنګه کېدلی شي؟ آزادي غوښتونکي کوم ډول قدرت سمبالولی شي چې د ديکتاتورئ او د هغه د پراخې سياسي شبکې د ويجاړولو لپاره کافي وي ؟

ددې پوښتنې ځواب د سياسي قدرت په پوهېدلو پورې اړه لري چې اکثرآ د پاملرنې وړ نه ګرځي. په رښتيا سره، دې مطلب باندې پوهېدل کوم ګران کار نه دی، او ځينې اساسي واقعيتونه پکښې خورا ساده دي.

### د بيزوګانو د خاوند کيسه:

د څورلسمې پېړئ چينايي مثال چې د ليو-جي، له خوا ورکړل شوی، د سياسي قدرت د اهميت پوهېدل يي خورا ښه تشريح کړی دی.

" د چو، په فيوډالي سيمه کښې، يو زوړ سړی د بيزوګانو نه د کار آخستلو د لارې نه ژوند کاوه،او د چو خلکو به ورته"جوګانګ" يعنې د بيزوګانو خاوند ويل.

هر سهار زوړ سړی، بيزوګان به خپلې حويلئ کښې راټولول او مشر ته به ئې امر ورکړو چې ټول غره ته د بوټو او د ونو نه دمېوو د راټولولو لپاره وخېژوي. دا قانون ؤ، چې هر بيزو د خپلې ټولې کړې ميوې نه لسمه برخه زوړ سړي ته ورکړي، او که چا نه ؤ ورکړی نو بيا په بېرحمئ سره وهل او ټکول کېده. ټول بيزوګان ددې ظلم نه د خپل د ژوند نه بېزاره وو، خو يو هم د شکايت جر ئت نه درلوده.

يوه ورځ يو کوچنی بيزو د نورو بيزوګانو نه يې پوښتنه وکړه، چې " آيا زوړ سړی دا ونې او بوټې ئې کښېنولي دي؟ " نورو ځواب ورکړو چې نه " دا ونې او بوټې پخپله شنه شوي دي."

کوچنی بيزو بيا پوښتنه وکړه: " آيا مونږ بې د زاړه سړي د اجازې نه مېوې ټولولی نه شو؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ځواب ورکړ: " چې هومونږ ټولولی شو ." کوچنی بیزو دوام ورکړ: "نو، ولې مونږ د زاړه سړي پورې تړلي اوسو; ولې مونږ ټول د هغه په خدمت کښې اوسو؟ " مخکښې له دې نه چې کوچنی بیزو خپلې خبرې پای ته ورسوي، ټول بیزوګان ناڅاپه ، په مطلب پوه او ویښ شوي وو.

په همغې شپې کله چې زوړ سړی ویده شو، بیزوګانو د خپلې بندیخانې دیوالونه ئې ونړول او ټول ئې وران او ګډ وډ کړل. او هغوی ټولې مېوې چې زوړ سړي په خپلې زیرمې کښې در لوده ځانونو سره ځنګله ته ویوړل،او بیا هیڅکله بېرته رانغلل. زوړ سړی په پای کښې د لوږې نه مړ شو. یو- لي - ځي ، وائي " په نړۍ کښې ځینې کسان خپل خلک په چل اداره کوي نه په عادلانه قانون. آیا دوی لکه د بیزوګانو د خاوند پشان نه دي. په رښتیا سره دا خلک د خپلې نا پوهۍ نه خبر ندي. خو کله چې د دوی خلک دوی وپېژني، نو بیا د دوی چلونه کار نه ورکوي.

## د سیاسي قدرت ضروري سر چینې

اصل د موضوع ساده ده . دیکتاتوران د هغو خلکو مرستې او همکارۍ ته اړ دي چې دوی یې اداره کوي، اوبې له دې نه دوی د سیاسي قدرت منابع نشي اداره کولی.

**د سیاسي قدرت سر چینې دادي:**

- مشروعیت، د خلکو په مینځ کښې باید عمومي عقیده موجود وي چې حکومت قانوني دی او خلک یو اخلاقي وظیفه لري چې ورنه اطاعت وکړي.

- انساني منابع، د هغو کسانو او ډلو شمېر او اهمیت چې د حکومت نه اطاعت کوي، ورسره همکاري او ورته کومک برابروي.

- مهارت ( وړتیا) او پوهه، د معینو او مشخصو کارونو د اجرا لپار رژیم ورته اړ دی او د هغو اشخاصو له خوانه تهیه کیږي چې د حکومت سره همکاري کوي.

- غیر عیني عوامل، روحي او عقیدوي عوامل چې خلک وهڅوي چې د رژیم نه اطاعت او ورسره مرسته وکري.

- مادي منابع، په هغه اندازه چې حاکم کنترول او یا لاس رسي پر املاکاتو، طبعي منابعو، مالي منابعو، اقتصادي سیستم، او د ارتباط او ترانسپورت پر وسایلو لري; او

- جزاګانې، جریمې او تهدیدونه چې د بې اطاعتو او همکاري نه کونکو خلکو په برخه کښې ددې لپاره عملي کیږي چې د هغوی همکاري او اطاعت چې د رژیم د بقا لپاره د هغه د ورځني کارونو د پر مخ بیولو لپاره ضروري دی تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا ټول منابع د رژيم په قبلولو، او ورنه د خلکو اطاعت او دهغوی په تسليمېدو، او د بې شمارو خلکو او د ټولنې د ډېرو مؤسساتو په همکارۍ پورې تړلې دی. دا منابع تضمين کيدلی نشي.

بشپړ همکاري، د خلکو اطاعت او حمايت د قدرت د منابعو شته والی زياتوي او په نتيجه کښې دهر حکومت د قدرت ظرفيت ډېروي.

له بلې خوا د خلکو او مؤسساتو همکاري د تيري کونکي او يا ديکتاتور نه آخستل، د هغوی د قدرت منابع چې ټول حاکمان ورپورې تړلي دي کموي او يا په بشپړه توگه له مينځه وړي. بې له دې منابعو د موجوديت نه د حاکم قدرت کمزوری کيږي او په پای کښې له مينځه ځي.

طبعآ ، ديکتاتوران د هغو اقداماتو په وړاندې چې ددوی خپلواکي تهديدوي حساس دي. نو ديکتاتوران هغه کسان چې ددوی امر نه مني، مظاهرې کوي، او يا ورسره همکاري نه کوي

غواړي چې تهديد او مجازات کړي. ولې خبره دلته پای ته نه رسي. ټکول حتي وحشتونه هم تل په کافي اندازه بدلون نه راولي چې د خلکو هغومره همکاري تر لاسه کړي چې د رژيم د بقا لپاره په کار ده.

که سره د ځپلو او ټکولو، د قدرت منابع د کافي وخت لپاره بيا هم محدود او يا جلا پاتې شي نو نتيجه به يې د ديکتاتورۍ په ننه کښې وار خطايي او فکري گډ وډي وي. ددې حالت نه وروسته احتمال لري چې د ديکتاتورۍ د قدرت کمزورتيا بربنده شي. د وخت په تيريدو سره، د ديکتاتوريو نه د قدرت د منابعو ايسارول به رژيم فلج او کمزوری، او په وخيمو حالاتو کښې به ئي ټوټې ټوټې کړي. د ديکتاتور قدرت به ورو ورو او يا ژر د سياسي قحطۍ نه ومري. په هر حکومت کښې د آزادۍ او يا ديکتاتورۍ اندازه تر ډېره حده پورې د هغه د ولس د نسبي غوښتنې انعکاس دی چې غواړي آزاد واوسي، او هم د هغوی غو ښتنه او توانايي پورې چې د هغه هڅو په مقابل کښې مقاومت وکړي چې غواړي دوی مريان کړي.

د عمومي عقيدې پر ضد، حتي هغه ديکتاتوري چې د خلکو د ژوندانه ټول اړخونه يې د کنترول لاندې راوستي بيا هم د خلکو او ټولنې پورې تړلي دي. څرنگه چې د سياسي علومو پوه، کارل ډبليو ډاچ، په کال ۱۹۵۳ ويلي:

" انحصاري قدرت تر هغه وخته قوي دی چې د هغې نه ډېر کار وانه خيستل شي. که چېرې انحصاري قدرت هميشه د ټول جميعت په مقابل کښې بايد استعمال شي نو دا احتمال نلري چې تر اوږدې مودې پورې په قدرت کښې پاتې شي. څرنگه چې انحصاري رژيمونه نظر د حکومتونو نورو ډولونو ته ډير قدرت ته ضرورت لري چې خپلو خلکو سره معامله وکړي، نو دارنگه رژيمونه د خلکو پراخو همکاريو ته هم اړ دي. برسيره پردې، هغوی بايد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورت په وخت کښې وکولی شي چې د ټولنې د لوئې برخې پر فعال حمايت باندې ډاډ ګيرنه ولري."

جان آستن، د انګلستان د ۱۹ پيړۍ قانون پوه د هغه ديکتاتورۍ وضعيت چې د خپلو خلکو نارضايتي سره مخامخ دی تشريح کړی دی. آستن وايي، چې که د خلکو اکثريت تصميم ولري چې حکومت وران کړي او چمتو وي چې پدې لاره کښې ځور هم قبول کړي،نو د حکومت او پلويانو هلې ځلې ئې به يو منفور حکومت، حتي که بهرنی مرسته هم ورته ورسيږي،هيڅکله به هم ونشي ټينګولی. آستن نتيجه آخلي چې د حکومت نه سرغړونکي خلک د تل لپاره اطاعت او انقياد ته مجبوريدلی نشي.

نېکولو ماکياولي، هم مخکښې له دې نه استدلال کړی ؤ چې که شهزاده " .....ټول خلک په خپل مخکښې لکه دښمنان لري، هېڅکله به هم ځان مأمون نکړي، او هر څومره چې ډېر ظلم وکړي رژيم به ئې نور هم کمزوری شي.

په سياست کښې ددې نظرياتو عملي په کار آچونه د ناروې د خلکو له خوانه په اتلولۍ سره د نازي اشغال په مقابل کښې، او لکه چې په لمړي فصل کښې بيان شو د زړورو پوليندیانو، جرمنانو، چکانو، سلواکانو، او د ډيرو نورو د کميونيست د تيري او ديکتاتوری په مقابل کښې عملي شوي، چې په يورپ کښې با لآخره د کمونيزم د ړنګېدلو سبب وګرځېد. البته دا يوه نوې پيښه نه ده: د عدم تشدد د مقاومت موارد لږ تر لږه تر ٤٩٤ ق م . پورې سابقه لري ، کله چې خلکو خپله همکاري د خپلو رومي شهزادګانو باندې بند کړل. د عدم تشدد مبارزه د تاريخ په مختلفو مرحلو د خلکو له خوا نه په ټوله آسيا، افريقا، شمالي او جنوبي امريکا، آستراليا او د بحرالکاهل په جزايرو او همدارنګه په يورپ کښې پکار آچول شوی دی.

درې ډير مهم عوامل چې د يو حکومت د قدرت د کنترولېدلو او نه کنترولیدلو امکانات ښيي :

۱. د خلکو نسبي غوښتنه چې د حکومت قدرت د تهديد لاندې راولي.

۲. د خلکو،آزادو تشکيلاتو او مؤسساتو نسبي طا قت چې په ډله ئيزه توګه د قدرت منابع په ديکتاتورۍ وتړي.

۳. د خلکو نسبي وړتيا چې خپله موافقه او مرسته په ديکتاتورۍ بند کړي.

## د ديموکراتيکي قوتونو مرکزونه

د ديموکراتيکي ټولنې د مشخصاتو نه يو دادی چې هلته يو شمېر آزاد غير دولتي ډلې او مؤسسې وي، چې د مثال په توګه عبارت دي د کورنيو، ديني تشکيلاتو، کلتوري اتحا ديې، سپورتي کلپونه، اقتصادي مؤسسې، کارګري اتحاديې، د زده کونکو اتحاديې، سياسي ډلې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلو د ګاونډيتوب اتحاديې، د باغوانۍ کلبونه، د بشري حقونو تشکيلات، د موسيقي ګروپونه، ادبي ټولنې او نور.

داسې مؤسسې،که د يوې خوا نه خپل هدفونه پر مخ بيايي همدارنګه د ټولنې اړتياؤ ته هم ځواب وايي.

برسيره پر دې، دا مؤسسې خورا ستر سياسي اهميت هم لري. دوی ډله ئيز يا مؤسساتي مرکزونه برابروي چې خلک د هغې په واسطه وکولی شي چې د خپلې ټولنې په جهت ورکولو تاثير ولري،او د نورو ډلو او دولت په مقابل کښې- خصوصآ کله چې دوی پوی شي چې په غير عادلانه توګه د هغوی په ګټو، فعاليتونو او مقاصدو باندې تجاوز کوي مقاومت وکړي. هغه کسان چې ددې تشکيلاتو نه بهر دي معمولآ نشي کولی چې په نورې ټولنې باندې کوم مهم تاثير واچوي، حکومت او ديکتاتوري خو يوه خوا پرېږده.

په نتيجه کښې که چيرې ديکتاتور ددې مؤسسو آزادي او استقلال سلب کړي، خلک به نسبتآ کمزوری شي. او هم که دا مؤسسې په ديکتاتوري ډول د مرکزي رژيم له خوا کنترول شي او يا په نوي کنترول شوي مؤسساتو بدل شي نو استبداد بيا به وکولی شي چې دواړه ځانګړي غړي او هم هغه برخه د ټولنې چې دا مؤسسې ورسره اړيکې لري کنترول او په خپلې خوښې اداره کړي.

په هر حال، که آزادي او استقلال ددې خپلواکې مؤسسې (چې د دولت د کنترول نه د باندې دي) وساتل شي او يا بيرته تر لاسه شي ، نو دوی به د سياسي سر غړونې په کار آچولو باندې به ډيرمهم اغيزه واچوي. ټول مثالونه چې د ديکتاتورۍ د ړنګېدلو او يا کمزورې کيدلو په برخه کښې پدې کتاب کښې بيان شوي د خلکو او يا په دوی پورې د مربوطو مؤسساتو له خوا په زړور توب سره د سياسي سر غړونې د پراخې پکار آچونې مشترک مثالونه دي.

څرنګه چې وويل شو، د قدرت دا مرکزونه د هغو مؤسساتو بنسټونه جوړوي چې د هغوی نه خلک په ديکتاتوری باندې فشار آچولی شي او يا د ديکتاتورۍ د کنټرول مخه ونيولی شي. په راتلونکې کښې دا تشکيلات  به د خپلواکې ټولنې يو ضروري برخه وي. نو ددې مؤسساتو دوامداره آزادي او وده د آزادي غوښتنې د مبارزو لپاره شرط دی.

که ديکتاتورۍ د ټولنې د خپلواکو مؤسساتو په کنترولولو باندې ډيره بريالی وي دا به د آزادي غوښتونکو لپاره مهمه وي چې نوی آزاده ټولنيزې ډلې او مؤسسې مينځ ته راولي، او يا ديموکراتيکي کنترول د آزادو پاتې شوو او يا نيمه آزاد پاتې شوو مؤسسو باندې تاسيس کړي.

د هنګري د ۱۹۵٦ ـ ۱۹۵۷ کال د انقلاب په ترڅ کښې د مستقيمې ديموکراسۍ يو شمېر شوراګانې را ښکاره شول، حتی سره يو ځای شول چې د ځو هفتو لپاره د مؤسساتو او حکومت يو مکمل فيدرالي سيستم تاسيس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پولیند کښې، د ۱۹۸۰ ، د لسیزې په وروستیو کښې، کارګرانو د پیوستون غیر قانوني اتحادیي جوړې کړې، او په ځینې حالاتو کښې د کار ګرانو د اتحادیي کنترول یي هم په لاس ونیول چې رسماً د کمیونیست د حزب د اداري لاندې ؤ. د مؤسساتو دارنګه انکشافات کېدلی شي چې ډیرې مهمې نتیجې تر شا ولري.

البته دا ټولې خبرې پدې معني نه دي چې د استبداد کمزورې کول او یا ړنګول یو آسانه کار دی او دا هم باید فکر ونشي چې هر اقدام به په بریالیتوب پای ته ورسیږي.. په غټ باور سره، دا مبارزه به بې له سر ښندني نه هم نه وي. هغوی چې د دیکتاتورۍ لپاره خدمت کوي ډیر احتمال لري چې پدې نیت متقابله حمله وکړي چې خلک مجبوره کړي چې بیا د دیکتاتورۍ سره همکاري او ورته اطاعت وکړي.

د قدرت په اړه پورتنۍ نظریه پدې معنی ده، چې د هرې دیکتاتورۍ قصدي تجزیه او ټوټې کیدل ممکن دی. دیکتاتوري په خاصه توګه مشخص خواص لري، چې هغی ډیر زیات د سیاسي سرغړونې د ښه تطبیقولو په مقابل کښې زیان منونکی ګرځوي. راځئ، چې دا خاصیتونه په ډیر تفصیل سره مطا لعه کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل

## دیکتاتورۍ خپلې نیمګړتیاوې لري

دیکتاتورۍ اکثراً ماتې خوړونکې نه ښکاري. د جاسوسۍ وسایل، پولیس، عسکري قوتونه، بندیخانې، د توقیف ځایونه، او د اعدام دلګیونه، یواځې د یو څو زورورو دیکتاتورانو له خوا اداره کیږي. همداسې د یو هیواد مالي پانګه، طبیعي منابع، او تولیداتو د دیکتاتورانو له خوا لوټ او د هغوی د اهدافو او حمایې په لاره لګول کیږي. له بلې خوا، دیکتاتورانو سره په مقایسې، دیموکراتان اکثراً ډیر زیات کمزوري، بې تاثیره او ضعیف ښکاري. د دیکتاتورانو په هکله د نه ماتېدونکیتوب تصور او د دیموکراتانو کمزورتیا، د یوې اغیز ناکې مخالفې قوې راولاړیدل د ذهن نه لرې کوي. خو خبره دلته پای ته نه رسیږي.

### د "اشیل د پوندې" تشخیصول

د لرغوني یونان نه یوه کیسه د هغو کسانو د کمزورتیا ټکی ډیر ښه روښانه کوي ، چې عموماً فکر کیږي چې دوی به په هیڅ اړخ کښې به کمزورتیا ونلري. د آشیل، پهلوان پر ځان هیڅ غشی به نفوذ نه کاوه او نه توره به ئې پوستکی غوڅولی شو. روایت کیږي چې د آشیل مور هغه ئې په ماشوموالي کښې د ستیکس په جادوئي سیند کښې غوټه کړی ؤچې په نتیجه کښې ئې بدن مصئون شوی ؤ. لاکن سره لدې دلته یو مشکل پاتې ؤ. څرنګه چې ماشوم آشیل د غوټه کولو په وخت کښې مور د پوندې نه نیولی ؤ ، نو اوبه ئې د بدن هغې برخې ته نه ؤ رسیدلی چې مصئونیت یې حاصل کړی وای. کله چې آشیل لوی شو نو خلکو به فکر کاوه چې هغه د غلیمانو د وسلو په مقابل کښې پوره مصئونیت لري. په پای کښې د تروا په جګړه کښې، د ښمن یو عسکر چې د یو کس له خوا نه پدې راز خبر شوی ؤ، د آشیل غیر مصئوني پوندې ته نخښه ونیوله چې دی ئې ټپي کړ او غشي وژونکی تمام شو. تر ننه پورې د "آشیل پونده" عبارت، د یو کس، یو پلان او یا مؤسسې هغې کمزورې برخې ته اشاره کوي چې که پر هغې برخې برید وشي نو کوم مصئونیت یا محافظت به ونه لري.

د ظالمو دیکتاتورانو په برخه کښې، همدا اصول په کار آچول کیږي. هغوی ته هم په ډیره چالاکۍاو لږ تاوان ماتې ورکول کیدای شي، خو چې که د دوی کمزورې برخه تشخیص او ګذارونه پرې راتیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ديکتاتوريو کمزورتيا وې:

د استبدادي حکومتونو کمزورتياوې دادي:

۱. د يو زيات شمير خلکو، ډلو ، مؤسساتو مرستې او منافع چې د رژيم د عادي جريان لپاره ضروري دي،ښائي چې محدود او يا قطع شوی وي.

۲. د رژيم د تيرو سياستونو ملزمات او نتيجې، هغه وخت ئې اوسنی قدرت محدودوي چې متضادې پا ليسی، قبول يا پکار واچوي.

۳. کيدای شي چې رژيم خپل عمليات د ورځني عادي جريان په رنګ ګرځولی وي، او لږ وړتيا ولري چې ځان د نوي وضعيت سره عيار کړي.

٤.افراد او منابع چې د اوسني وظايفو لپاره تعين شوي د نوي ضروررياتو لپاره به غوره او وړ نه وي.

٥. مادونان چې د خپلو آمرانو د خپه کولو نه ويريږي، ښائي چې ديکتاتور ته سم او مکمل راپور چې د تصميم نيولو لپاره ضرور دی ورنکړي.

٦. ايډيالوژي ښايي چې زوړ شوی او د سيستم کيسې ، علامې او شعارونه خپل اعتبار له لاسه ورکړي وي.

۷.که يو قوي ايډيالوژي ارائه شوی وي چې د چا د واقعيت د کتلو قابليت ئې د خپلې آغيزې لاندې راوستی وي، نو د هغې نه کلکه پيروي به ددې سبب شي چې د ټولنې د واقعي شرايطو او ضرورتونو نه پاملرنه وګرځوي.

۸. د بيروکراسۍ د آغيزمنتوب او وړتيا زوال او خرابيدل ، يا د حد نه زيات کنترول او د اصولنامو جاري کول به د سيستم پاليسي او عمليات بې آغيزې کړي.

۹. داخلي مؤسساتي ټکرونه او شخصي رقابتونه او دښمنۍ ښايي چې د ديکتاتوري عملياتو ته ضرر ورسوي او يا يي مختل او سره وئې شلوي.

۱۰ . ښايي چې د روښن فکرانو او زده کونکو حوصله د حالاتو، تحديداتو، نظرياتو د تلقينيدلو اوټکونو نه په سر رسيدلي وې.

۱۱. عمومي خلک ښايي، چې د وقت په تيريدلو سره د رژيم په مقابل کښې بې پروا، شکمن او حتي دښمن وګرځي.

۱۲.سيمئيز، طبقاتي، کلتوري، يا ملي مخالفتونه ښايي چې لوړې درجې ته ورسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳. د د یکتاتوری د قدرت د مراتبو سلسله تر یوې اندازې پوري تل بې موازنې وي،

او کله دا بې موازنیتوب ډېر زیات وي . افراد نه یوازې په خپل ځای په عین رتبې پاتې کيږي. بلکه کېدای شي چې لوړ یا ټیت لاړ شي او یا کاملاً له مینځه لاړ او نور اشخاص ئې پر ځای وګمارل شي.

۱٤. د پولیسو یا عسکرو ځینې برخې ښایي داسې عمل وکړي چې خپل هدفونو ته ورسيږي، حتي د تاسیس شوي دیکتاتورۍ د غوښتنې پر ضد، آن که د کودتا د لارې نه هم وي.

۱٥. که دیکتاتوري نوی تاسیس شوی وي، او وخت ته ضرورت ولري چې ځان ښه ځای پر ځای کړي.

۱٦. څرنګه چې په دیکتاتورۍ کښې ډېر زیات تصمیمونه د ډېرو لږو خلکو له خوا نیول کيږي نو په دیکتاتورۍ کښې د قضاوت، تګ لارې، او عمل اشتباهات ډېر احتمال لري.

۱۷. که رژیم وغواړي چې دا خطرونه له مینځه ویسي، او خپل کنترول غیر مرکزي کړي، نو کنترول به یي پخپله د قدرت په مرکزي اهرمونو نور هم کمزوری شي.

## د دیکتاتورۍ په کمزورو برخو برید کول

ددې ذاتي کمزوریو په پوهیدلو سره، ددې لپاره چې سیستم ته اساسي تغیر ورکړي او یایي تجزیه کړي آزادي غوښتونکي کولی شي چې قصداً دا د " آشیل پوندې" لا پسې کمزورې کړي.

نتیجه څرګنده ده: سره لدې چې ظاهراً غښتلی ښکاري، دیکتاتورۍ خپلې کمزورتیاوې ، لکه داخلي بې کفایتي ، شخصي رقابتونه ، مؤسساتي بې کفایتی، او د تشکیلات او اداراتو تر مینځ اختلافات لري. د وخت په تیریدلو سره دا کمزورتیا وې د رژیم مؤثریت کموي او د تغیراتو او عمدي مقاومتونو په مقابل کښې یې ژوبلېدونکی ګرځوي. هر څه چې رژیم غواړي تر سره کړي الزاماً نه تکمیليږي ځینې وختونه د مثال په توګه حتي د هیټلر مستقیم امرونه هم هیڅکله پر ځای نه شول، ځکه چې د لاندنیو قدمو اشخاص د مراتبو په سلسله کښې نه غوښتل چې هغه اجرا کړي. دیکتاتوري رژیمونه ، لکه چې مو ولیدل شاید پخپله ټوټې ټوټې شي.

دا ددې معني نلري چې دیکتاتوري به بې له خطرونو او تلفاتو به ویجاړ شي. د آزادۍ لپاره به هر احتمالي طرز د حرکت د خطر او کړاو سره مخامخ شي او د عملي کولو لپاره به وخت او زمان ته ضرورت ولري. او هم یقیناً د عمل هیڅ یوه وسیله نشي کولی چې په ټولو حالاتو کښې چټک بریالیتوب تامین کړي. سره لدې هم، د مبارزاتو هغه ډولونه چې د دیکتاتورۍ مشخص کمزورتیاوې په نخښه کړي، نظر هغو ته چې د یکتاتورۍ سره په هغه ځای کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جگړه کوي چیرته چې ډیره قوي ده، د بریالیتوب ډیر چا نس لري.  اوس نو سوال دادی چې ددې مبارزې لاربښوونه څرنگه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم فصل

## د قدرت استعمال (پکارآچول)

په لومړي فصل کښې مونږ وویل چې ددیکتاتورۍ په مقابل کښې د نظامي مقاومت انتخاب د هغه په کمزوري برخه، نه ، بلکه په قوي برخه برید کول دی. د مبارزې لپاره د دیکتاتورۍ عسکري قوا، د مهماتو زیرمې، د وسلو ټکنالوژي او نور ټاکلو باندې د مقاومت نهضت ځان په ښکاره توګه په نا مساعده وضعیت کښې آچوي. دیکتاتوري نژدې هر وخت پدې ساحو کښې د زیاتو منابعو د راټولولو امکانات لري. په پردي قواوو باندې د خلاصون لپاره تکیه کول هم مخکښې په لنډ ډول بیان شوی دی. په دویم فصل کښې مو د مذاکراتو د لارې د دیکتاتورۍ د لیرې کولو مشکلات هم وڅیړل.

نو کومې وسیلې پاتې دي چې دیموکراتیک مقاومت ته په ښکاره توګه پر دیکتاتورۍ بر لاسی ورکړي او دهغه کمزوري نقطې په ډاګه، او لاپسې کمزورې کړي؟ کوم تخنیکي حرکت کولی شي چې د سیا سي قدرت په نظریې باندې چې په دریم فصل کښې بیان شو پانګه آچونه وکړي؟ ددې سوال لپاره مناسب ځواب سیاسي سرغړونه ده.

### د سیاسي سر غړونې خاصیتونه:

- سیاسي سر غړونه نه قبلوي چې د جګړې نتیجه د مبارزې د هغو وسیلو په واسطه تعین شي چې دیکتاتورۍ ئې تعینوي.

- د رژیم د پاره مبارزه مشکله ده.

- کولی شي چې په بې سارې توګه د دیکتاتورۍ کمزور تیاوې لاپسې کمزورۍ او د قدرت د منابعو نه ئې اړیکې پرې کړي.

- عملیات کولې شي چې په یوې پراخې ساحې کښې خور شي، خو کولی شي چې په یو معین هدف باندې متمرکز شي.

- دیکتاتور د قضاوت او اقدام د اشتباه خواته بیايي.

- سیاسي سر غړونه، په اغیزناکه ډول خلک، او د ټولنې ډلې، او مؤسسات په ډله ئیزه توګه په هغې مبارزې کښې پکار آچولی شي چې د ظالم اقلیت، حکومت پای ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سیاسي سر غړونه په اغیزناکه توگه په ټولنې کښې د قدرت د توزیع سره مرسته کوي، او دمؤسساتو په جوړونه او د دیموکراتیکي ټولنې حمایي او ساتنه نور هم ممکنوي.

## د عدم تشدد د مبا رزې د کار ډول:

لکه د نظامي قوې، سیاسي سرغړونه هم د د مختلفو هدفونو لپاره پکار آچول کیږي. دا هدفونه کېدای شي چې مقابل لوری د یو خاص حرکت په کولو باندې مجبور کړي، یا داسې وضعیت پیداکړي چې اختلافات په سوله ئیزه توگه حل کړي، او یا مخالف رژیم پوره له مینځه ویسي.

که څه هم، سیاسي سر غړونه د وسله والې نښتې نه ډیر بل ډول پر مخ ځي،ولې بیا هم د جگړې دواړې لارې غواړي چې په ډیرو مختلفو وسیلو باندې مبارزه وکړي چې متفاوتې نتیجې به مینځ ته راولي.

د وسله والي جگړې لارې او نتیجې خورا څرگند دي، چې د ډارولو، ټپي کولو، وژلو او ورانولولپاره پکښې حقیقي وسلې او تخریبي وسایل پکار آچول کیږي.

عدم تشدد( بې وسلې) جگړې نسبت وسله والې جگړې ته ډیر پیچلې اود مبارزې متفاوت شکل دی ځکه چې د وژونکو وسلو پر ځای پکښې سیکالوژیکي، ټولنیز، اقتصادي، او سیاسي وسلې د خلکو او د جامعې د مؤسساتو له خوا استعمالیږي. دا وسلې(وسیلې) په مختلفو نومونو لکه احتجاج، اعتصاب، عدم همکاري، تحریم، سوړوالی(بې علاقه توب) او د خلکو د زور په نومونوپیژندل شوي. څرنگه چې مخکښې مونږ وویل، ټول حکومتونه یواځې تر هغې پورې اداره کولی شي، چې خپل د ضرورت وړ قوت د خلکو او د ټولنې د مؤسساتو د همکاری ، تسلیم ،او اطاعت نه تر لاسه کړي. بر خلاف د تشدد( وسله والې) مبارزې نه، سیاسي سر غړونه په خاصه او مناسبه توگه د دیکتاتوریےنه د قدرت د پورتنی منابع د جلا کولو لپاره خدمت کولی شي.

## د عدم تشدد وسلې او انضباط :

په تیرو سیاسي سر غړونو کښې، عامه غلطي، چې اکثرآ بې له مخکیني پلان جوړولو یي شکل نیوه دا ؤ چې تصور کېده، چې یواځې په دوو میتودونو لکه د اعتصابونو او عمومي مظاهراتو په وسیله کولی شو چې نتیجې ته ورسیږو. په حقیقت کښې، ډېر شمېر میتودونه شته چې د مقاومت ستراتیژیستانو ته اجازه ورکوي چې د مقاومت له ایجابه سره سم په یوې نقطې یې راټول اویا یې په ټولې ساحې کښې خور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوو سوو په شاوخوا کښې د عدم تشدد د مبارزې میتودونه تر اوسه پورې پېژندل شوي، او په ډاډ ګیرنې سره ډېر نور اصولونه هم موجود دي. دا اصولونه په دوو پراخو ډلو ویشل شوي:

اعتراض او اغوا ، همکاري نه کول او مداخله.

د عدم تشدد د اعتراض او اغوا کولو میتودونه اکثراً نمایشي مظاهرات دي چې پدې کښې رسم ګذشتونه، لاروهنې، او بیخوبي ایستنې ، (٥٤میتودونه) شامل دي.

همکاري نه کول په دریو ګروپونو بیلیږي: (آ) ټولنیز همکاري نه کول ( ١٦ میتودونه)

(ب) اقتصادي همکاري نه کول، تحریمونه ( ٢٦ میتودونه) او اعتصابونه(٢٣ میتودونه)

(ج) سیاسي همکاري نه کول(٣٨ میتودونه). سوله ئیزه مداخله، د روحي، فزیکي، ټولنیز،

اقتصادي، یا سیاسي وسایلو سره، لکه روژه،سوله ئیزه اشغال، یا د موقتي حکومت تاسیس (٤١ متودونه) وروستی ګروپ دی. د سوله ئیزې سر غړونې ١٩٨ میتودونه ددې کتاب په پای کښې د ضمیمې په ډول راټول شوي دي.

ددې میتودونو ډېر شمیر چې په احتیاط سره انتخاب شوي، دوامدار او په غټ مقیاس چې د یوې سمې ستراتیژۍ په چوکاټ، او مناسب تکتیکونه د تربیه شوي ملکي کسانو له خوا پکار آچول شوي، ډېر احتمال لري چې هر ناجایزه رژیم د سختو مشکلاتو سره آخته کړي.

پدې کښې ټولې دیکتاتورۍ شامل دي.

بر خلاف د نظامي وسایلو، د عدم تشدد د مبارزې میتودونه کېدلی شي چې په مستقیمه توګه په مطلوبو هدفونو متمرکز شي. د مثال په توګه، ددې دپاره چې دیکتاتوري کاملاً یو سیاسي موضوع ده نو د عدم تشدد د مبارزې د سیاسي شکلونو د استعمال به یو قاطع اثر پرې واچوي.. دا مبارزه دیکتاتور ته د حقانیت د ورکولو انکار او د هغه رژیم سره د همکارۍ نه کول دی. همدارنګه، د مشخصو پالیسیو په مقابل کښې عدم همکاري استعمالیدلی شي. ځنې وختونه، ځنډول او ځان ناګاره آچول کېدای شي چې په چپتیا او پټه عملي شي ، او په نورو وختونو کښې څرګنده نافرماني او سر غړونې عمومي مظاهرې او اعتصابونه کیدای شي چې ټولو ته ښکاره وي.

له بلې خوا ، که دیکتاتوري د اقتصادي فشارونو نه زیان منونکی وي او یا د رژیم په مقابل کښې عمومي شکایتونه د اقتصادي نیمګړتیاو له کبله وي نو بیا تحریمونه او اعتصابونه کیداي شي چې د مقاومت مناسب میتودونه وي. د دیکتاتور هلې ځلې به چې د اقتصادي سیستم نه ګټه واخلي د محدودو عمومي اعتصابونو، د کارونو د پرمختګ ورووالی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لازمو متخصصینو مرسته نه کولو او یا د صحنې نه د هغوی د وتلو سره مخامخ شي. د اعتصابونو انتخاب شوي مختلف ډولونه پر مهمو نقطو باندې لکه تولید، نقلیات، د اومو موادو زیرمي، او د تولیداتو په وېشلو پکار آچول کیدی شي.

د عدم تشدد د مبارزې ځینې میتودونه د خلکو نه غواړي چې داسي کارونه وکړي چې د هغوی د عادي ژوندانه سره رابطه نلري، لکه په خلکو باندې د خپرونو د پاڼو وېشل، د پټو خپرونو دعملیاتو اداره کول، د لوړې اعتصاب،یا په کوڅې کښې کښیناستیدل. د ځینو خلکو دپاره به دا سخته وي چې بې له فوق العاده حالاتو نه دا میتودونه پکار واچوي.

د عدم تشدد د مبارزې نور میتودونه د خلکو نه غواړي چې تقریباً ژوند ته ادامه ورکړي خو په یو څه توپیر سره. د مثال په تو گه، د اعتصاب پر ځای خلک به کار ته ولاړ شي خو قصداً به د معمول نه ډیر ورو او یا بې گټې(بې آغیزې) کار وکړي. په لوی لاس به اکثراً غلطی وکړي . کېدای‌شي چې یو کس ځان مریض واچوي او پلمه وکړي  چې په یو معین وخت کښې کار نشي کولی.

بل کس به دیني مراسمو ته ولاړ شي چې هلته نه یواځې مذهبي مقصد بلکه سیاسي هدف هم موجود وي. ددې لپاره چې خپل ماشومان د تبلیغاتي حملو نه وساتي یو څوک کیدلی شي چې خپل ماشومان په کور یا غیر قانوني صنفونو کښې تربیه کړي. بل څوک به نه غواړي چې هغو اجباري ډلو سره یو ځای شي، چې د آزادی په صورت کښې به ونه غواړي چې پکښې گډون وکړي. د دغو ډولو اقداماتو ورته والی د خلکو د عادي فعالیتونو سره او د دوی لږ لږې والی د هغوی د معمولي ژوند نه بنائي د ډیرو خلکو برخه آخستل په ملي آزادي بخښونکي مبارزو کښې آسانه کړي.

څرنگه چې د عدم تشدد مبارزه  او د تشدد مبارزه سره ډیر زیات توپیر لري، نو حتي په ډیر لږ مقیاس د سیاسي سر غړونې مبارزې کښې د تشدد استعمال به بې گټې وي،ځکه چې تشدد به مبارزه هغه خوا ته بوځي چې دیکتاتور پکښې فوق العاده بر لاسی لري(وسله وال اخ او ډب) .

د عدم تشدد په مبارزه کښې انضباط  د بریالیتوب اساسي کلي ده، او د دیکتاتور او د هغه د استازوله خوا نه، سره د لمسونکي اقداماتو او بیرحمیو باید ټینگ وساتل شي. د تشدد کونکې ډښمن په مقابل کښې، د عدم تشدد د جگړې انضباط ټینگول د عدم تشدد په جگړې کښې د تغیر هغه څلور وسیلې( چې په همدې فصل کښې څیړل شوی) آسانوي.  همدارنگه د عدم تشدد د جگړې دسپلین د سیاسي جوجیتسو* په مراحلو کښې ډیر زیات مهم دی.

---

*جوجیتسو: د دیکتاتورځپل او ټکول چې د خلکو له خوا نه په انضباط پیوستون او ټینگار سره مخامخ شي،نور هم به د هغه ناروا او ظلم  خلکو ته بربنډ کړي. دا به د عدم تشدد د عاملینو په گټه، به په عقایدو او د قدرت په اړیکو کې تغیر راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې مراحلو کښې د رژیم ښکاره ظلم د عدم تشدد د مبارزینو په مقابل کښې،سیاستأ د دیکتاتور د موضع پر ضد راځرخیږي او د دیکتاتورۍ د مراتبو په سلسلې کښې ټکر پیدا کوي، او دمقاومت لپاره  د خلکو په مینځ کښې ،د رژیم د عادي پلوي کونکو او دریمي ډلې کښې پلویان ګټي.

.که څه هم په ځینو حالاتو کښې، د دیکتاتورۍ په مقابل کښې د تشدد د لږې اندازې د استعمال نه به مخنیوی ممکن نه وي. د خلکو نا امیدي او د رژیم نه نفرت ښایي چې د تشدد په انفجار بدل شي، او یا مشخصو ډلو که څه هم د عدم تشدد د مبارزې د اهمیت په دندې پوه شوي خو بیا هم تشدد یي پوره ندی خوشې کړی. پدې حالاتو کښې سیاسي سر غړونه، نه ښایي چې پریښودل شي. په هر حال،  ضرور دی چې د تشدد جګړه د عدم تشدد د مبارزې نه په جغرافیاوي، ټولنیزو ګروپونو، او زماني ملحوظاتو سره بېل شي. که نه نو، تشدد به د سیاسي سر غړونې استعمال باندې چې د مبارزې یو پیاوړی او بریالی ممکنه لار ده تباه کونکې اغیزې واچوي.

تاریخي ثبتونې راښيي، که څه هم مرګ ژوبلې باید د سیاسي سر غړونې په مبارزې کښې په نظر کښې ونیول شي، خو دا تلفات به د پوځي جګړې نه ډېر زیات کم وي. برسیره  پر دې، د مبارزې دا ډول (عدم تشدد)  د وژلو او بې رحمیو د ناپایه سلسلو د دوام  سره مرسته نه کوي.

د عدم تشدد مبارزې، د تلفاتو د مینځ ته راوړلو (یا دډېر کنترول) هم ایجاب کوي او  هم یې سبب ګرځي. د حکومت د تشدد او ځپلو نه د خلکو په زړونو کښې ډار پیدا کیږي. د خلکو د زړونو نه ددې وېرې ورکول او یا کنترولول په ټولنې باندې د دیکتاتورانو د قدرت د تخریب لپاره یو اساسي عنصر دی.

## **څرګند تیا، پټول او لوړ معیارونه:**

د هغه تحریک لپاره چې عدم تشدد پکار آچوي، پټول، غولول اوخفیه توطئې ډېر سخت مشکلات پیداکوي. اکثرأ  ممکن نه وي چې خپل مقصدونه او پلانونه، د سیاسي پولیس او استخباراتي استازو نه پټ وساتو. د تحریک له نظره پټول نه یواځې اړیکې له ډاره سره لري بلکه ور سره نوره مرسته هم کوي. دارنګه چې د مقاومت روحیه کمزوری کوي، او  د هغو کسانو شمېر لږوي چې په یو ورکړل شوي اقدام کښې برخه آخلي. همدارنګه دا د هغه بدګمانیو او تهمتونو سره مرسته کوي چې اکثرأ  د تحریک په د ننه کښې په نه توجیه کونکې ډول چې څوک د دښمن نماینده ده او یا ورته خبر ورکوي پیدا کیږي. همدارنګه، پټونه ښائي چې د تحریک قابلیت چې په عدم تشدد ولاړ پاتې شي د اغیزې لاندې راولي.

بر خلاف،د مقصدونو او پلانونو په برخه کښې څرګندتیا نه یواځې تحریک د عدم تشدد مبارزې په لار باندې قایم ساتي بلکه دا مفکوره هم تقویه کوي چې تحریک ډېر زیات پیاوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. البته مسئله ددې نه چې دلته بیان شوی ډیر پېچلی دی او د مقاومت د فعالیتونو ځینې ملحوظات شته چې د محرمیت ایجاب کوي.د هغو کسانو په واسطه چې د عدم تشدد د مبارزې په زور او قوت او هم د دیکتاتورۍ د کشف په وسایلو باندې په یو مشخص حالت کښې پوره پو هیږي یوه جامعې څېړنې ته ضرورت لري.

د پټو خپرونو تصحیح،چاپول، او توزیع، او د هیواد د داخل نه د غیر قانوني راديوي نشریات ،او د دیکتاتوري د عملیاتو په برخه کښې د استخباراتي معلوماتونو راټولول د هغه مخصوصو محدودو ډولونو فعالیتونو څخه دی چې پکښې په لوړه درجه محرمیت ایجاب کوي. د عدم تشدد د مبارزې د تصادم په ټولو مرحلو کښې د لوړې سويې د عمل او رفتار ساتنه ډیر ضرور دی. خصوصیاتو ته لکه زړورتوب، او د عدم تشدد د انضباط ساتنې ته تل ضرورت دی. دا ضرور دی چې باید په یاد وساتل شي چې د خلکو ډیر شمېر به اکثرأ ضرورت وي چې یو مشخص تغیر باندې اغیزه واچوي. د دومره لوی شمېر ګډون په هغه صورت ممکن کیدای شي چې په نهضت کښې پورتني لوړ معیار ساتل شوی وي.

## د قدرت د اړیکو انتقال

ستراتیژي جوړونکو باید په یاد ولري چې سیاسي سر غړونه د مبارزې یوه دوامداره بدلیدونکي ډول دی چې د حرکت او متقابل حرکت او یا عمل او عکس العمل په بڼه دوام مومي. هیڅ یو شی ساکن ندی. د قدرت اړیکي که مطلق وي یا نسبي د پر له پسې او چټک بدلون تابع وي، چې د مقاومت کونکو لپاره دا ممکن ګرځوي چې د خپل د عدم تشدد په مبارزې باندې د ظلم په مقابل کښې ولاړ پاتې شي.

د مقابلو خواوو، د مربوطو قواوو رنګارنګ توب پدې ډول جګړئیزه حالت کښې ډیر احتمال لري چې د تشدد ډوله تصادم نه ډیره افراطي وي چې ډیر په چټکۍ سره صورت نیسي. او ډول ډول او په سیاسي لحاظ مهمې نتیجې لري. ددې رنګا رنګ توب په لحاظ د مقاومت کونکو له خوا خاص اقدامات احتمال لري چې دارنګه اغیزه ولري چې تر هغه زمان او مکان نه تجاوز وکړي چې دا اقدامات پکښې واقع کیږي. دا آغیزې د یو یا بلې ډلې په تضعیف او یا تقویې کښې به منعکس شي.

برسیره پر دې، د عدم تشدد د مبارزې ډله ښایي د خپل عمل سره، د مخالفې ډلې مربوط قوت په زیاتوالی او یا کموالی باندې په زیاته اندازه نظر و نظا مي جنګ ته تاثیر واچوي. د مثال په توګه، د دیکتاتور د ظلمونو په مقابل کښې، دسپلین لرونکې او زړور مقاومت ښایي چې د دیکتاتور د خپلو عسکرو او خلکو په مینځ کښې، تشویش، نا خوښي، بې اعتمادي، او په فوق العاده حالاتو کښې حتي د بغاوت موجب و ګرځي. (په ۱۹۳۰کال،کې د پیښورد قصه خوانۍ د بازار مثال). دا مقاومت ښایي چې د دیکتاتورۍ د زیاتې بین ا لمللي محکومیت سبب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د مترجم يادونه: د ديکتاتور د عسکري او پوليسو بې اطاعتي څرگند مثا ل د.۱۹۳۰کال د اپريل په۲۳مه د پېښور د قصه خوانۍ بازار په قتل عام کې د يادونې وړ دی.کله چې د انګريزانو د شاهي ګاروال رايفلز بلوک د بيګناهو بې دفاعو او بې وسلو ملکي مظاهره کونکو باندې د ډزو د کولو نه سر وغړول.نوموړي افراد بيا د عسکري ديوان حرب له خوا د لسو نه تر څوارلسو کلونو پورې په بند محکوم شول. ويل کيږي چې د قصه خوانۍ پدې قتل عام کښې د ۳۰۰ په شاوخوا خدايي خدمتګاران شهيدان شوي وو. خو ځينې دا تلفات تر ۶۰۰ پورې روايت کړي)

بر سيره پر دې ،په مهارت سره ، دسپلين لرونکی او د سياسي سر غړونې دوامداره استعمال ښايي په مقاومت کښې د هغو خلکو ګډون چې په عادي توګه ديکتا تور حمايه کوي او يا بې طرفه پاتې کيږي زيات کړي.

## د بدلون څلور ميکانيزم ( لارې چارې):

د عدم تشدد مبارزې، په څلورو طريقو بدلون توليدوي. اولنۍ ميکانيزم ډير لږ د پيښيدو امکان لري، که څه هم ځينې وختونه واقع شوي دي. کله چې مقابل لوری د مظلومو او زړورو مقاومت کونکو د رنځونو او کړاونو د زغملو نه چې د عدم تشدد د مبارزې پيروي کوي د احساساتو د تاثير لاندې راشي او يا منطقاً قناعت حاصل کړي چې د مقاومت کونکو غوښتنه پر حق ده نو کيدای شي چې دوی يې ومني. چې دې مکانيزم ته " د عقيدې بدلون " وايې.

د عقيدې د تغير پيښې د عدم تشدد د مبارزې په جريان کښې کله کله پيښيږي چې د نادراتو څخه شمېرل کيږي، او په ډيرو منازعاتو کښې ښځي صورت نه نيسي او يا که پيښ هم شي په ډير لږ مقياس به وي.

اکثراً د عدم تشدد مبارزې، د جګړې د حالت او ټولنې د بدلولو په اساس عمل کوي او مقابل لوری هر څه چې وغواړي نشي کولی. دغه بدلون دی چې درې نور ميکانيزم( لارې چارې) توليدوي:

روغې جوړې،بې تشدده اجبار اوتجزيه. دا چې کوم يو ددې درې ميکانيزم نه پيښيږي د ديموکراسی په ګټه د نسبي او مطلق قدرت د انتقال د درجې پورې تړلی دی.

که موضوعات ډير بنسټيز نه وي، د مخالفې لورې غوښتنې ډير تهديدونکې نه ګڼل کيږي، او د قوتونو رقابت د يوې اندازې پورې د قواوو اړيکې تبديل کړی وي، او موجوده جنجال ښايي چې ديوې موافقې د لارې نه د اختلافاتو په نيمايي کولو يا د مصالحې د لارې لرې شي. دا ميکانيزم ته روغه (سازش) وايي. ډير اعتصابونه له دې لارې نه حل شوي، چې دواړه خواوې خپل ځينې هدفونو ته رسيږي او يو خوا هم خپل ټول هدفونه، نه تر لاسه کوي. يو حکومت شايد چې درک وکړي چې دارنګه روغه جوړه ځينې مثبتې ګټې لري لکه د تشنج کموالی، خلکو ته ځان د" انصاف خاوند" معرفي کول، يا د رژيم تصور بين المللي ټولنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايسته ځلول. نو دا ډير مهم دي چې د هغو موضوعاتو په ټاکنې باندې ډير غور وشي چې د روغې( سازش) له لارې پرې فيصله د منلو وړ وي.

دا د ديکتاتورۍ د نسکورولو لار نه ده.

د عدم تشدد مبارزه کيدای شي چې د هغې نه ډير پياوړی وي چې د عقيدې د تغير او روغې جوړې د لارو چارو (ميکانيزم) سره ښودل شوی. ډله ئيزه همکاري نه کول او سر غړونه

ټولنيز او سياسي وضعيت داسې بدلولی شي، مخصوصأ د قدرت ارتباط، چې، د ديکتاتور

وړتيا چې اقتصادي، اجتماعي او سياسي جريان چې حکومت او ټولنه کنټرول کړي ترې آخستل کيږي. د مقابل لورى وسله وال قوتونه نور دا باور دلاسه ورکوي چې مقاومت کونکي به وټکوي.

که څه هم د مقابل لوری مشران په خپلو مقامونو کښې پاتې کيږي،او خپل هدفونه تعقيبوي، خو دهغوی قابليت چې په اغيزناکه توگه اقدام وکړي د هغوی نه آخستل شوی وي. دې ته د عدم تشدد اجبار وايي. چې ځينې فوق العاده وضعيتونو کښې، د عدم تشدد اجبار کوم حالات پيدا کوي نور هم پر مخ ځي. د مقابل لوری رهبر په حقيقت کښې خپل د عمل ټول قابليت دلاسه ورکوي او د قدرت ساختمان يې ړنگيږي. د مقاومت کونکو پر ځان باور،همکاري نه کول او سر غړونه دومره پرمختگ وکړي چې ديکتاتوري ډير لږ کنټرول هم پرې نشي لرلی. د مقابل لورې بيروکراسي د خپلې رهبري د اطاعت نه انکار کوي او دهغه پوليس او عسکر بغاوت ته لاس آچوي. د مقابل لوري عادي ملا تړ يا عوام خپل پخوانی رهبر ردوي او د حکومت کولو حق نه يي کاملأ انکارکوي. پس له دې د دوی پخواني مرسته او اطاعت له مينځه ځي.

د بدلون څلورم مکانيزم ( لارې چارې) د مقابل لوري د سيستم ټوټې ټوټې کېدل دارنگه تکميل شوی وي، چې حتي هغوی اوس کافي قدرت د تسليميدلو لپاره هم نلري. رژيم په سادگۍ سره په ټوټوبيليږي.

د آزادی د ستراتيژي د طرح کولو په وخت کښې ښايي چې دا څلور ميکانيزم ( لارې چارې)

په فکرکې ونيول شي. کله کله دوی ضرورتأ په تصادفي ډول عمل کوي. سره لدې، په يوې جگړې کښې د بدلون د ميکانيزم دپاره د دوی نه د يو يا ډيرو ټاکل دا به ممکنه وگرځوي چې مشخص او دوه اړخيزه تقويه کونکي ستراتيژي تنظيم شي. د مکاييزم يا ميکانيزمونو ټاکل په متعددو عواملو پورې اړه لري، په گډون د دښمنې ډلې مطلق او نسبتي قدرت، او د عدم تشدد د مبارزينو نظريات او هدفونه نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سیاسي سر غړونې آزادي بخښونکې نتیجې

د تشدد د استعمال د مرکزي کونکې نتیجې په مقایسه، د عدم تشدد د مبارزې د اصول استعمال د سیاسي ټولنې په دیموکراتیکې کولو کښې د ځو لارو نه کومک کوي.

د دیموکراسي کولو د نتیجې یوه برخه منفي ده. لکه د نظامي وسیلو، دا اصول د یوه حکومت کونکې اقلیت د اداري لاندې، د ځپلو یوه وسیله نه پیداکوي چې د خلکو په ضد د دیکتاتورۍ د تاسیس او یا محافظې په مقصد استعمال شي. د سیاسي سرغړونې د نهضت رهبران پر خپلو پیروانو باندې تاثیر او فشار آچولی شي خو کله چې دوی بل رهبر انتخاب کړي هغوی بندي کولی یا اعدامولی نشي.

د دیموکراسي کولو د نتیجې بله برخه مثبت دی. چې د عدم تشدد د مبارزې خلک د مقاومت د وسیلو سره سمبالوي چې د هغې سره خلک آزادۍ ته ورسیږي، او هم د اوسني او راتلونکې دیکتاتور په مقابل کښې د هغې نه دفاع وکړي.

## د دیموکراسۍ کولو ځو مثبتې نتیجې په لاندې ډول کېدلی شي:

- د عدم تشدد د مبارزې د پکار آچولو تجربه به خلکو کښې پر ځان باور پیداکړي، چې د رژیم تهدید او د زور په واسطه د ځپلو ظرفیت یې د گواښ لاندې راولي.

- د عدم تشدد مبارزه، د عدم همکاري او سر غړونې وسایل برابروي چې خلک کولی شي د هغې په واسطه د دیکتاتورې ډلې له خوا د غیر دیموکراتیک کنترول په مقابل کښې مقاومت وکړي.

- د عدم تشدد مبارزه،د دیموکراتیک آزادۍ د عملي کولو نه لکه د بیان آزادي، د مطبوعاتو آزادي، د سیاسي ډلو آزادي، د راټولېدلو آزادي نه د ځپونکې کنترول په مقابل کښې دفاع کوي.

- د عدم تشدد مبارزې په ټولنه کښې د مستقلو ډلو، مؤسساتو چې مخکښې مو یاد گړل د ژوندي پاتې کیدلو او یا بیا راپیداکولو او تقویه کولو کښې غټه مرسته کوي. مستقلې ډلې او مؤسسې د دیموکراسۍ لپاره ځکه مهمې دي چې دوی دخلکو د قدرت د سمبالولو او د هر راتلونکې دیکتاتورپه آغیزمن قدرت باندې تحدید آچولی شي.

- د عدم تشدد مبارزې هغه وسایل برابروي چې خلک د ظالم پولیس او عسکري عملیاتو په مقابل کښې قدرت ښه پکار آچوي چې د یو دیکتاتور حکومت لخوا اجراکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د عدم تشدد مبارزې هغه لارې برابروي چې خلک او خپلواکه مؤسسات د هغې په واسطه د ديموکراسۍ په ګټه د حاکم اقليت نه د قدرت منابع محدودوي او يا يې قطع کوي، او دارنګه د هغه د حاکميت ادامه په خطر کښې آچوي.

## د عدم تشدد د مبارزې پېچلتيا:

څرنګه چې پدې بحث کښې مو وکتل، د عدم تشدد مبارزه د ټولنيز عمل يو پيچلې لاره ده چې پکښې ډېر شمير اصولونه، د بدلون پراخې لارې چارې، او د مشخصو کړو وړو ايجابول شامل دي. خصوصاً ، د سياسي سرغړونې لارې په يو ديکتاتور باندي آغيزمن کېدل په ډېر احتياط سره د پلان جوړول او چمتووالی ايجاب کوي. راتلونکي ګډون کونکي ضرورت لري چې بايد پوه شي چې د هغوی نه څه غوښتل کيږي. منابع بايد د استفادې لپاره موجود شي. او طراحانو بايد تحليل وکړي چې د عدم تشدد مبارزه څرنګه په آغيزمنه توګه پکار واچول شي. اوس مونږ خپله پاملرنه وروستنۍ ډېر مهم موضوع (ستراتيژيکي پلان جوړولو اړتيا ته) ته اړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم فصل

## ستراتیژیکي پلان جوړولو ته اړتیا

د دیکتاتورۍ په مقابل کښې د سیاسي سر غړونې مبارزه کیدای شي چې په رنګارنګو ډولونو پیل شي. پخوا دا مبارزه تقریباً تل بې له پلانه او اساساً به په تصادفي توګه شروع کیده .هغه مشخص شکایتونه چې د پخوانیو مبارزو د پیلیدلو سبب شوي دي ډیر پراخ توپیرونه ئې سره درلودل، خو ډیر ځلې یې نوي ظلمونه لکه ، د یو ډیر مهم شخصیت بندي کول او یا وژل،یو نوی ظالمانه تګ لاره یا حکم جاري کول، د غذایي موادو کموالی، د دیني عقایدو په وړاندې بې حرمتي، یا د یوې ډیرې مهمې واقعې د نمانځلو نه به پیل شو. کله د دیکتاتورۍ له خوا نه یو مخصوص اقدام دومره خلک په قهر کړي چې بې له دې نه چې وپوهیږي چې د دوی پاڅون څرنګه پای ته رسي دوی به اقدام ته لاس پورې کول. بل وخت یو ډیر زړور شخص او یا یو وړوکې ډله یو اقدام باندې لاس پورې کوي چې بیا وروسته د خلکو له خوا نه حمایه کیږي. یو ځانګړی شکایت ښایي چې د نورو له خوا نه لکه د اولنۍ ډلې درک،او دوی هم به په مبارزې کښې ګډ شي. ځینې وختونه د مقاومت لپاره یوه مشخصه چیغه د یو ورکوټې ډلې یا شخص له خوا نه کیدای شي چې د انتظار نه ډیر زیات پلویان راټول کړي.

که څه هم خپل سري ځینې مثبت اړخونه لري،خو ډیر ځلي زیانونه هم را اړولي دي. اکثراً، آزادي غوښتونکي د دیکتاتورۍ د شدید عکس العمل په انتظار نه وي او څرنګه چې دوی سخت وځپل شي نو بیا مقاومت له مینځه ځي. ځینې وختونه د دیموکراتیکو ډلو له خوا نه د پلان نه جوړول مهم تصمیمونه تصادف ته پریږدي چې تباه کونکي نتیجې مینځ ته راوړي. حتي وروسته د ظالم رژیم د نسکوریدلو نه د انتقالي دورې لپاره د پلان نشتوالی د یوې نوې دیکتاتورۍ د راپیداکیدلو لپاره مرسته کوي.

### پر واقعیت ولاړ پلان جوړونه

په راتلونکي کښې، بې له شکه، د خلکو عمومي اقدام چې سم پلان شوی نه وي د دیکتاتورۍ سره د مقابلې پر ضد به اغیزه وکړي. سره له دې، اوس ممکنه ده چې د ټولونه اغیزمنې لارې د دیکتاتورۍ د نسکورولو لپاره پیدا کړو ،خو که مونږ سیاسي وضعیت او د خلکود فکري حالت چمتووالی تشخیص او د مبارزې د پیل څرنګوا لی سم غوره کړو. د وضعیت د واقعي غور او پاملرنې په اساس په ډیر احتیاط سره فکر کول، او د خلکو قابلیت ته اړتیاده چې آغیزمنې لارې انتخاب شي تر څو چې په دارنګه شرایطو کښې آزادي تر لاسه شي.

که څوک غواړي چې یو کار تر سره کړي، نو دا د عقله سره سم دی چې باید ورته یو پلان جوړ کړي چې څرنګه یې باید ترسره کړي. هر څومره چې هدف مهم وي یا د ناکامی عواقب

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطرناکه وي په همغه اندازه د پلان جوړوني اهميت ډېرېږي. ستراتيژيکي پلان جوړونه د ټولو موجودو منابعو سمبالول او په کار آچول په اغيزمنه توګه تامينوي. د پلان جوړولو اهميت د داسې يو ديموکراتيک تحريک لپاره په خاصه توګه مهمه ده چې محدود مادي منابع ولري او وغواړي چې يوه زوروره ديکتاتوري نسکوره کړي او د غټ خطر لاندې وي. برخلاف، ديکتاتوري معمولاً به ډېر زيات مادي منابعو ته لاس رسي،تشکيلاتي پياوړتيا به ولري، او د بې رحميو په عملي کولو باندې به پوره واکمن وي.

"د يوې ستراتيژۍ طرح کول" دلته  دا معني ورکوي، چې هغسې يو طرز د حرکت وسنجوو چې دا ډېر محتمل کړي، چې د اوسني حالت نه هغه مطلوبې راتلونکې ته ورسيږو. يعني چې د يوې ديکتاتورۍ نه يوې راتلونکې ديموکراتيکې سيستم ته. کوم پلان چې هغې هدف ته ورسيږي معمو لاً د څو مرحلئيزو مبارزو د سلسلې  او نورو منظمو فعاليتونو نه جوړ شوی وي، چې هدف يې د ځپل شوو خلکو او ټولنې  تقويه کول او د ديکتاتورۍ کمزوره کول  وي. دلته بايد په ياد ولرو چې هدف دا ندی چې په ساده ډول موجوده ديکتاتوري ويجاړکړو، بلکه ښايي چې د يوې ديموکراسۍ سره يې تعويض کړو. هغه لويه ستراتيژي چې خپل هدف يواځې د موجوده ديکتاتوري د نسکورولو لپاره محدودوي د بلې ديکتاتورۍ د راپيدا کولو غټ خطر رامينځ ته کوي.

### د پلان جوړولو په مقابل کښې موانع

د آزادۍ ځينې مدافعين، د نړۍ په ډېرو برخو کښې خپل ټول زور آزادۍ ته د رسيدلو لپاره پکار نه آچوي. دا مدافعين ډېر لږ وختونه، په غور سره د ستراتيژيک پلان د جوړولو په پوره اهميت مخکښې لدې نه چې په اقدام لاس پورې کړي پوهيږي. په پای کښې، دا پلان جوړونه هيڅکله نه تر سره کيږي.

ولې هغه خلک چې دارنګه ارمان لري چې خپلو خلکو ته سياسي آزادي وګټي په ډېر ندرت سره دا بصارت لري چې يو جامع ستراتيژيکي پلان تيار کړي چې دې هدف ته يې ورسوي؟ له بده مرغه،اکثراً ډېر خلک په ديموکراتيکي ډلو کښې د ستراتيژيکي پلان د ضرورت په اهميت باندې نه پوهيږي، يا ورسره آشنا نه وي او يا داسې ندي روزل شوي چې ستراتيژيکي فکر وکړي.

دا يوه سخته دنده ده. پر له پسې، د ديکتاتورۍ له خوا نه آزاريدل، او د نژدې مسئوليتونو سره د ځان په ورکولو ، د مقاومت لاربښونکي ډېر ځل لازم وخت او امنيتي ماحول نشي پيدا کولی چې خپل  ستراتيژيکي فکر کولو ته انکشاف ورکړي.

په ځای ددې، دا يوه کلي نمونه ګرځي چې د ديکتاتور د ابتکار په مقابل کښې دوی يواځې عکس العمل وښيې. نو مخالفين تل د مدافعې په حال کښې د محدودو آزديو په لټه کښې او يا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو موضع ګانو په ساتلو بخت وي. دوی یواځې د دیکتاتورۍ د کنترول پرمختګ ورو کوي او یا د رژیم د نوو پالیسیو لپاره مشکلات پیدا کوي.

ځینې اشخاص او یا ډلې ښایي چې د آزادۍ د یو نهضت ته د اوږدې مودې لپاره د یو جامع پلان جوړولو ته اړتیا ونه ویني. ددې پر ځای ، په ساده توب سره به دوی فکر وکړي، چې د پلان جوړولو پر ځای که دوی خپل هدف په زوره کلکه او په کافي اندازه دوامداره د تاثیر لاندې ونیسي ،نودوی به دیوې لارې نه بریالیتوب ته ورسي. نور فرض کوي چې که دوی خپلو اصولو او عقیدو سره سم یواځې د مشکلاتو په مقابل کښې ولاړ پاتې شي، هغوی ټول هغه تر سره کړي چې دیموکراسۍ ته د رسیدلو لپاره دوی کولی شوای. د بشري اهدافو حمایت، او عقایدو ته وفاداري د ستاینې وړ دي،خو دا یواځې د دیکتاتورۍ د پای ته رسولو او آزادۍ ته د رسیدلو لپاره کافي نه ده.

د دیکتاتورۍ نور مخالفین ښایي چې په سادګۍ سره فکر وکړي چې که دوی یواځې په کافي اندازه تشدد پکار واچوي آزادي به وګټي.لاکن څرنګه چې مخکښې وویل شو تشدد د بریالیتوب ضامن نه دی. د آزادۍ پر ځای، کیدای شي چې په ماتې، لوی غم، او یا دواړو تمام شي. په اکثرو حالاتو کښې دیکتاتورۍ تشددي مبارزې ته د هر چا نه ډیر تیار وي، او نظامي واقعیت په ندرت سره هم که کله پیښ شي آزادي غوښتونکي پر خوا دریږي.

همدارنګه یو شمېر فعالین شته چې خپل عمل هلته متمرکز کوي چیرته چې دوی یې لازم ګڼي.

دا لارې که څه هم نه یواځې چې په ځان غوښتنې ولاړ دی، بلکه دوی د آزادی لپاره د یوې لویې ستراتیژۍ د انکشاف ورکولو لپاره هم کومه لارښودنه نه وړاندې کوي. هغه اقدام چې د یوې"ځلاندې مفکورې" پر اساس یې څوک لري هم محدود دی. د هغه پر ځای " راتلونکې ګامونه" ضرورت دي چې د دیکتاتورۍ د نسکورولو د یوې دقیقې محاسبې پر اساس واخیستل شي.

بې له ستراتیژیکي تحلیل نه،د مقاومت رهبران اکثراً به پوه نشي چې په بل ګام کې به څه عمل تر سره کړي، ځکه چې دوی په احتیاط سره د راتلونکو مشخصو ګامونو په برخه کې چې د بریالیتوب لپاره ضرور دي فکر نه دي کړي. خلاقیت او ځلاندې مفکورې ډیر مهم دي، خو د هغوی نه ښایي چې د آزادي غوښتونکو قوتونو د ستراتیژیکي دریز د لوړولو په مقصد ګټه واخیستل شي.

په زیرکۍ سره د رنګارنګو اقداماتو نه چې د دیکتاتورۍ په مقابل کښې آخیستل کیږي اطلاع لرل او توان نه لرل چې معلوم کړي چې د کوم ځي نه باید پیل کړي، ځینې خلک مشوره ورکوي چې " هر شی همزمانه وکړه." کیدای شي چې دا ګټور وي، خو البته دا ممکنه نه ده،خصوصاً نسبتاً د یو ضعیف تحریک لپاره. بر سیره پر دې، دا رنګه د حل طرز لار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښيي چې مقابله د کوم ځي نه بايد پيل شي، چيرته بايد مساعي متمرکز شي او اکثراً هغه محدود امکانات چې موجود دي څرنګه پکار واچول شي.

نور اشخاص او ډلې، ښايي چې د پلان جوړولو ضرورت احساس کړي، خو يواځې دوی به وتوانيدای شي چې د لنډ مهالي يا د تکتيکي اساس د شرايطو لاندې پرې غور وکړي. ښايي

چې دوی د اوږد مهالي پلان جوړولو په ضرورت او ممکنوالی هيڅ پوه نشي. ځينې وختونه

به دوی ونشي کولی چې په ستراتيژيکي ډول تحليل او تجزيه وکړي، او اجازه ورکوي چې نسبتاً په وړو خبرو، پر له پسې د اصلي هدف نه منحرف شي. اکثراً ، ددې پر ځای چې د عمل ابتکارد ديموکراتيک مقاومت لپاره په لاس ونيسي، دوی د مقابل لوری حرکتونو ته ځواب ورکوي.

څرنګه چې ډير زيات انرژي لنډ مهال فعاليتونو ته وقف کوي، دا مشران(لار ښودان) اکثراً پاتې راځي چې د يو شمير د حرکت احتمالي طرزونو نه ګټه واخلي کوم چې د ټولې مساعی لارښودنه کولی شي او هدف ته پر له پسې پرې حمله کيدای شي.

دا هم فقط ممکن دی چې ځينې آزادي غوښتونکي نهضتونه د يوې پراخې ستراتيژۍ پلان چې

ديکتاتوري نسکوره کړي، نه جوړوي او پر ځای يې په نژدې او عادي مسايلو باندې خپل کوښښونه راټولوي ځکه دوی په رښتيا سره فکر کوي چې ديکتاتوري ددوی په هلو ځلو

پای ته نه رسيږي. نو د دې غير ممکن د تر سره کولو لپاره پلان جوړول به د وخت يو خوشې ضايع کول او يابه يو چټي تمرين وي.

خلک چې د يو ظالم ځای پر ځای شوي ديکتاتورۍ په مقابل کښې د آزادۍ لپاره مبارزه کوي اکثراً دا رنګه يو زيات عسکري او پوليس قوت سره مخامخيږي چې داسي ور څرګند شي چې ديکتاتوري هر څه چې وغواړي کولی شي. د يو حقيقي اميد د نشتوالي له کبله دا خلک سره لدې به د ديکتاتورۍ نه په دليل د رښتينوالي يا ښايي تاريخي هيڅکله سر غړونه ونکړي. که څه هم دوی به هيڅکله دا ونه مني او هم ښايي په شعوري توګه درک هم ونه کړي. د هغوی اقدامات به ورته نا اميده کوونکی ښکاره شي. نو لدې کبله دوی ته اوږد مهالې هر اړخيزه ستراتيژيکي پلان جوړول کومه معني نلري.

د ستراتيژيکي پلان جوړولو نه د مخ اړولو نتيجې اکثراً خورا آغيز ناکه وي: د نهضت قدرت تيتيږي، اقدامات يې بې آغيزې کيږي، قدرت يې په کوچني مسايلو باندې ضايع کيږي، د تفوقونونه ګټه نه آخستل کيږي، او سر ښيندنې بې ارزښه کيږي. که آزادي غوښتونکي په ستراتيژيکي ډول پلان جوړ نکړي نو ډير احتمال لري چې خپل هدف ته په رسيدلو ناکامه شي. نيمګړی پلان جوړونه او د مختلفو اقداماتو تصادفي ګډونه د مقاومت يو عمومي نهضت

(c) ketabton.com: The Digital Library

به وړاندې وېنسي، او ددې پر ځای ډېر احتمال لري چې ديکتاتورۍ ته اجازه ورکړي چې خپل قدرت او کنترول لاپسې زيات کړي.

له بده مرغه، څرنګه چې د آزادۍ لپاره هر اړخيزه ستراتيژيک پلان ډېر لږ که کله هم صورت ونيسي بشپړېږي نو ديکتاتورۍ له هغې نه چې په حقيقت کښې دی ډېر زيات پاتې کېدونکې ښکاري، او په کلونو يا لسيزو د خپل د نسکوريدو له وخت نه ډېر عمر کوي.

## په ستراتيژيکي پلان جوړولو کښې څلور مهم اصطلاحات

ددې لپاره چې مونږ سره مرسته وکړي چې په ستراتيژيکي اساس فکر او خپل فعاليتونه تنظيم کړو، نو د څلورو اساسي اصطلاحاتو د معنی توضيحات مهم دي.

- پراخه (لويه) ستراتيژي، د هغه مفهوم څخه عبارت دی چې د يوې ډلې، کوم چې د خپل هدف د لاس ته راوړلو لپاره په يوې جګړې کښې مبارزه کوي ، ټول منا سب موجوده منابع( اقتصادي، بشري، اخلاقي، سياسي، تشکيلاتي، او نور،) استعمال، هم آهنګ او اداره کړي.

پراخه ستراتيژي، د پاملرنې ډېره برخه د مبارزه کونکي ډلې پر اهداف او منابع متمرکز وي اود عملياتو ډېر مناسب طرز ( لکه د عسکري عادي جګړې يا د عدم تشدد مبارزه) چې په مبارزه کښې ترې کار واخيستل شي تعينوي. د پراخې ستراتيژۍ په پلان جوړولو کښې د مقاومت رهبران بايد وڅيري چې پر دښمن باندې کوم رنګ زور او آغيزه واچول شي. برسيره پر دې، په پراخه ستراتيژۍ کښې هغه تصميمونه هم بايد ځای کړي شي چې په مناسبو شرايطو او وختونو د مقاومت ړومبنۍ او راتلونکي مبارزه به پيل شي.

پراخه ستراتيژي، د مبارزې، د پيل کولو لپاره د نورو محدودو ستراتيژيو د ټاکلو لپاره چوکاټ برابروي. همدارنګه عمومي وظايف خاصو ګروپونو ته محول کوي او هم موجوده منابع چې په مبارزې کښې ترې کار آخيستل کيږي پر دوی ويشي.

- ستراتيژي: د هغې مفکورې نه عبارت دی چې په يوې مبارزې کښې تعينوي چې يو خاص هدف ته چې د يوې پراخې ستراتيژۍ په حدودو کښې شامل وي څرنګه په ډيره آسانه لاره رسيدلیشو. ستراتيژي تعينوي چې کله، او څرنګه جګره پر مخ ويوړل شي، او هم د يو معين هدف د لاس ته راوړلو لپاره څرنګه اعظمي ضربه واردولی شو. ستراتيژي ديو هنر مند د مفکورې سره، په داسې حال کښې، چې د ستراتيژي پلان د معمار د نقشې سره مقايسه کېدلی شي.

هغه هلې ځلې هم ښايي چې ستراتيژۍ کښې شامل شي چې دارنګه ستراتيژيکي حالت ته انکشاف ورکړي، چې د آزادي غوښتونکو خورا په ګټه وي او چې مقابل لورې ته وښيي چې مخامخ جګړه محققاً به د دوی د ماتې سبب وګرځي او له دې کبله به بې د ښکاره جګړې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تسلیم شي. او که نه نو، ددې هلو ځلو په واسطه د مناسبې ستراتیژیکي حالت راتګ به د آزادي غوښتونکو بریالیتوب محقق وګرځوي. د لاس ته راوړل شوو کامیابیو نه سمه ګټه آخیستل هم د ستراتیژۍ وظیفه ګڼل کیږي

. د مبارزې د جریان مطابق، ستراتیژیکي پلان د یوې جګړې د پر مخ بیولو اساسي مفکوره ده چې څرنګه جګړه پر مخ ولاړ شي او هم څرنګه ئې ځانګړې اجزاوې ښایي چې سره یو ځای کړي، تر څو هدف ته د رسېدلو لپاره په ډیره ګټوره توګه مرسته وکړي. دا د مخصوصو عملیاتو ګروپونه په کوچني عملیاتو کښې په مهارت سره په کار آچوي. د یوې سیمې ستراتیژیکي پلان ښایي چې د بریالیتوب ایجابات په عملیاتو کښې د مبارزې د یو ټاکل شوي اصول په اساس په نظر کښې ونیسي. مختلف اصولونه به مختلف ایجابات ولري. یوازې د " ایجاباتو" تر سره کول البته د بریالیتوب د تحقق لپاره کافي نه ده، او نورو اسبابو ته به هم اړتیا وي.

د ستراتیژۍ د طرح کولو په وخت کښې دیموکراتان ښایي چې خپل هدفونه په روښانتیا سره تعریف،او تعین کړي چې څرنګه د هلو ځلو مؤثریت، دې هدفونو ته د رسیدلو لپاره متوافق کړي.

دا تعریف او تحلیل ستراتیژستانو ته اجازه ورکوي چې دقیق اړتیاوې د هر ټاکل شوي هدف د ترلاسه کولو لپاره تشخیص کړي. روښانتیا او تعریف ته لکه چې په ستراتیژۍ کښې ورته ضرورت دی په تکتیکي پلان جوړولو کښې هم یو رنګ ورته اړتیا ده.

تکتیک او د فعالیت میتودونه د ستراتیژۍ د عملي کولو لپاره په کار آچول کیږي.

په یو محدود وضعیت کښې په ډیر مهارت سره د خپلو قوتونو پکار آچول تکتیک بلل کیږي. تکتیک یو لنډ عملیات دی چې یو محدود هدف ته د رسیدلو لپاره په کار آچول کیږي. د تکتیک وظیفه د هغې مفکورې په اساس اداره کیږي چې څرنګه د جګړې په یوه محدوده مرحله کښې د ستراتیژۍ د تر سره کولو لپاره د جګړې موجوده وسیلې په کار واچوو.

د ډیر زیات آغیزمنتوب لپاره، تکتیک او میتودونه د ستراتیژیکي هدفونو ته د رسیدلو په مقصد باید په دوامداره پاملرنه انتخاب او په کار واچول شي. تکتیکي لاس ته راوړنې چې د ستراتیژیکي هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره مرسته نه کوي، په پای کښې به یوه ضایع شوي انرژي ثابت شي.

نو تکتیک د پراخې ستراتیژۍ یوه برخه جوړوي. تکتیک تل دمبارزې سره کار لري په داسې حال کښې چې ستراتیژي د پراخو ملاحظاتو(کتنو) سره اړیکې نیسي. یو خاص تکتیک، د یوې جګړې یا مبارزې د ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه ګڼل کیدای شي. تکتیک نظر و ستراتیژۍ ته د لنډې مودې لپاره یا د کوچني سیمې( جغرافیایي، مؤسسې او نور ...) ، یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدود شمېر خلکو يا ډېر محدودو اهدافو لپاره په کار آچول کيږي. د عدم تشدد په عملياتو کښې، د يو تکتيکي او ستراتيژيکي هدفونو تر مينځ توپير به قسماً دارنګه وښودل شي چې يو هدف کوچنی دی او يا که لوی. تعرضي تکتيکي جګړه ځکه انتخابيږي چې د ستراتيژيکي هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره مرسته وکړي. تکتيکي محاربې د ستراتيژستانو لپاره داسې وسيلې دي چې د هغوی سره داسې حالات را مينځ ته کوي چې پر دښمن باندې قاطع حمله اجرا کړي. لدې کبله، ډېر مهم دی هغه کسان چې د تکتيکي عملياتو د پلان جوړولو او اجرا کولو مسؤ ليت لري د وضعيت د محاکمه کولو او ددې لپاره د ټولو نه د مناسب ميتود د انتخابولو پوره مهارت و لري. هغه کسان چې په عملياتو کښې برخه نيسي بايد چې د ټاکل شوې تکتيک او مشخص ميتود په استعمال کښې تربيه شوي وي.

- ميتود، مشخصې وسلې او يا د عملياتو وسيلو ته اشاره کوي. د عدم تشدد د مبارزې په اصولونو کښې يو ډېر زيات شمير د عملياتو شکلونه شامل دي ( لکه د اعتصابونو ډېر ډولونه، تحريمونه او سياسي عدم همکاري او نور...) چې په پنځم فصل کښې بيان شوي دي.( ضميمه هم وګورئ) . د عدم تشدد د مبارزې لپاره د اعتبار وړ او اغيزناکه ستراتيژيکي پلان ته انکشاف ورکول په احتياط سره د لويي ستراتيژی، ستراتيژي، تکتيک، او ميتود په تنظيم او ټاکلو پورې اړه لري.

دا بحث مونږ ته راښيي چې د انسان د فهم يو محاسبه شوي استعمال په کار دی چې دديکتاتوری نه د خلاصولو لپاره په احتياط سره د ستراتيژيکي پلانجوړولو کښې ترې نه کار واخيستل شي. په هوښيارۍ سره پلان نه جوړول د تباهۍ د مينځ ته راتللو سره مرسته کوي،په داسې حال کښې چې په اغيزناکه توګه د خپل عقلي ظرفيت په کار آچول يو داسې ستراتيژيکي تګ لاره برابروي چې په منطقي ډول موجوده منابع په کار آچوي چې ټولنه د آزادۍ او ديموکراسۍ د هدف خوا ته ويسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوم فصل

## د پلان جوړولو ستراتیژي

د بریالیتوب د احتمال د زیاتولو لپاره، د مقاومت مشران به ضرورت ولري چې د عملیاتو یو داسې هر اړخیزه پلان تنظیم کړي چې د مظلومو او ځپل شوو خلکو موقف پیاوړی، دیکتاتوری کمزورې او په پای کې یې نسکوره کړي. او پر ځای یې یو دوام لرونکې دیموکراسي تاسیس کړي. د داسې مؤثرو عملیاتو د پلان جوړولو لپاره په غور سره د وضعیت محاکمه، او د احتمالي طرز د حرکت, د امکاناتو تدقیق ته ډیره اړتیا ده. دداسې دقیق تحلیل نه هم یوه لویه ستراتیژي، او هم دیوې مشخصې مبارزې ستراتیژي دواړه لاس ته راتلای شي. که څه هم سره نژدې اړه لري ، خو د لو ئي ستراتیژۍ او د مبارزې ستراتیژي تکمیلول دوې جلا مرحلې او جریانونه دي. یواځې وروسته له دې نه چې لویه ستراتیژي تکمیل شي، نو بیا د مبارزې یا جګړې مشخصه ستراتیژي تکمیلیدلای شي. د جګړې ستراتیژي باید داسې طرحه شي چې د لوئې ستراتیژۍ هدفونه لاس ته راولي او هم ئې پیاوړی کړي. د مقاومت د ستراتیژۍ انکشاف ورکول ایجاب کوي چې ډیرو مسایلو او وظیفو ته پاملرنه وشي. دلته باید ځینې مهم عوامل چې ښایي تر کتنې لاندې ونیول شي ، که د لویې ستراتیژۍ په سطح وي یا د مبارزې د ستراتیژۍ په سطح، باید تشخیص او وپیژندل شي. ټول ستراتیژیکي پلان جوړونې ایجاب کوي چې د مقاومت پلان جوړونکي باید د جګړې

دټول وضعیت نه بنستیزه پوهه ولري. چې په دې کښې پاملرنې فیزیکي، تاریخي، حکومتي، نظامي ، کلتوري،اجتماعي، سیاسي، سیکالوژیکي،اقتصادي او بین المللي فکتورنوته شامل دي. ستراتیژۍ یواځې د یوې خاصې مبارزې په چوکات او سوابقو کښې انکشاف موندلی شي. د دیموکراسی د لاربښونکو او د ستراتیژۍ د مبارزې د هدفونو او د مقصد اهمیت، پلان جوړونکو ته د څېړنې لپاره اساسي اهمیت لري. آیا دا هدفونه په یوې عمده مبارزې ارزي ، او ولې؟ دا خورا مهم دی چې د مبارزې حقیقي مقصد تعین کړو.مونږ دلته بحث وکړو چې د اوسني دیکتاتور نسکورول او یا لرې کول کافي نه ده. د دغو مبارزو هدف باید د یوې آزادې ټولنې تاسیس د یو دیموکراتیکي سیستم د حکومت سره وي. ددې موضوع روښانتیا به د لوئې ستراتیژۍ او د نورو مشخصو ستراتیژیو تکمیلولو باندې سمه آغیزه ولري.

خصوصاً د ستراتیژۍ پوهانو باید لاندني اساسي سوالونو ته ځواب ورکړي:

- آزادۍ ته د رسیدلو په لاره کښې کوم اساسي موانع شته دي؟

- کوم عوامل به آزادۍ ته رسیدل آسانه کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د دیکتاتوری اصلي زور او قوت د کومو عواملو نه دي؟

- د دیکتاتوری مختلفي کمزورتیاوې کوم دي؟

- د قدرت منابع په کومې درجې د دیکتاتوری لپاره زیان منونکي دي؟

- د دیموکراتیکي قوتونو او د عمومي خلکو زور او قوت کوم دي؟

- د دیموکراتیکي قوتونو کمزورتیا کوم دي او څرنګه سمیدلی شي؟

- د دریمګړي ډلو وضعیت چې اوس په مبارزې کښې ګډ نه دي، کومه ډله اوس او یا وروسته د دیکتاتوری او یا ددیموکراسی د نهضت مرسته کړي او یا به وکړي؟

## د وسایلو انتخابول

د لویې ستراتیژی په سطح پلان جوړونکي به ضرورت ولري چې د مبارزې اصلي وسایل چې په راتلونکې جګړې کښې په کار لویږي انتخاب کړي. ګټې او نقصانونه باید د څو احتمالي د حرکت طرزونه چې په مبارزې کښې په کار آچول کیږي، لکه معمولي عسکري محاربې، ګوریلائي جګړې، سیاسي سر غړونې او نور وڅیړل شي.

ددې انتخاب لپاره، ستراتیژي جوړونکي باید لاندني سوالونو په پام کښې ونیسي:

- آیا د مبارزې غوره شوي ډول د آزادي غوښتونکو په توان کښې دی؟

- آیا انتخاب شوي لارې چارې (تکنیک) ، هدف د دیکتاتوری کمزوري ځایونه دي او یا یې په خورا غښتلي برخې ګوزار کوي.

- آیا وسایل آزادي غوښتونکو سره مرسته کوي چې پر ځان متکي وي او یا دریمې ډلې، یا باندني مرسته کونکي ته اړتیاده؟

- د انتخاب شوو وسایلو د په کار آچولو سوابق( ریکارډ) د دیکتاتوری د نسکورولو په برخه کښې.

- آیا دا وسایل، تلفات او تخریبات چې په راتلونکې جګړې کښې راپیښیږي ډیروي ئې او یا ئې لږوي.

- فرض کوو چې مبارزه د دیکتاتوری په ویجاړولو کښې بریالی شوه، انتخاب شوي وسایل به په طرز د هغه حکومت چې ددې مبارزې د شا نه راولاړیږي څرنګه وي.

هغه اقدام چې بې ګټې وي باید د لویې ستراتیژی نه وایستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پخواني فصل کښې مو وويل چې سياسي سر غړونه د مبارزې په نورو ډولونو باندې د پاملرنې وړ نسبتي ښېګڼې لري. ستراتيژي جوړونکي بايد د خپلې جګړې مخصوص وضعيت وازمايي، او تعين کړي چې سياسي سر غړونه پورتني سوالونو ته مثبت ځواب برابرولی شي او که نه.

## د ديموکراسۍ(آزادۍ) لپاره پلان جوړول

بايد په ياد وساتل شي چې د ديکتاتورۍ پر ضد د لوی ستراتيژۍ هدف يواځې د ديکتاتورانو نسکورول نه ، بلکه د يو ديموکراتيک سيستم ځای پر ځای کول دي چې د بلې ديکتاتورۍ

راپاځيدل غير ممکن( ناشوني) وګرځوي. ددې اهدافود تر سره کولو لپاره, دمبارزې د وسايلو انتخاب بايد په ټولنې کښې د مؤثر قدرت د ويش د تغير سره کومک وکړي. معمولاً د ديکتاتورۍ لاندې خلک او د ټولنې مؤسسات ډېر کمزوري او حکومت ډېر زورور وي. تر څو چې دا بې انډولي له مينځه لاړ نه شي، د اداره کونکو يوه نوې ډله، که دوی وغواړي کيدلی شي چې کټ مټ لکه د پخوانۍ ډلې ديکتاتور و اوسي. د " شاهي قصر انقلاب" او يا نظامي کودتا په کار نه ده.

څرنګه چې په پنځم فصل کښې وڅيړل شو، سياسي سر غړونه په برابره توګه د ديکتاتورۍ په مقابل کښې د ټولنې د سمبالولو د لارې، د مؤثر قدرت د ويش سره مرسته کوي. دا مراحل په څو لارو واقع کيږي. د عدم تشدد د مبارزې د ظرفيت انکشاف دا معني لري چې د ديکتاتورۍ د تشدد کونکې مخ نيوی استعداد او ظرفيت نور داسې په آسانۍ سره د خلکو په زړونو کښې ډار اود تسليميدلو روحيه توليد نکړي. خلک به په خپل لاس کښې زورور وسايل ولري چې د ديکتاتور د زور آچولو سره مقابله وکړي او ځينې وختونه يي د زور د په کار آچولو مخه ونيسي. بر سيره پر دې، د خلکو د عمومي قدرت سمبالول د سياسي سر غړونې د لارې نه به د ټولنې آزاد مؤسسات پياوړی کړي.

دقدرت د مؤثر په کار آچولو تجربه ژر نه هيريږي. هغه پوهه او تجربه چې خلکو د مبارزې نه آخيستی دی، د دوی تابع کول راتلونکي ديکتاتورانو ته لږ محتمل کوي. د قدرت په تناسب کښې دا انتقال به په پای کښې د يوې تلپاتې ديموکراتيکې ټولنې راجوړيدل به ډېر محتمل وګرځوي.

## خارجي مرستې

د لويې ستراتيژۍ د يوې برخې د احضارولو په حيث ضرور دی چې د ديکتاتورۍ د ټو ټې ټوټې کولو د پاره د کورنۍ مقاومت او بهرنۍ فشار نسبتي نقش وڅيړل شي. پدې تحليل کښې مونږ وويل چې د مبارزې اصلي قوتونه د هيواد د داخل نه بايد را ولاړ شوی وی. تر دې حده پورې که نړيواله مرسته هم راورسيږي، بايد د کورنۍ مبارزې له خوا نه تحريک شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. د دیکتاتورۍ پر ضد په انساني، معنوي او مذهبي احساسات د نړیوالې عمومي عقیدې د راپارولو لپاره هلې ځلې کیدای شي چې د آزادي غوښتنې د نهضت لړ ملاتړ وکړي.
همدارنګه هلې ځلې کیدای شي چې د دیکتاتورۍ په مقابل کښې د دیپلوماتیکي، سیاسي ، او اقتصادي بندیزونه د حکومتونو او نړیوالې ټولنې نه لاس ته راوړل شي. دا بندیزونه کېدای شي چې د اقتصادي او نظامي وسلو باندې توقیف، د دیپلوماتیکي پیژندنې د سطحې ټیټول، او یا د دیپلوماتیکي اړیکو پرې کول، د اقتصادي مرستو بندول، په دیکتاتوري هیواد کښې د پانګې آچولو ممنوعیت، او د دیکتاتوري حکومت اخراج د مختلفو نړیوالو مؤسسو او ملګري ملتونو د تشکیل نه، شامل وي.

برسیره پر دې، نړیوالې مرستې لکه د مالي او ارتباطاتو کومکونه کیدلی شي چې نیغ په نېغه

آزادي غوښتونکو ته ورکړل شي.

## دلویې ستراتیژۍ تنظیمول

وروسته د وضعیت د محاکمې نه ، د وسایلو د انتخاب او بهرني کومکونو د نقش د تعینولو نه د لويې ستراتیژۍ طرح کونکي به ضرورت ولري چې په غټو ټکو طرح وکړي چې جګړه څرنګه باید پر مخ ویوړل شي. دا جامع نقشه به د موجوده وخت نه تر راتلونکي آزادۍ پورې په نظر کښې نیسي. د لويې ستراتیژۍ د تنظیمولو په وخت کښې، پلان جوړونکي باید له ځانه رازراز پوښتنې وکړي. لاندني پوښتنې مطرح کیږي( د پخوا نه په ډیر مشخص ډول) د سیاسي سر غړونې د مبارزې لپاره کله چې لویه ستراتیژي جوړیږي کوم کارونه باید اجرا شي:

څرنګه د اوږدې مودې مبارزه په ډیر ګټور ډول پیل کېدلی شي؟ څرنګه کېدلی شي چې کړېدلي خلک په کافي اندازه پر ځان باور او زور پیداکړي ، چې دیکتاتورۍ ته ګواښ وکړي، که څه هم د لنډې مودې لپاره وي؟ څرنګه کېدلی شي چې د خلکو همکاري نه کولو او سیاسي سر غړونې ظرفیت د وخت په تیریدلو او تجربې سره لوړشي؟ د یوې سلسلې محدودو عملیاتو هدفونه به څه وي چې د دیموکراتیک کنترول او د دیکتاتورۍ د محدودولو لپاره اجراکیږي؟

آیا خپلواکې مؤسسې شته چې د دیکتاتورۍ نه روغ پاتې شوې وي او د آزادۍ د ګټلو لپاره په کار واچول شي؟ د دیکتاتور د کنترول نه د ټولنې کوم مؤسسات بیرته آخستل کېدای شي، او آیاآزادي غوښتونکي نوي مؤسسې په وجود راوړلی شي چې هغو ضرورتونو ته ځواب ورکړي او د دیموکراسۍ ساحه(ماحول) مینځ ته راولي، که څه هم دیکتاتورۍ لاهم خپلې ادارې ته دوام ورکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه په مقاومتي قوتونو کښې تشکيلاتي قوت زياتولی شو؟ ګډون کونکي څرنګه روزل کېدلی شي؟ کوم منابع(مالي، تجهيزات، او نور) به د مبارزې په جريان کښې ضرورت وي؟ د خلکو د سمبالولو لپاره کومې علامې او ښودنې به د ټولو نه مؤثر وي؟

د کوم رنګ اخ او ډب سره ، او په کومې مرحلې کښې د ديکتاتور د قدرت منابع په زياتيدونکي توګه کمزوری او پرېکېدلی شي؟ څرنګه مقاومت کونکي خلک په عين وخت کښې خپلې سر غړونې ته دوام ورکولی شي او هم خپل د عدم تشدد انضباط ( دسپلين) ساتلی شي؟ څرنګه ټولنه کولی شي چې خپل اساسي ضرورتونه د مبارزې په دوام کښې رفع کړي؟ څرنګه د جګړې په دوام کښې ټولنيز نظم ساتل کېدلی شي؟ کله چې بريالیتوب رانږدې کيږي ،آزادي غوښتونکي څرنګه مقاومت کولی شي چې د ديکتاتورۍ نه وروسته مؤسساتي بنسټ جوړ کړي تر څو انتقالي دوره څومره چې امکان و لري په آرامۍ سره تېره شي؟ بايد په ياد ولرل شي چې هيڅ داسې يواځينی نقشه وجود نلري او جوړېدلی نشي چې د هر آزادي غوښتونکي نهضت لپاره د ديکتاتورۍ په مقابل کښې ستراتيژيکي پلان په توګه کار ورکړي. هره مبارزه چې پکښې ديکتاتوري نسکوره کيږي او پر ځای يې ديموکراسي جوړيږي تر يوې اندازې توپير لري. دوه وضعيتونه هيڅکله کټ مټ يو رنګ نه وي، هره ديکتاتوري به خپل ځانګړي خاصيتونه لري، او هم د آزادي غوښتونکو خلکو زور او ظرفيت هم فرق لري. د سياسي سر غړونې د مبارزې لپاره د لويې ستراتيژۍ پلان جوړونکي به يو اساسي پوهې ته نه يواځې د خپل مشخص جګړئيز حالت ته اړ دي، بلکه خپل د جګړې د انتخاب شوو وسايلو نه هم بايد پوره او اساسي پېژندنه ولري.

کله چې د مبارزې لويه ستراتيژي په احتيا ط سره طرح شوه،د سمو دلايلو په اساس دا بايد په پراخه ډول خلکو ته وښودل شي. هغه لوی شمېر خلک چې بايد په مبارزه کې ګډون وکړي ډير به وغواړي او توان به ولري چې مبارزه وکړي، په هغه صورت کې که په عمومي مفکورې او مشخصو تعليماتو باندې پوه شي. معلومات به احتمالاً د هغوی په مورال،دګډون کولو غوښتنه، او مناسب عمل کولو باندې به يو مثبت آغيزه ولري. د يوې ستراتيژۍ غټې ټکي به ديکتاتور ته هم په هر حا لت معلوم شي او د هغه د کيفيت نه پوهيدل به احتمالاً د دوی دځپلو شدت کم کړي،ځکه چې دوی به پوه شي چې په سياسي توګه دا به د دوی پر ضد را ګرځيدلی شي.

د لويې ستراتيژۍ په مخصوصو خاصيتونو پوهيدل د ديکتاتور د پلويانو تر مينځ به د ناراضيتوب او تېښتې سره مرسته وکړي.

کله چې د ديکتاتورۍ د نسکورولو او د يو ديموکراتيک سيستم د تاسيسولو لپاره د لويې ستراتيژۍ پلان قبول شو،نو د ديموکراسۍ د پلويانو لپاره خورا مهمه ده چې يې په کار آچولو باندې ټينګار وکړي. يواځې په ډيرو نادرو حالاتو کښې مبارزه کيدای شي چې د لويې ستراتيژۍ نه منحرف شي. يو دا چې ډير شواهد موجود وي چې ټاکل شوې لويه ستراتيژي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلطو مفکورو په اساس احضار شوی وي، او یا د مبارزې څرنګوالی په اساسي توګه بدل شوی وي. نو پلان جوړونکي کولی شي چې لویې ستراتیژۍ ته تغیر ورکړي. حتي په دې حالت کښې هم ، دا تغیر یواځې وروسته د یو اساسي بیا څېړنې او د یوې مناسب نوي لویې ستراتیژیکي پلان د پراختیا ورکولو او تعدیلولو نه صورت نیسي.

## د مبارزو د ستراتیژیو طرح کول

د دیکتاتورۍ د خاتمه ورکولو او د دیموکراسۍ د ځای پر ځای کولو لپاره که لویه ستراتیژي هر څومره معقوله او امید بخښونکی هم وي بیا هم پخپله ځان نشي عملي کولی. په خاصه توګه، ستراتیژي باید داسې پراختیا ورکړل شي چې د هغه عمده جګړو لار ښوونې وکړي چې د دیکتاتور د قدرت د راپرزولو ته متوجه شوی وي.

دا ستراتیژي پخپل وار سره یو ځای او یو سلسله تکتیکي جګړې به هدایت کړي چې دیکتاتوري رژیم ته متوجه او ورته قاطعه ګذار ورکړي. تکتیکونه او د عملیاتو مشخص میتودونه باید په احتیاط سره انتخاب شي، دارنګه چې د هرې مخصوصې ستراتیژۍ هدف ته د رسیدلو لپاره باید مرسته وکړي. دلته بحث منحصراً په سمه توګه د ستراتیژۍ په سطح متمر کز کیږي.

ستراتیژي چلونکي چې عمده جګړي طرح کوي، لکه د لوئې ستراتیژۍ پلان جوړونکي به ضرورت ولري چې د مبارزې د ټاکل شوي اصول په څرنګوالې او طریقه د عملیاتو په دقت سره پوه شي.

عیناً چې یو نظامي افسر باید دخپل د قوتونو تشکیلات، تکتیک، لوژستیک، جبه خانه ، د اراضي تاثیر او نور عواملو باندې د نظامي ستراتیژۍ د طرح کولو لپاره پوه شي، همدارنګه د سیاسي سر غړونې پلان جوړونکي هم باید د عدم تشدد د مبارزې په ستراتیژیکي اصولونو او څرنګوالي باندې پوره معلومات ولري. سره لدې، چې حتي د عدم تشدد په برخه کې پوهه یواځې ددې کتاب نظریاتو ته په پاملرنې سره او د هغو سوالونو د ځواب ورکولو سره چې دلته طرح شوي ستراتیژي مینځ ته نشي راتلای. د مبارزې لپاره د ستراتیژۍ تنظیمول لاهم یو بصیرت لرونکې خلاقیت ته ضرورت لري.

د یو مشخص ټاکل شوي مقاومت د مبارزې ستراتیژي لپاره پلان جوړول او د اوږد مهالې آزادي غوښتونکي جګړې لپاره ئې ورته پراختیا ورکول د سیاسي سر غړونې ستراتیژي جوړونکو به ضرورت ولري چې مختلف موضوعات او مسایل وڅیړي،چې په لاندني ډول دي:

- د مبارزې لپاره مشخص هدفونه او د لویې ستراتیژۍ په تطبیق کولو کښې د هغوی مرسته کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-هغو مشخصو میتودونو او یا سیاسي وسلو ته پاملرنې کول، کوم چې د تاکل شوي ستراتیژۍ د تطبیق لپاره په ډیره ګټوره توګه په کاریدلی شي. د هرې ستراتیژیکي مبارزې په عمومي پلان کښې دا به ضرور وي چې معلوم کړو کوم ورکوټي تکتیکي پلان او د عملیاتو میتود باید استعمال شي چې د دیکتاتور د قدرت منبع محدود او تر فشار لاندې ئې ونیسي. باید په یاد ولرو چې عمده هدفونو ته رسیدل د مشخصو کوچنیو ګامونو په احتیاط سره د آخیستلو د نتیجې نه لاس ته راځي.

- باید معلوم کړو چې آیا اقتصادي مسایل ښایي چې د اصلي سیاسي مبارزې سره ارتباط ورکړل شي. که چیرې اقتصادي مسایل په مبارزې کښې مهم وي، نو توجه لازم دی چې اقتصادي شکایتونه به وروسته د دیکتاتورۍ نه پای ته ورسیږي. که دیموکراتیکي ټولنې ته د انتقالي دورې په وخت کښې اقتصادي ستونزو ته کوم چټک حل پیدا نه شي نو په خلکو کښې ناراضي توب او زړه سوړوا لی به له سره پیل شي. دارنګه ناراضیتوب کېدای شي چې د دیکتاتورۍ د بیا راتللو لپاره چې د اقتصادي ستونزو د لیرې کولو وعده ورکوي سبب وګرځي.

- له مخکښې نه تعینول چې د مشرتوب کوم ډول ښه او د ارتباط سیستم د مقاومت د مبارزې د پیل کولو لپاره ډیر ښه کار ورکوي. د تصمیم نیولو او ارتباط کومې وسیلې به ممکن وي چې د مبارزې په جریان کښې مقاومت کونکو او عمومي خلکو ته دوامداره لار ښودنه تامین کړي.

- د مقاومت کونکو د خبرونو د رسولو طریقه عمومي خلکو ، د دیکتاتور قوتونه، او نړیوالې مطبوعاتو ته. ادعاګانې او راپورونه باید تل په کلکه ریښتیا وي، ځکه چې مبالغې او بې اساسه

ادعاګانې به د مقاومت اعتبار ته ضرر ورسوي.

- پر ځان باندې متکي او جوړونکي ټولنیز، ښوونې او روزنې، اقتصادي او سیاسي فعلیتونو لپاره پلانونه جوړول چې خپل خلک پر ځان ډاډه او د راتلونکې مبارزې لپاره د هغوی اړتیاوې لرې کړي. دارنګه پروژې د هغو خلکو له خوا نه اداره کېدلی شي چې مستقیماً د مقاومت په فعالیتونو کښې لاس ونه لري.

- باید تعین شي چې کوم ډول بهرنی مرستې د مشخصو جګړو او یا د آزادۍ د عمومي مبارزې د حمایې لپاره پکار دی. باندنې مرستې څرنګه په ډیره ښه ښه د استفادې لپاره تیاریدلی شي بې له دې نه چې کورنی مبارزه د باندنی مبهمو عواملو سره وتړو؟ پاملرنه باید وشي چې کوم خارجي ډله ډیر احتمال لري او ډیر مناسب دی چې مرسته وکړي، لکه غیر حکومتي تشکیلات ( ټولنیز نهضتونه، مذهبي یا سیاسي ډلې، کارګري اتحادیې او نور) حکومتونه یا ملګري ملتونه او د هغې مختلفې څانګې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برسيره پر دې ، د مقاومت پلان جوړونکي بايد تدابير ونيسي چې نظم خوندي وساتي، او د خپلو قوتونو سره ټولنيز اړتياوې د ديکتاتورۍ د کنترول په مقابل کښې د کتلوي مقاومت په وخت کښې لرې کړي. دا اقدام نه يواځې بل مستقل ديموکراتيک ساختمان جوړوي او اساسي ضروريات لرې کوي بلکه همدارنګه د هغې ادعاګانې اعتبار او ارزښت به لږ کړي چې وايي بې رحمه ځپلو ته ضرورت دی چې ګډ وډې او بې قانوني ودروي.

## د همکاري نه کولو عقيدې خپرول

د ديکتاتورۍ په مقابل کښې بريالی سياسي سر ګړونه، ضرورت لري چې خلک د همکاري نه کولو پر عقيدې بايد پوه شي. څرنګه چې د "بيزوګانو د خاوند" په کيسې کښې (دريم فصل)

وښودل شو اساسي مفکوره ساده ده: که د مادونانو کافي شمېر د کافي مودې لپاره د ځپل کېدلو د پاسه هم د ظالم رژيم د همکارۍ نه مخ واړوي، نو نا روا سيستم به کمزوری او په پای کښې به دړې وړې شي.

هغه خلک چې د ديکتاتورۍ لاندې ژوند کوي، ښايي همدا اوس به د مختلفو منابعو نه دې مفکورې سره آشنا وي. تر دې ځايه پورې چې ديموکراتيکي قوتونه بايد قصداً په (لوی لاس) د همکارۍ نه کولو عقيده خپره او د خلکو په مينځ کې رواج کړي. د "بيزوګانو د خاوند کيسه" او يا بله مشابه کيسه کيدای شي چې په ټولنه کې خپره شي. دا رنګه کيسه ډېر په آسانۍ سره پوهول کيدای شي. يو ځل چې د همکارۍ نه کولو عمومي مفکوره درک شوه خلک به وکولی شي چې په راتلونکې کې د همکاري نه کولو د غوښتنې په اړوند چې د ديکتاتورۍ په مقابل کې تر سره کړي پوه شي. همدارنګه دوی به وکولی شي چې پخپله د همکاري نه کولو مشخص شکلونه د نوې وضعيتونو لپاره په ډېر شمير سره ډېر ژر جوړ کړي.

سره له دې، چې د ديکتاتورۍ لاندې دارنګه هڅې، چې عقايد ، اخبار، او د مقاومت تعليمات مراجعو ته لېږل سخت او خطرناکه ده، خو ديموکراتانو ډير ځل په اثبات رسولي چې دا کار ممکن دی. حتي د نازي جرمني او کمونيستي ادارې لاندې د مقاومت کونکو لپاره دا ممکنه وه چې نه يواځې د نورو اشخاصو سره، بلکه د يو لوی عوامو اوريدونکو او ليدونکو سره د غير قانوني اخبارخپروني، کتابونه او په وروستيو کلونو کې د غږ او تصوير د کسيتونو په واسطه اړيکې ټينګې کړي.

د مخکښې ستراتيژيکي پلان په مرستې، عمومي لار ښودنې د مقاومت لپاره تياريدلی او توزيع کيدلی شي. دا لار ښودنې به خلکو ته مسئلې او حالتونه وښيي چې دوی کله پروټست او يا خپله همکاري د ديکتاتورۍ سره بند کړي او څرنګه يې اجرا کړي. وروسته، حتي که د ديموکرات مشرۍ نه ارتباط پرې هم شي او ځينې تعليمات صادر نه شول او يا ونه رسېدل نو بيا هم خلک به وپوهيږي چې د معينو مهمو مسايلو په برخه کښې څرنګه ګام واخلي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاربښودنې، په عين حال کښې مقاومت کونکو ته معلومات هم ورکوي چې هغه جعلي او غلط " د مقاومت کونکو تعليمات" تشخيص کړي چې د سياسي پوليسو له خوا نه صادريږي او د دوی لپاره طرح شوی وي چې د بدنامه کونکو اعمالو تر سره کول تحريک کړي.

## ځپل او مقابل اقدام

ستراتيژيکي پلان جوړونکي بايد چې د ديکتاتوری احتمالي ځواب او ځپل وڅيړي،مخصوصأ د ديکتاتور د تشدد سويه د ديموکراتيک مقاومت د عملياتو په مقابل کې. ډير ضرور دی چې تعين شي چې څرنګه د ځپلو په مقابل کې مقاومت او عکس العمل وښودل شي او يا بې له تسليميدلو ور نه مخ نيوی وشي. اصولأ ، په مخصوصو حالاتو کې، د ديکتاتور د احتمالي ځپلو په برخه کې د خلکو او مقاومت کونکو لپاره د لازمو اخطارونو صادرول ضرور وي، تر څو دوی د ګډون کولو په خطر له مخکې نه پوه وي. کيداي شي چې ځپل ډير سخت وي نو د ژوبل شوي مقاومت کونکو لپاره د طبي مرستو تياري هم ضرور دی.

د ځپلو پيش بيني ( مخکې ليد) ، به ستراتيژي جوړونکي په ښه ډول وړ وګرځوي چې له مخکې نه د هغو تکتيکونو او ميتودونو استعمال د نظر لاندې ونيسي چې د جګړې کوم ځانګړې هدف يا د آزادۍ د لاس ته راوستلو سره مرسته کوي، ولې د بې رحميو او ځپلو احتمال کموي او يا يې امکان لږوي. د مثال په توګه،د سرکونو مظاهرې او رسم ګذشتونه د سختې ديکتاتورۍ په وړاندې کيدای شي چې د زرهاؤ مړه مظاهره کونکو سبب وګرځي. د مظاهره کونکو لوړ تاوان(ضايعات) ښائي چې په واقعيت کې ديکتاتور باندې دومره زور ور نه وړي لکه چې که هر څوک د اعتصاب په ډول او يا د ملکي کار کونکو له خوا نه د ډله ئيزو همکاري نه کولو په شکل په خپلو کورونو کې پاتې شي.

که چيرې وړانديز شوی وي چې د يو ستراتيژيکي هدف لپاره تحريک کونکي مقاومتي عمليات د ډيرو تلفاتو سره مخامخ کيږي، نو بايد چې په دې حالت کې تلفات او احتمالي لاس ته راړنه په احتياط سره وڅيړل شي. آيا خلک او مقاومت کونکي به د عملياتو په دوران کې دسپلين او عدم تشدد احتمالأ مراعات کړي؟ آيا دوی به تشدد ته د تحريکيدلو په مقابل کې مقاومت وکولی شي؟

پلان جوړونکي ښائي په نظر کې ونيسي چې کوم تدبيرونه بايد ونيول شي چې هم د عدم تشدد انضباط او هم مقاومت، د بې رحمو ځپلو سره سره وساتي. آيا دارنګه تدبيرونه لکه وعدې، د کړنلارې بيان،د انضباط د تطبيقولو ورقې،د مظاهراتو د کنترول آمر، او د تشدد د پلوي اشخاصواو ګروپونو تحريم به ممکن او مؤثر وي؟ مشران بايد تل ويښ وي چې د مبارزينو په مينځ کښې دديکتاتورۍ لمسونکي استازي چې د هغوی وظيفه په مظاهراتو کښې د تشدد تحريکول وي وپيژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ستراتيژيکي پلان عملي کول

کله چې يو سم ستراتيژيکي پلان تکميل شو، نو ديموکراتيک قوتونه بايد د ديکتاتور د کوچنيو حرکاتو نه چې ښائي دوی ته شک واچوي، چې د لوئې ستراتيژۍ او يا ديوې جګړې د مخصوصې ستراتيژۍ نه لرې شي او د دوی توجه د مهمو عملياتو نه غير مهمو مسيلو ته واړوي منحرف نه شي. او هم د وخت حساسيت لکه د ديکتاتور نوي بې رحمۍ، بايد آزادي غوښتونکي مقاومت د خپل لوئې ستراتيژۍ او يا د مبارزې د ستراتيژۍ نه بلې خوا ته ونه ګرځوي. دا بې رحمي ښائي چې په ځيرتوب(دقت) سره په بد نيت ترتيب شوی وي چې ديموکراتيک قوتونه تحريک کړي چې خپل ښه مرتب پلان خوشې کړي او حتي تشدد ته لاس پورې کړي، ددې لپاره چې بيا ديکتاتور وکولی شي چې ډير په آسانۍ سره دوی مات کړي.

کله چې اساسي تحليل ومنل شو، د ديموکراسي غوښتونکو قوتونو وظيفه بايد پړاو په پړاو مخ په وړاندې ويوړل شي. البته، په تکتيک او منځنی هدفونو کښې تغيرات پيښ شي، او يو ښه لار ښود به تل چمتو وي چې د فرصتونو نه ګټه واخلي. دا تنظيمونې بايد د لويې ستراتيژۍ او يا د مشخصې مبارزې د هدف سره اشتباه نه شي. په احتياط سره د ټاکل شوي لوئې ستراتيژۍ او ستراتيژۍ تطبيقول د يو ځانګړي مبارزې لپاره به ډير زيات برياليتوب سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم فصل

## د سياسي سر غړونې پکار آچول

په هغو حالاتو کښې چې خلک ځانونه بې وسې فکرکوي او ډاريږي، دا مهمه ده چې د دوی لپاره ړومبنی وظيفه، لږ خطره او پخپل ځان د باور د پيداکولو لپاره وي. دا رنګه عمليات، لکه په غير معمولي توګه د جامو آغوستل، په ډاګه د يوې ناموافقې عقيدې ليکل،او د خلکو لپاره دارنګه فرصت برابرول چې په ډير شمير ناموافقې عملياتو کښې ګډون وکړي. په نورو حالاتو کښې نسبتأ يو کوچنی( په ظاهر صورت) يو غير سياسي موضوع( لکه د اوبود تدارکاتود امنيت تأمينول) کيدلی شي چې د ډله ئيز عمل لپاره د پاملرنې مرکز وګرځول شي. ستراتيژستانو ښائي چې داسې موضوع وټاکي چې په عمومي توګه تائيد شي او ردول يې ګران وي. په داسې محدودو مبارزو کښې بريالیتوب، نه يوازې مشخص شکايتونه لرې کيږي بلکه خلکو ته قناعت ورکول کيږي چې دوی د قدرت خاوندان دي.

دمبارزې اکثرې ستراتيژۍ په اوږد مهالي جګړې کښې بايد د ديکتاتورۍ فوري مکمل نسکوريدل خپل هدف ونه ګرځوي بلکه د محدودوهدفونو تر لاسه کولو ته ئې متوجه کړي. او هم هره مبارزه د ټولنې د ټولو برخو ګډون ته اړتيا نلري.

د يو سلسله مشخصو مبارزو په هکله چې په کښې يوه لويه ستراتيژي تطبيق کيږي،د سر غړونې ستراتيژي جوړونکي بايد وپوهيږي چې څرنګه د مبارزې مختلف پړاوونه په شروع، مينځ او پای ته نژدې يو له بله توپير ولري.

### ټاکل شوي مقاومت

د مبارزې په اولنۍ مرحلې کښې، منفردې جګړې د مختلفو مشخصو هدفونو سره کيدای شي چې ډير ګټور وي. دارنګه انتخاب شوي مبارزې ښايې چې يو د بل پسې اجرا شي . کله کله کيدای شي چې دوه يا درې د دوی په يو وخت کښې مخې ته راشي.

کله چې د "انتخاب شوي مقاومت" لپاره ستراتيژي جوړيږي ضرور دی چې ځانګړي محدود مسايل او يا عمومي شکايتونه چې د ديکتاتورۍ ظلم په ډاګه کوي تشخيص کړو.

دا رنګه مسايل کيدلی شي چې د مبارزې د اداره کولو لپاره چې وسطي ستراتيژيکي هدفونه،د عمومي لويې ستراتيژۍ په چوکاټ کښې تر لاسه کړي ډير مناسب هدف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسطي ستراتيژيکي هدفونه بايد د آزادي غوښتونکو په موجود قوت يا طرح شوي ظرفيت

باندې لاس ته راوړل شي. دا ديو سلسله بريالیتوبونو په يقيني کولو کښې مرسته کوي کوم چې د موړال د پاره ګټور او هم د اوږد مهالې مبارزې لپاره په ګټوره توګه د قواوو د مناسبت سره کومک کوي.

د مقاومت انتخاب شوې ستراتيژي بايد لومړئ په مشخصو ټولنيز، اقتصادي او سياسي مسايلو متمرکز شي. ښائي چې دا ددې لپاره انتخاب شوی وي، چې د ټولنيز او سياسي سيستم

ځيني برخې د ديکتاتور د کنترول نه د باندې وساتل شي، ځيني برخې چې اوس د د ديکتاتور د اداري لاندې دي د هغې کنترول بيا لاسته راوستل شي، يا ديکتاتور د يو خاص هدف نه محروم وګرځول شي. که ممکن وي، د ټاکل شوي مقاومت مبارزه بايد پر يوې ضعيفي نقطې، يا د ديکتاتورئ په ډيرو نقطو ځرنګه چې بحث وشو ضربه وارد کړي. په دې وسيلې، آزادي غوښتونکي کولی شي چې د خپل د قوت په موجوده ظرفيت په ممکنه مقياس پر دښمن ډير زيات ضربه وارد کړي.

ستراتيژي جوړونکي بايد ډير د وخته، لږ تر لږه د اولني جګړې پلان جوړ کړي.

چې ددې پوښتنو ځواب ورکړي: ددې مبارزې محدود هدفونه به کوم وي؟ ځرنګه به دا د لوئې ستراتيژئ په تر سره کولو کښې مرسته وکړي؟ که ممکن وي دا ډير معقول کار دی چې لږ تر لږه د دوهمې او که ممکن وي د دريمې جګړې لپاره د ستراتيژيو عمده مطلبونه تنظيم شي. ټول دا ستراتيژئ بايد انتخاب شوي لويه ستراتيژي انجام ته ورسوي او د هغه د عمومي لارښودنې په چوکاټ کښې فعاليت وکړي.

## علامتي(سمبوليک) زور آچونه

د ديکتاتورئ د ورانولو د وسايلو د برابرولو د نوي

مبارزې په پيل کښې،اولني سياسي ښکاره عمليات کيدلی شي چې په خپلو حدودو کښې محدود وي. دا عمليات بايد داسې طرح شوی وي چې قسمأ د خلکو وضعيت و ازمايي او د تاثير لاندې راولي، او دوی د دوام لرونکې مبارزې لپاره د همکاري نه کولو او سياسي سر غړونې د لارې نه چمتو کړي.

اولنی اقدام، احتمال لري چې د علامتي احتجاج او يا کيدای شي چې د علامتي محدود اقدام او يا مؤقتي همکاري نه کولو په بڼه وي. که د هغو خلکو شمير چې غواړي عمل وکړي لږ وي ، نو مقدماتي اقدام، د مثال په توګه به د ګلانو ايښودل په داسې ځای کښې وي چې علامتي(سمبوليک) اهميت لري. د بلې خوا نه، که د خلکو شمېر چې وغواړي په عملياتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې ګډون وکړي ډېر زيات وي،نو په ټولو فعاليتونو باندې د پنځو دقيقود پاره توقف او يا څو دقيقې چوپالی ښايي چې عملي شي.

په نورو حالاتو کښې ،يو څو کسان ښايي چې د لوږې پر اعتصاب لاس پورې کړي يا په يو ځای کښې چې علامتي اهميت ولري ويش چپ کښېني، يا د زده کونکو له خوا صنفونو ته د تللو لنډ تحريم، او يا په يو مهم دفتر کښې موقتي کښيناستل وي. ديوې ديکتاتورۍ لاندې دارنګه زړورتوب ښايي چې د ډېر سخت ځپلو سره مخامخ شي. ځينې علامتي اقدامونه، لکه د ديکتاتور د هستوګنې د ځای او يا د سياسي پوليسو د قرارګاه مخه اشغالول ښايي چې ډېر خطر ولري او لدې کبله دا د يوې مبارزې د شروع کولو لپاره د توصيې وړ اقدام نه دی.

مقدماتي علامتي اعتصابي عمليات ځينې وختونه ډېر مهم ملي او بين المللي پاملرنه پاروي لکه د کوڅې ډله ئيزه مظاهرات په کال ۱۹۸۸ په برما کښې،يا د زده کونکو اشغالول او د لوږې اعتصاب په ۱۹۸۹ کال د تيانمن په ميدان بې جين کښې. په دې دواړو حالاتو کښې د تلفاتو ډېروالی ښئي چې ستراتيژي جوړونکي بايد د جګړو د پلان جوړولو په وخت کښې د ډېر احتياط نه کار واخلي. که څه هم دارنګه عمليات ډېر زيات معنوي او سايکالوژيکي تاثير آچوي، خو دارنګه اقدامونه پخپله ډېر لږ احتمال لري چې ديکتاتورۍ ړنګ کړي، ځکه چې تر ډېر ځايه يواځې علامتي وي او د ديکتاتور د قدرت موضع نه تغيروي. معمولاً ممکنه ده چې د مبارزې په پيل کښې د ديکتاتور د قدرت منبع په بشپړه توګه او چټک ترې نه پرې کړو. حقيقتاً دا ايجاب کوي چې ټول خلک او نژدې د ټولنې ټول مؤسسات چې پخوا رژيم ته تابع وواوس په مطلق ډول ئې ترديد او ناخاپه ورنه د ډله ئيزې همکارۍ نه کولو په واسطه سر غړونه وکړي. او دا تر اوسه پورې نه دی واقع شوی او ورته رسيدل به هم ډېر ګران وي. نو په ډېرو حالاتو کښې د پوره همکارۍ نه کولو او سر غړونې چټکه مبارزه د نهضت په پيل کښې د ديکتاتورۍ په مقابل کښې به سم نه وي.

## د مسؤليت ويشل

د يو انتخاب شوي مقاومتي جګړې په وخت کښې د مبارزې فشار تر يو وخته پورې د يوې برخې او يا د خلکو د ډېرو برخو پر شا وړل کيږي. په بلې مبارزې کښې د يو بل هدف لپاره د مبارزې بار دخلکو ديوې بلې ډلې وړ.و ته ور نقل شي. د مثال په توګه، زده کونکي به اعتصاب د يوې تعليمي موضوع لپاره کوي، ديني مشران او معتقدين به ئې د مذهبي آزاديو د موضوع لپاره  کوي، د اور ګاډي کارکونکي به امنيتي تدابير دومره دقيق پر ځای کوي چې د اور ګادي د ترانسپورت سيستم به ډېر ورو کوي، ژورنالستان به سانسور نه د سر غړونې لپاره اخبارونو د تشو ځايونو سره چيرته چې ممنوعه مضامين به نشر شوی وای نشر کړي، يا پوليس به مکرراً ناکامه پاتې شي چې  آزادي غوښتونکي مخالفين پيدا او بندي کړي. د مقاومت مبارزه د موضوعاتو او د خلکو د ګروپونو له مخې په مرحلو بيلول،به د ټولنې يوې برخې ته د استراحت لپاره موقع ورکړي،کله چې مقاومت د بلې برخې له خوا دوام مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاب شوي مقاومت په خاصه توګه مهم دی چې د مستقلو اجتماعي،اقېصادي او سیاسي ډلو او مؤسسو آزادۍ او موجودیت نه دفاع وکړي چې د دیکتاتورۍ د کنترول نه د باندې دی او مخکښې په لنډه توګه بیان شو. د قدرت دا مرکزونه مؤسساتي بنسټونه جوړوي چې د هغی نه خلک پر استبداد فشار(زور) آچولی شي او یا د دیکتاتورۍ د اولینیو هدفونو په مینځ کښې وي.

## د دیکتاتور قدرت په نخښه کول

کله چې اوږد مهاله مبارزه د ابتدایي ستراتیژۍ نه تیر او مخ په وړاندې د پر مخ تللی مرحلې ته لاړ شي، نو ستراتیژي جوړونکي باید محاسبه وکړي چې څرنګه د دیکتاتور د قدرت منابع محدود کیدلی شي. هدف به د عمومي همکاري نه کول په کار آچول وي، چې د آزادي غوښتونکو قوتونو لپاره یو نوې ستراتیژیکي برلاسي خلق کړي.

کله چې آزادي غوښتونکي مقاومت زور ونیو، ستراتیژي جوړونکي د دیکتاتورۍ د قدرت د منابعو د قطع کولو په مقصد د همکاري نه کولو او سر غړوني لپاره نور مهم هدفونه د نقشې لاندې راولي چې د زیاتیدونکي سیاسي کمزورتیا او په پای کښې د دیکتاتورۍ د ټوټې ټوټې کیدلو سبب وګرځي.

دا به ضرور وي چې په احتیاط سره په پلان کښې راوستل شي چې آزادي غوښتونکې قوتونه څرنګه کولی شي چې د خلکو او ډلو حمایه چې مخکښې ئې دیکتاتورۍ ته ورکول کمزورې کړي.

آیا د دوی حمایه به د رژیم د ظلمونو د څرګندولو په واسطه، د رژیم د اقتصادي چلند له امله د هغه د اقتصادي مصیبتونو نتیجې په ډاګه کول،او یا د یو نوي معلومات په واسطه چې دیکتاتوري پای ته رسیدونکې دی کمزورې شي؟ د دیکتاتور حمایه کونکي باید لږ تر لږه مجبور کړی شي چې په خپلو فعالیتونو کښې"بې طرفه" ( "سیلانیان" ) یا ترجیحاً د دیموکراسۍ د نهضت فعاله حمایه کونکي وګرځي.

د سیاسي سر غړوني او د همکارۍ نه کولو د تطبیق په وخت کښې ډیر مهم دی چې د دیکتاتورټول اصلي حامیان او معاونینو ته، په ګډون د هغه داخلي ډله، سیاسي حزب،پولیس، او لوړ رتبه مامورین خصوصاً پوځ ته ئې ډیره نژدې پاملرنه وشي.

دیکتاتورۍ ته د عسکري قوتونو د وفادارۍ درجه، د دواړو افرادو او صاحب منصبانو، باید په ډیر احتیاط وڅیړل شي،او باید تعین شي چې آیا عسکري قوتونه کیدای شي د دیموکراسۍ د غواکونو له خوا د تاثیر لاندې راشي؟ آیا کیدلی شي چې عادي عسکران ناراضه او ډاریدلي جلبیان وي؟ آیا ډیر عسکران او صاحب منصبان د رژیم نه د شخصي، فامیلي یا سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليلونو له کبله بيګانه شوي دي. کوم نور عوامل کولی شي چې عسکران او صاحب منصبان د آزادي غوښتونکي لمسونو ته زيان منونکي کړي.

د آزادئ د مبارزې په اولو برخو کې يو مخصوص ستراتيژي بايد جوړ شي چې د ديکتاتور د قطعاتو اوعاملينو سره تفاهم وکړي. د الفاظو، علايمو او اقداماتو په واسطه ديموکراتيک قوتونه به قطعا تو ته خبر ورکړي چې آزادي بخښونکي مبارزه به قوي،مصمم اودوامداره وي. قطعات بايد پوه شي چې مبارزه به يو مخصوص اخلاق ولري،او دارنګه طرح شوی وي چې ديکتاتوري به ويجاړ کړي خو ددوی ژوند ته به هيڅ رنګ خطر نه وي. دا رنګه هلې ځلې به په پای کې د ديکتاتور د قطعاتو د مورال خرابولو ته متوجه او په نهايت کښې د هغوی وفاداری او اطاعت به د ديموکراتيک نهضت مرستې ته ور وګرځوي.

د ديکتاتوری د وسله والو قوتونو همدردي لاس ته راوستل او په پای کښې هغوی بې اطاعتۍ ته مجبورول بايد داسې تعبير نشي چې دوی ته جرئت ورکړل شي چې ديکتاتوری د يو چټک نظامي عملياتو په واسطه پای ته ورسوي. دارنګه يوه صحنه جوړول احتمال نلري چې يو عملي ديموکراسي ځای پر ځای کړي( څرنګه چې مونږ بيان کړو) کودتا ډير لږ د قواوو د بې اندولئ اړيکې د خلکو او اداره کونکي تر مينځ اصلاح کوي. نو دا به لازم وي چې پلان جوړ کړو چې څرنګه همدرده عسکري صاحب منصباب پوه کړو، چې نظامي کودتا او کورنئ جګړه دواړه د ديکتاتور په مقابل کې پکار او مطلوب نه دي.

خواخوږي صاحب منصبان په آزادي غوښتونکي مبارزه کې خورا مهم نقش، لکه په عسکري قواوو کې د ناراضي توب او همکاري نه کولو روحيه خپرول، قصدي بې کفايتي تشويقول

او اوامرو ته غوږ نه نيول او د خلکو د ځپلو نه د سر غړولو سره لوبولی شي.

نظامي افراد، ديموکراتيک نهضت سره رنګارنګ د عدم تشدد کومکونه، په ګډون د خوشې کول، اطلاع ورکول، د خوراک او دوا او نور مرستې کولی شي.

پوځ د ديکتاتور د قدرت د منابعو د ډلې نه ډير مهم منبع دی،ځکه چې د هغه د انضباط لرونکې عسکري قطعات او وسلې مستقيماً په بې اطا عتو خلکو باندې د حملې او مجازات کولو په مقصد استعمالولی شي. د سر غړونې ستراتيژي جوړونکي بايد په ياد ولري چې دا به په استثنائي توګه

سخت او يا غير ممکن وي چې ديکتاتوري تو تې تو تې شي که پوليس، جګ رتبه مامورين،او نظامي قوتونه په بشپړ توګه د ديکتاتورئ حاميان پاتې شي او د اوامرو په اجراکولو کښې اطاعت وکړي. هغه ستراتيژي چې د ديکتاتوري د قوتونو وفاداري يې په نخښه کړي، بايد د آزادي غوښتونکو د ستراتيژي جوړونکو له خوا لوړ تقدم ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديموکراتيک قوتونه بايد په ياد ولري چې نا رضايتي او بې اطاعتي د عسکري قوتونو او پوليس تر مينځ کيدای شي چې د هغو گروپونو او غړو ته ډير زيات خطرناک اوسي. دوی به د بې اطاعتي هر عمل ته بايد د سختي سزا او د بغاوت عمل ته د اعدام د سزا انتظار ولري. آزادي غوښتونکي قوتونه بايد د عسکرانو او صاحب منصبانو نه ونه غواړي چې دوی د همدا اوس بغاوت وکړي. د هغه پر ځای تر څو چې ارتباط ممکن وي دا بايد هغوی ته څرگند شي چې ډيرې مصئونې لارې شته چې دوی په ابتدايي مر حلو کې انتخاب او د آزادئ د مبارزينو سره مرسته وکړي.

د مثال په توگه، پوليس او عسکر کولی شي چې د خلکو د ځپلو امرونه په نيمگړي توگه پر ځای کړي، د هغو کسانو د اوسيدلو ځای پيدا نکړي چې د حکومت له خوا غوښتل شوي، مقاومت کونکي د ځپلو، نيولو، او يا تبعيد کولو نه خبر کړي او هم مهم معلوماتونه خپل آمرانو ته ور نکړي. همدارنگه ناراضه صاحب منصبان کولی شي چې د خلکود ځپلو اوامر په سلسله د مراتبولاندني قدمو ته خبر ورنکړي.عسکران کولی شي چې د مظاهره کونکو د سرونو د پاسه فير وکړي. همدارنگه ملکي مامورين پخپله برخه کې کولی شي چې دوسيې او تعليمات ورک کړي، سم کار ونه کړي،ځان "ناجوړه" واچوي او تر څو چې "جوړ" شي په خپل کور کښې پاتې شي.

## په ستراتيژئ کښې بدلون:

د سياسي سر غړونې ستراتيژي جوړونکي، بايد دوامداره وڅيړي چې څرنگه لويه ستراتيژي او د مشخصې مبارزې ستراتيژئ په کار آچول شوی دی. د مثال په توگه، دا ممکن دی چې مبارزه هغسې چې انتظار کيده ښه وړاندې لاړ نشي. په هغه صورت کښې دا ضرور دی چې محاسبه وشي چې کوم ډول بدلون به په ستراتيژئ کښې لازم وي. څه کيدلی شي چې د نهضت قدرت زياد او ابتکار بيا لاس ته راوستل شي. په دارنگه حالت کښې ضرور دی چې مشکل تشخيص،او په يو ستراتيژئ باندې له سره بيا غور وکړو، ممکن د مبارزې مسئوليت د خلکو يو بل گروپ ته نقل، د قدرت يو بل منبع سمبال او د حرکت د يو بل طرز نه گټه واخيستل شي. کله چې دا کارونه تر سره شول، نوی پلان بايد فوراً تطبيق شي.

بر خلاف که مبارزه د انتظار نه ډير ښه پر مختگ کړی وي او ديکتاتوري د هغې نه چې محاسبه شوي وه مخکښې نسکور شو، نو څرنگه آزادي غوښتونکي قوتونه د غير منتظره برياليتوب نه گټه آخيستلای او د ديکتاتورئ د فلج کولو لپاره مخ په وړاندې تللای شي؟

مونږ به دا سوال په راتلونکي فصل کښې وڅيړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم فصل

## د دیکتاتورۍ تجزیه کول

د ښې اداره شوي او بریالۍ سیاسي سر غړونې مبارزې راټولې شوي آغیزې به مقاومت غښتلی او د ټولنې هغې برخې ته چې دیکتاتوري هلته آغیزناکه کنترولولو کښې تحدید سره مخامخ دی خپله اداره تاسیس او پراخوي. دا مبارزه به مهمې تجربې هم راټولې کړي چې څرنګه همکاري بنده کړو او سیاسي سر غړونه پکار واچوو. دا تجربې کله چې د همکاري نه کولو او سر غړونې وخت په لوی مقیاس لاس ته راځي خورا ډیر کومک به وکړي. څرنګه چې په دریم فصل کښې پرې بحث وشو،که چیرې دیکتاتوران پیاوړي وي، اطاعت، همکاري او تسلیمي ضرور ده.

بې د سیاسي قدرت منابعو ته د لاس رسۍ نه، د دیکتاتور قدرت کمزورۍ او په پای کښې منحل کیږي. نو د حمایې بندول د دیکتاتورۍ د ټوټې ټوټې کولو لپاره یو لازم عمده کار دی. دا به ډیر ګټور وي چې د نظر نه یې تیر کړو چې د سیاسي سر غړونې د لارې، څرنګه د قدرت منابع د تاثیر لاندې راوستلی شي.

علامتي انکار او سر غړونه د موجودو وسایلو نه شمېرل کیږي چې د هغوی په واسطه د رژیم معنویات او سیاسي قدرت او حقانیت تخریبوي. هر څومره چې د رژیم قدرت ډیر وي په همغې اندازه یې اطاعت او همکاري چې ورته رسیږي ډیر او د باور وړ وي. ددې لپاره چې دیکتاتوري په جدي توګه د تهدید لاندې راوستل شي د هغې اخلاقي مذمت باید عملاً وښودل شي. د همکارۍ او اطاعت بندول ضرور دی چې د رژیم نه د قدرت نور منابع وشکوي. د مثال په توګه، که ملکي مامورین د خپل عادي وړتیا سره سم کار ونه کړي، او یا حتي خپلو کورونو کښې پاتې شي نو پر اداري دستګا به شدیداً تاثیر وکړي.

همدارنګه، که د همکاري نه کونکو اشخاصو یا ډلو کښې دا رنګه کسان موجود وي چې پخواني تخصصي او علمي مهارتونه یې برابرول نو دیکتاتورانو به وګوري چې د دوی د همکاري نه کولو له امله د خپل د مقصدونو په عملي کولو کښې ډیر کمزوري شوي دي.حتي د دیکتاتورانو وړتیا چې مناسب تصمیمونه ونیسي او یا اغیزناکه کړنلاري ته پراختیا ورکړي هم به په جدي توګه لړشي.

که سیکالوژیکي او عقیدوي اغیزې چې ورته غیر محسوس عوامل وائي او معمولاً خلک مجبوروي چې د حاکمانو سره مرسته او ورته اطاعت وکړي ضعیف او یا معکوس شوی وي، خلک به ډیر تمایل ولري چې د ظالم رژیم نه اطاعت ونه کړي او هم خپله همکاري پرې بند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ديکتاتورانو لاس رسي مادي منابعو ته هم مستقيماً د دوی قدرت باندې تاثير آچوي. د مالي منابعو کنترول،اقتصادي سيستم،املاکات، طبعي منابع، نقليات، او د نقلياتو وسايل،او د ارتباطو وسايلو سره چې د رژيم د واقعي او يا احتمالي دښمن لاس ته ور شي، د هغوی د قدرت نور منابع زيان منونکی کيږي يا له مينځه ځی. اعتصابونه تحريمونه او زياتيدونکي آزادي په اقتصاد،ارتباطات،او نقلياتو کښې به رژيم کمزوری کړي.

څرنګه چې مخکښې وڅيړل شو، د ديکتاتور قدرت چې سرکښ، بې اطاعته، او همکاري نه کونکي ډله د خلکو په جريمې تهديد او يا جريمه کړي، د ديکتاتور د قدرت مرکزي منبع دي.

د قدرت دا منبع په دوو لارو کمزوری کېدلی شي.اول، که خلک سختو عواقبو ته د سر غړونې لپاره حاضر وي لکه په يو جنګ کښې نو د موجوده جريمې اغيزه به په مؤثره توګه لږوالی وموميِ ( د ديکتاتور ځېل به مطلوب تسليمېدل تامين نکړي.) دوهم، که پوليس او عسکري قوتونه ناراضي شي، نو هغوی به په انفرادي او يا ډله ئيزه توګه د مقاومت کونکو د نيولو، وهلو او يا ويشتلو نه مخ واړوي او يا په څرګنده ډول د امر نه سر غړونه وکړي. که ديکتاتوران نور نه شي کولی چې په پوليسو او عسکري قوتونو باندې د خلکو د ځپلو لپاره ډاډه اوسي نو په دې حالت کښې ديکتاتوري ډير زيات د تهديد لاندې دی.

لنډه ئي دا چې، د يو ځای پر ځای شوي ديکتاتور باندې برياليی کېدل ايجاب کوي چې همکاري نه کول او سر غړونه، د رژيم د قدرت منابع کموي او له مينځه يې وړي. که په دوامداره ډول د قدرت ضروري منابع بيا جبيره نه شي نو ديکتاتوري به کمزوری او په پای کښې به ټوټې ټوټې شي. نو د ديکتاتورۍ په مقابل پياوړی ستراتيژيکي پلان جوړول بايد د ديکتاتور د ټولو نه مهم د قدرت منابع په نخښه کړي.

## د آزادۍ خپرول

د سياسي سر غړونې سره يو ځای، د انتخابي مقاومت په مرحلې کښې،د مستقلو اجتماعي،

اقتصادي، کلتوري، او سياسي مؤسساتوجوړول په دوامداره توګه د ټولنې "ديموکراتيکي ساحه" پراخوي او د ديکتاتورۍ د کنترول ساحه ورکوټې کوي. کله چې د ټولنې ملکي مؤسسات د ديکتاتورۍ په مقابل کې غښتلی شي، بيا نو،بې له دې نه چې د ديکتاتورانو غوښتنې ته پاملرنه وکړي، خلک په بيړې د هغوی د کنترول نه د باندې يوه خپلواکه ټولنه جوړوي.

کله چې ديکتاتوري ددې " خپريدونکي آزادۍ" د درولو لپاره مداخله کوي، په مقابل کښې ئې عدم تشدد ددې نوي ساحې د دفاع لپاره پکار آچول کيږي او ديکتاتوري به په جګړه کې يوې بلې "جبهې" سره مخامخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه وخت کې، مقاومت او د مؤسساتوجوړونه، په ګډه حالات يوه واقعي آزادئ خوا ته وړي. ددیکتاتورئ ړنګيدل او د ديموکراتيک سيستم رسمي ځای پر ځای کېدل يو انکار نه کيدونکی واقعيت ګرځي. ځکه چې په ټولنه کې د قدرت اړيکې په اساسي ډول تغير وموند.

په کال ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ کې پولينډ، د مقاومت د لارې د ټولنې د فعاليتونو او د مؤسساتو د بيا را ژوندي کولو په برخه کې يوه روښانه مثال جوړوي. د پولينډ کاتوليک کليسا د حکومت له خوا آزار او تعقيب شوه، خو هيڅکله د کميونيست بشپړ اداري لاندې رانغی.په کال ۱۹۷۶، کې ځينې روشن فکرانو او کارګرانو، وړې ډلې ئې لکه د کارګرانو دفاعي کميټې جوړې کړې چې خپلې سياسي مفکورې پر مخ بوزي. د پيوستون د کارګري اتحاديې ډله د مؤثرو مظاهرو په زور ځان يې په ۱۹۸۰ کال کې قانوني کړ.

بزګران، زده کونکي، او ډير نور ګروپونه هم خپل مستقل تشکيلات جوړ کړل. کله چې کمونستان پوه شول، چې دا ډلې د قدرت اړيکې ئې بدلې کړې، نو د پيوستون ډله بيا بند او کمونستانو نظامي اداري ته ئې لاس واچول. حتي د نظامي حکومت لاندې سره له ډيرو بندي کولو او سخت آزار او تعقيب سره د ټولنې نوي آزاد مؤسسات خپلو فعاليتونو ته به ئې دوام ورکول. د مثال په توګه، په لسهاوو غير قانوني ورځپاڼې خپريدې. غير قانوني کتاب خرڅولو مرکزونه هر کال به په سلهاووکتابونه خپرول،پداسې حال کښې چې مشهورو ليکوالانو کميونست خپروني او د کتاب خپرولو مرکزونه ئې تحريم کړل. همدارنګه فعاليتونه د ټولنې په نورو برخو کښې صورت ونيول.

د ياروزوسکي عسکري رژيم لاندې،عسکري کمونست حکومت باندې اطلاق کيده چې د ټولنې د پاسه ټوپونه وهي. د حکومت کار کونکي اوس هم د حکومت دفترونه او ودانئ ئې نيولي. رژيم اوس هم په ټولنې باندې په سزا ورکولو، بندي کولو، بنديخانو ته آچولو،د چاپ شوي مواد په ضبطولو او نور قدرت لري. خو سره لدې، ديکتاتورئ ټولنه نه شي اداره کولی. لدې ځايه نور به دا يو وخته پورې ځنډ وي چې ټولنه رژيم په بشپړه توګه نسکور کړي.

حتي په داسې حال کې چې ديکتاتورئ د حکومت مقامونه اشغال کړی هم وي په ځينې حالاتو کښې ممکن دی چې يو ديموکراتيک "موازي حکومت" تشکيل شي. دا به ډير زيات د يو مخالف حکومت په څير فعاليت وکړي او د خلکو او د ټولنې د مؤسساتو وفاداري، قبلونه، او همکاري به ورسره وي.

په نتيجه کې به ديکتاتوري په زياتيدونکې توګه د حکومت ددې اختصاصي صفت نه بې برخې شي. په پای کې به دا ديموکراتيکي موازي حکومت په بشپړ توګه د ديکتاتورئ رژيم ځای ديموکراتيکي سيستم ته د انتقال د يوې برخې په څير ونيسي. په مناسب وخت کې، به يو اساسي قانون جوړ او د انتقال د يوې برخې په څير به انتخابات وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دیکتاتورۍ ماتول: کله چې د ټولنې مؤسساتي بدلون مخ په وړاندې ځي، د سر غړونې او همکاري نه کولو تحریک کیدای شي چې شدت ومومي. د آزادي غوښتونکو قوتونو ستراتیژي جوړونکي باید د وخته انتظار ولري چې داسې وخت به راشي چې آزادي غوښتونکي قوتونه کولی شي چې د انتخاب شوي مقاومت نه وړاندې لاړ شي، او کتلوي سر غړونه په کار واچوي. په ډیرو حالاتو کې د مقاومت د قدرت خلق کول، تیارول، یا د مقاومت امکانات پراخه کول وخت او زمان ته به ضرورت ولري او د کتلوي سر غړونې انکشاف ورکول به وروسته د څو کلونو نه صورت ونیسي. ددې عبوري دورې په وخت کې د انتخابي مقاومت مبارزه باید د زیاتیدونکي مهمو سیاسي هدفونو باندې دوام وکړي. دخلکو لویه برخه د ټولنې په ټولې سطحې کې باید په مبارزې کې ګډون وکړي. د فعالیتونو په دې زور آخیستلو کې ټینګ او با انضباطه سیاسي سر غړونه پر مخ وړل، احتمال لري چې د دیکتاتورۍ داخلي کمزورتیا به په زیاتیدونکي ډول ښکاره کړي . د پیاوړي سیاسي سر غړونې او د مستقلو مؤسساتو جوړول، دواړه، احتمال لري چې د آزادي غوښتونکو په ګټه پراخه نړیواله پاملرنه راوګرځوي. همداسې احتمال لري چې دا نړیواله

دیپلوماتیکي محکومیتونه، تحریمونه، بندیزونه،د آزادي غوښتونکو په پلوي تولید کړي.

( څرنګه چې په پولیند کې ئې وکړ)

ستراتیژي جوړونکي باید پوه وي چې په ځینو حالاتو کې د دیکتاتورۍ ړنګیدل ښایي چې په ډیر زیات چټکتیا سره تر سره شي لکه چې په کال ۱۹۸۹ کښې په ختیز المان کې وشو. دا هغه وخت پیښیدلی شي چې د قدرت منابع په کتلوي ډول د ټولو خلکو د مخ آړولو له کبله د دیکتاتورۍ نه پرې(غوڅ) شي. دا مثال دومره معمول نه دی، ښه دی چې د اوږد مهالې مبارزې لپاره پلان جوړ کړو( خو د لنډ مهالې لپاره چمتو اوسو).

د آزادی غوښتلو په وخت کې، بریالیتوبونه که په محدود مقیاس هم وي باید ونمانځل شي. هغه کسان چې دا بریالیتوبونه ئې ګټلي باید تقدیر شي.

په احتیاط سره د بریالیتوبونو نمانځل د مبارزو د راتلونکې مرحلو لپاره د معنویاتو د لوړ ساتلولپاره مرسته کوي.

## په مسؤلیت سره د بریالیتوبونو اداره کول

د لویې ستراتیژۍ پلان جوړونکي باید د مخکښې نه یو ممکن او غوره لاره وسنجوي چې مبارزه پرې په ښه توګه نتیجې ته ورسیږي. ددې لپاره چې د یوې نوې دیکتاتورۍ د راجګیدلو نه مخ نیوی او په تدریجي ډول د یو تلپاتې دیموکراسي جوړیدل یقیني کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديموکراتان بايد وسنجوي چې د مبارزې په پای کې انتقال د ديکتاتورۍ نه لنډ مهالي حکومت ته څرنګه اداره شي. دا په زړه پورې دی‌چې په هغه وخت کې په چټکۍ سره يو فعال حکومت تاسيس شي. خو دا بايد هغه زوړ حکومت د نوي کسانو سره نه وي. دا ضرور دی چې بايد وسنجول شي د پخواني حکومت کومه برخه (لکه سياسي پوليس) په بشپړ توګه د خپل د ديموکراسی د ضدوالي له کبله له مينځه ولاړ شي او کومه برخه ئې وروسته د ديموکراسي کيدلو هلو ځلو ته تابع وګرځول شي. ديو مکمل حکومتي نشتوالی( خلا) لاره به اېدوړ او يا نوي ديکتاتورۍ ته خلاصه کړي.

د مخکښې نه بايد فکر وشي، چې د رژيم د ورانيدلو نه وروسته، د ديکتاتوري رژيم د لوړ رتبه مامورينو سره څرنګه چلند وشي. د مثال په توګه، آيا ديکتاتوران به محکمې ته د محاکمې لپاره راوستل شي؟ نورې کومې لارې شته چې د سياسي سرغړونې سره برابر دی، د هيواد بيا جوړونه، او د برياليتوب نه وروسته د ديموکراسی جوړونه؟ وينې توئيدنې نه، چې د راتلونکي ديموکراتيکي سيستم پر امکاناتو باندې به اساسي اغيزه ولري بايد مخنيوی وشي.

کله چې ديکتاتورۍ کمزوری او يا نسکوريږي، د انتقال دورې لپاره بايد مشخص پلانونه د

تطبيق لپاره چمتو وي. دارنګه پلانونه به د بل ګروپ نه مخنيوی وکړي چې د دولت قدرت د

کودتا د لارې نه ونيسي. د ديموکراتيک قانوني حکومت د تاسيس لپاره د بشپړ سياسي او شخصي آزاديو پلانونه هم ضرور دي. هغه تغيرات چې د لويو سر شيندونو په قيمت لاس ته راغلي بايد د بې پلانۍ نه د لاسه ونه وځي.

کله چې د زياتيدونکي متعهد شوي ټولنې سره او د آزادو ديموکراتيکو ګروپونو او مؤسساتو چې ديکتاتورۍ يې نه شي کنترولولي مخامخ شي، نو ديکتاتوران به پوه شي چې د دوی ټول د د خطر قبلونې بې ګټې دي. د ټولنې ډله ئيز تعطيلات، عمومي اعتصابونه، په ډله ئيزه توګه په کور کښې پاتې کيدل، بې پروا لار وهنې، او داسې نور عملياتونه به په زياتيدونکې ډول د ديکتاتور خپل تشکيلات او مربوط موسسات کمزوری کړي. ددې سر غړونې او همکاري نه کولو له امله چې په معقوله اوډله ئيزه توګه پرله پسې اجرا شوي، ديکتاتور به کمزوری شي او آزادي غوښتونکي به بې له تشدده بريالی شي او ديکتاتوري به د سرغړونکي خلکو په وړاندې ټوټې ټوټې شي.

هيڅکله به هم دا رنګه هلې ځلې بريالی نشي، خصوصاً په ډيره آسانی سره، او په نادراتو کې په ډيره چټکۍ سره. بايد په ياد وساتل شي، چې هومره نظامي جنګونه چې ګټل شوي هومره بايلودل شوي هم دي. سره له دې سياسي سر غړونه د بري حقيقي امکانات وړاندې کوي. څرنګه چې مخکښې بيان شو،دا امکانات به ډير زيات د لويې ستراتيژۍ په معقول انکشاف ورکولو، په احتياط سره د ستراتيژيکي پلان جوړولو،زيار ايستلو، او با انضباطه زړه ورې مبارزې سره زيات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم فصل

## د دوام لرونکې (تلپاتې) ديموکراسۍ بنسټ

د ديکتاتورۍ ورانيدل به يقيناً د لويو جشنونو سبب شي. هغه خلکو چې د اوږدې مودې لپاره رنځيدلي او په غټ تاوان ئې مبارزه کړې د خوشحالۍ، تفريح او قدردانۍ وړ دي. دوی بايد پخپله او ټول هغه کسان چې دوی سره ئې د سياسي آزادۍ د ګټلو لپاره مبارزه کړې وياړ وکړي . افسوس چې ټول هغه کسان به ژوندي پاتې نه وي چې دا ورځ وګوري.ژوندي او مړه چې د خپل هيواد د خپلواکۍ د تاريخ په جوړولو کې ئې مرستې کړې بايد د اتلانو په څير په ياد وساتل شي.

له بده مرغه، دا د احتياط او بيدارۍ د کمولو وخت نه دی. حتي د سياسي سر غړونې په واسطه د ديکتاتورۍ د بريالۍ ورانيدلو په صورت کې، په احتياط سره بايد تدابير ونيول شي چې د يو نوي ظالم رژيم د راجګېدلو نه چې د زاړه رژيم د ورانيدلو د ګډ وډۍ نه وروسته پيدا کيږي مخ نيوی وکړي. د ديمو کراسۍ د پلوي کونکې قوتونو مشران بايد له مخکښې نه ديموکراسۍ ته د يو منظم انتقال لپاره تياری نيولی وي. د ديکتاتورۍ مانۍ بايد ورانه شي. د اساسي قانون او حقوقي بنسټونه او د يو دوام لرونکي ديموکراسۍ لپاره د کړو وړو معيار بايد جوړ شي.

هيڅوک بايد داسې فکر ونکړي چې د ديکتاتورۍ د نسکورولو سره به يو د هيلو سره سمه ټولنه سمدلاسه راڅرګند شي. د ديکتاتورۍ دا ورانيدل په ساده ډول د شروع ټکی د زياتو آزاديو سره د اوږد مهالې هلو ځلو لپاره برابروي چې ټولنه پر مخ ويوړل شي او انساني احتياجات به نور هم په بشپړ توګه رفع شي.

جدي سياسي، اقتصادي او ټولنيز مشکلات به په کلونو دوام وکړي، او د هلو ځلو لپاره ئې د ډيرو خلکو او ډلو همکاري په کار وي. نوي سياسي سيستم بايد د مختلفو نظريو خلکو ته موقع برابره کړي او د هغو اقداماتو مرسته وکړي چې جوړونکي فعاليتونو او کړنلارو جوړولو ته دوام ورکړي تر څو چې د راتلونکو ستونزو سره مقابله وکړي.

### د نوي ديکتاتورۍ د راپورته کېدلو ګواښ

ډير پخوا ارسطو اخطار ورکړی چې "...........استبداد هم په استبدا بدلېدلی شي.........." ډير تاريخي شواهد ، لکه د فرانسې نه(ژاکوبينونه او ناپليون) ، د روسيې نه ( بالشويکان) ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران نه ( آیت الله ) ، د برمه نه ( سلورک ) ، او نور ځایونه شته، چې د یو ظالم رژیم ړنګیدل به ځینو کسانو او یا ډلو ته یواځې یو فرصت ښکاره شي چې د نوي بادارانو په توګه صحنې ته ورودانګي. د هغوی محرک ښایي چې توپیر ولري، خو نتیجه به ئې ډیر ځلې تقریباً یو رنګ وي. نوې دیکتاتوری کیدلی شي چې د پخواني نه په خپل کنترول کښې ډیر ظالم او مطلق العنان وي.

حتي د دیکتاتوری د ورانیدلو نه مخکښې د پخواني رژیم غړي به قصد وکړي چې د سر غړوني مبارزه د دیموکراسۍ لپاره د یوې کودتا په واسطه مخکښې د وخت نه قطع کړي. کودتا په دې نیت طرح شوی وي چې د دیموکراسۍ دپاره د مبارزې بریالیتوب شنډ کړي.

دا نوي دیکتاتوري به دعوا وکړي چې پخواني دیکتاتوری ئې د قدرت نه لرې کړی، خو په حقیقت کې غواړي چې یو بل، د سره رنګ شوی ډول، د زاړه ماډل په خلکو تحمیل کړي.

## د کودتا وو نه مخنیوی

د نوي آزاد شوو ټولنو په مقابل کښې د کودتا ګانو د ماتې ورکولو لپاره لارې شته دي. د مدافعې د هغه ظرفیت نه له مخکښې نه خبر درلودل ښائي ځینې اوقات کافي وي چې د کودتا د قصد مانع  وګرځي .

چمتووا لی ئې مخنیوی کولی شي.

د کودتا د شروع نه وروسته ژر ، فوراً کودتا کونکي حقانیت ته ضرورت لري، یعنې په اخلاقي او سیاسي لحاظ دوی د هیواد د اداره کولو حق لري؟ نو لمړی اساسي اصول د کودتا پر ضد، کودتا کونکو ته د حقانیت د ورکولو نه سر غړول دي.

کودتا کونکي همدارنګه غواړي چې ملکي رهبران او عوام د دوی ملاتړ وکړي یا د فکر په ګډوډۍ آخته شي او یا منفي موقف ونیسي. ددې لپاره چې خپل کنترول په ټولنې باندې ټینګ کړي نو کودتا کونکي د متخصصینو او مشاورینو، لوړ رتبه مامورینو، او ملکي مامورینو ، اداره کونکو او قاضیانو همکارۍ ته ضرورت لري. کودتا کونکي همدارنګه مختلفو خلکو نه چې سیاسي سیستم، د ټولنې مؤسسات،اقتصاد، پولیس او عسکري قوا اداره کوي، غواړي چې دوی ته په منفي توګه تسلیم شي او خپلې وظیفې لکه د معمول څرنګه چې د کودتا کونکو اوامرو او کړنلارو په واسطه تغیر ورکړل شوي اجرا کړي.

د کودتا ضد دوهم اساسي پرنسیب د مدافعې، کودتا کونکو په مقابل کښې مقاومت کول دی د همکاري نه کولو او سر غړولو په واسطه. هغه همکارۍ او مرستې ئې چې پکار وي باید ور نه کړل شي. د مبارزې عین وسایل چې د دیکتاتورۍ په مقابل کې استعمال شوي وو د نوي خطر په مقابل کې هم پکاریدلی شي، خو فوراً باید استعمال شي. که دواړه ، حقانیت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

همکاري د کودتا کونکو نه ایسار شي، نو کودتا به د سیاسي ولړې نه مړ او د دیموکراتیکې ټولنې د جوړولو فرصت بیا لاس ته راشي.

## د اساسي قانون مسوده ( ړومبی لیک)

نوی دیموکراتیک سیستم به یو اساسي قانون ته ضرورت ولري چې د دیموکراتیک حکومت د مطلوب چوکاټ بنسټ کښېږدي. اساسي قانون به د حکومت مقصدونه د حکومتي صلاحیتونو حدود، د انتخاباتو په نظر نیول او وخت چې پکښې حکومتي کسان او قانون جوړونکي انتخابیږي، د خلکو اساسي حقوق، اود ملي او محلي حکومتونو په مینځ کې ارتباط تعین کړي. د مرکزي حکومت د ننه، که په نظر کې وي چې دیموکراتیک پاتې شي، د صلاحیت او قدرت یو واضح تقسیم(ویش) د حکومت د دریو څانګو یعنې باید د اجرائي، عدلي، او مقننه قواوو تر مینځ تاسیس شي. د پولیس، استخبارا‌تو،او عسکري په فعالیتونو باندې قوی تحدیدات باید وضع شي چې قانوني سیاسي مداخله باید ممنوع کړي.

د دیموکراتیکي سیستم د ساتلو او د دیکتاتوري تمایلاتو او دسیسو د مخنیوي په ګټه اساسي قانون باید د داسې یو فیدرال سیستم تاسیسولو ته ترجیح ورکړي چې په کې د منطقوي ولایتي او محلي حکومتونو خاص امتیازات ساتل شوی وي. په ځینې حالاتو کې د سویس د بلاک سیستم کیدای شي چې د توجه وړ وګرځي چې پکښې یو کوچنی منطقه عمده امتیازات لرلی شي او هم د ټول هیواد د یوې برخې په توګه پاتي کیدلی شي.

که یو اساسي قانون د ډیرو داسې شکلونو سره پخوا د آزاد شوي هیواد په تاریخ کې موجود ؤ نو دا به معقوله وي چې آسانه بیا په کار واچول شي، او څرنګه چې لازم او مطلوب ښکاري اصلاح شي. که یو موافق اساسي قانون موجود نه وي نو دا به ضرور وي چې د یوه انتقالي اساسي قانون په لار ښودنې عمل وکړو.که نه نو، یو نوي اساسي قانون تیارولو ته به ضرورت وي. د نوي اساسي قانون جوړول به پوره اندازه وخت او فکر کول ونیسي. پدې مراحلو کې د خلکو عمومي ګډون د نوي قانون د متن د تائید او اصلاح د پاره غوره او ضروري دی. باید ډیر احتیاط وشي چې په اساسي قانون کې داسې وعدې ونشي چې وروسته ئې عملي کول ناممکن ثابت شي، او یا داسې مقررات په اساسي قانون کې واچول شي چې د یو ډیر قوي مرکزي حکومت ایجاب وکړي، ځکه چې دواړه د یوې نوي دیکتاتوری لپاره لاره اواروي.

د اساسي قانون متن باید د خلکو د اکثریت لپاره قابل د پوهیدلو وي.یو اساسي قانون باید دومره پیچلی او مغلق نه وي چې یواځې قانون پوهان او د ټولنې لوړه طبقه دعوا وکولی شي چې پرې پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ديموكراتيكي دفاعي كړنلاره

يو آزاد شوې هيواد هم كيداى شي چې باندني خطر ( تهديد) سره چې د يو دفاعي ظرفيت ايجاب وكړي مخامخ شي.هيواد ته بنائي باندني خطر چې وغواړي دلته اقتصادي، سياسي يا نظامي تسلط تاسيس كړي متوجه وي.

د داخلي ديموكراسى د ساتلو په ګټه. د ملي دفاع دضرورتونو لپاره د سياسي سر غړونې د اساسي پرنسيپونو استعمال ته بايد جدي پاملرنه وشي. د مقاومت ظرفيت مستقيماً د هيواد د خلكو لاس ته وركول، په نوي آزاد شوي ملكونو كې هيوادونه د لويې عسكري لګښت نه بچوي. غټ عسكري قوت له يوې خوا خپله ديموكراسى ته خطر وي له بلې خوا غټ اقتصادي منابع پكښې په مصرف رسيږي، چې د هيواد ورته په نورو برخو كې سخته اړتيا وي.

دا بايد په ياد وساتل شي،چې ځينې ګروپونه به د اساسي قانون د مقرراتو نه سترګې پټې كړي، او هڅې به وكړي چې ځان د نوي ديكتاتور په توګه ځاى پر ځاى كړي. نو لدې كبله د خلكو لپاره يوه دائمي وظيفه شته چې سياسي سر غړونه او همكاري نه كول د احتمالي ديكتاتورانو په مقابل كې پكار واچوي او ديموكراتيكي جوړښت،حقوق او تعاملات خوندي وساتي.

## يوه غوره مسئوليت

د عدم تشدد د مبارزې آغيزه يواځې د ديكتاتورانو د كمزوري كول او د اقتدار نه نسكورول نه ، بلكه د ځپل شوو پرګنو تقويه كول هم دى. دا لارې چارې هغو خلكو ته قدرت بخښي چې پخوا يې ځانونه د لاس آلې او يا ښكار بلل، خو اوس مستقيماً خپل قدرت پكار آچوي چې خپلو هلو ځلو باندې ډيره آزادي او عدالت تر لاسه كړي. د مبارزې داتجربه ډير مهم روحي نتيجه لري، دارنګه چې په پخواني كمزورو كې عزت النفس او پر ځان باور زياتوي.

يو بل مهم اوږد مهاله ګټوره نتيجه د عدم تشدد د مبارزې د ديموكراتيک حكومت د جوړولو لپاره داده چې ټولنه به د راتلونكې مشكلاتو سره د معامله كولو لپاره به نور هم وړتيا پيدا كړي.

راتلونكي مشكلات كېداى شي چې د حكومت ناوړه ګټه آخيستنه او فساد، بد رفتاري د يوې خاصې ډلې سره اقتصادي بې عدالتي، او د سياسي سيستم په ديموكراتيكي كيفيت كښې د تحديدونو په بڼه وي. هغه خلک چې د سياسي سر غړونې تجربه تر لاسه كړي ډير لږ احتمال لري چې د راتونكي ديكتاتوريو په مقابل كښې كمزورتيا وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له آزادۍ نه، د عدم تشدد د مبارزې سره آشنائي به لارې پيدا کړي چې د ديموکراسۍ، مدني آزاديو، د اقليتونو د حقوقو نه او د منطقوي، ولايتي او محلي حکومتونو او غير حکومتي مؤسساتو نه دفاع وشي. د عدم تشدد سره آشنايي، همدارنګه داسي لارې پيدا کوي چې خلک او ډلې کولی شي د داسې سختو تنازعاتو سوله ئيزه مظاهرې وکړي چې مخالفو ډلو د هغو لپاره ځينې وختونه تروريزم او يا ګوريلايي جګړو ته لاس آچول.

د سياسي سر غړوني او يا د عدم تشدد د مبارزې مفکوره په دې بحث کښې دادی چې ټولو هغو کسانو او ډلو سره مرسته وشي چې غواړي د خپلو خلکو نه د ديکتاتورۍ استبداد وچت او يوه داسې دوامداره ديماکراتيکي سيستم جوړ کړي، چې بشري آزادي او ملي فيصلو ته احترام وکړي، تر څو چې ټولنه مخ په وړاندې بوځي.

هغه مفکوره چې دلته طرح شوی درې عمده نتيجې ترې آخستل کيږي:

- د ديکتاتورۍ نه آزادي ممکنه ده.

- ډير په احتياط سره فکر کول،او ستراتيژيکي پلان جوړول لازم دی چې کاميابي ترې لاس ته راشي او- په احتياط، زيار ايستني او انضباط سره مبارزه کول چې يې په نظر کې نه نيول، اکثراً په غټه بيه تماميږي.

دا ډير تکراريدونکی نقل د قول چې " آزادي وړيا نه ده " رښتيا ده. هيڅ باندني قوت نه راځي

چې ځپل شوي خلکو ته آزادي چې دوی ورته ډير ليواله دي وګټي. خلک بايد پخپله زده کړي چې دوی څنګه آزادي تر لاسه کړي. البته دا کار به آسانه نه وي.

که خلک پوه شي چې د دوی د آزادۍ لپاره څه ضرورت دی، دوی خپل د حرکت طرز نقشه کولی شي، چې وروسته د ډيرو کړاونو نه په پای کې دوی ته خپله آزادي راوړي. وروسته د زيار او کوښښ سره دوی يوه نوي ديموکراتيکي نظم جوړولی او د مدافعې لپاره ئې تياريدلی شي. هغه آزادي چې د داسې مبارزې سره لاس ته راځي کيدای شي چې دوامداره وي. دا د هغو کلکو خلکو په تعهد باندې دوام مومي چې يې د ساتلو او پراختيا ورکولو لپاره ئې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عدم تشدد د مبارزې۱۹۸ میتودونه

## د عدم تشدد د اعتراض او قناعت ورکولو میتودونه:

**رسمي بيانيې:**

۱. عمومي خطابې
۲. د مخالفت یا موافقت لیکونه
۳. د تشکیلاتو یا مؤسساتو له خوا اعلامیې
٤. لاسلیک شوي عمومي بیانیې
٥. د شکایت یا غوښتنې لیکلی بیان
٦. ډله ئیزې او یا مجموعي غوښتنې

**پراخو پرګنو ته پیغام رسول:**

۷. شعارونه کاریکاتورونه او اعلامیې
۸. بیرغونه،پوسټرونه او نور تصویري ابلاغیې
۹. ورقونه رسالې او کتابونه
۱۰ . اخبار او مجلې
۱۱ریکاردونه، رادیو او تلویزیون
۱۲. پر ځمکې او یا هوا لیکنې

**ډله ئیزاستازیتوب:**

۱۳. د استازو هیئت یو لوړ رسمي مقتدر مقام ته لیږل
۱٤. د استهزا لپاره جایزې ورکول
۱٥. په ډله ئیزه توګه د لایحود تائید لپاره زیار ایستل
۱٦. خلکو ته د یو عمل په نه کولو قناعت ورکول
۱۷. د درواغو انتخابات

**د علامتي(سمبولیک) عمومي اقداماتو تر سره کول**

۱۸. د بیرغونو او نور علامتي رنګونو ښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹. د علایمو آغوستل
۲۰. دعاګاني او عبادتونه
۲۱. د علامتي شیانو توزیع کول(لکه بیرغونه او نور)
۲۲. د اعتراض لپاره ځان لوڅول
۲۳. د خپل شخصي جایداد ورانول
۲۴. د علامتي چراغونو روښانول
۲۵. د عکسونو زوړندول
۲٦. پر عکسونو باندې د پروتیست لپاره رنګ آچول
۲۷. نوې علامې او نومونه
۲۸. د سمبولیک غږونو پورته کول(لکه الله اکبر)
۲۹. د علامتي شیانو احیا کول
۳۰. بې ادبه حرکات تر سره کول

**پر اشخاصو باندې زور آچول او یا دهغوی تنګول:**

۳۱. د څورولو لپاره د رسمي اشخاصو تعقیبول
۳۲. د رسمي خلکو رټل
۳۳. د ورورولۍ د تشکیلاتو جوړول
۳٤. شوګیر کول(پر یو ځای یا د یو رسمي شخص د کور په مخکې)

**موسیقي او ډرامه:**

۳۵. خندالرونکي ټوکې او مسخرې
۳٦. موزیک غږول او لوبې تمثیلول
۳۷. بدلې ویل

**ډله ئیز حرکتونه:**

۳۸. رفتارونه
۳۹. رسم ګذشتونه
٤۰. دیني راټولېدنې
٤۱. زیارت کول
٤۲. د موټر سایکلونو سپرلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مړو نمانځل:**

٤٣. سياسي وير
٤٤. د ټوکو جنازې
٤٥. نمايشي جنازې
٤٦. د قبرونو زيارت کول

**عمومي ټولنې**

٤٧. د اعتراض او يا تائيد لپاره راټولېدل
٤٨. د اعتراض لپاره جلسې کول
٤٩. د پروټسټ ستر واخفا شوې اجتماع
٥٠. په يوه مشخص وخت کې د يوه خاص شي زده کول

**په شا تګ او تقبيح کول:**

٥١. وتل
٥٢. چوپتيا
٥٣. د مکافاتونو نه قبلول
٥٤. شا اړول

**د ټولينيزې همکارۍ نه کولو ميتودونه**

**د اشخاصو تجريدول او د اجتماعي حقونو نه يې بې برخې کول:**

٥٥. اجتماعي تحريم
٥٦. انتخاب شوی اجتماعي تحريم
٥٧. جنسي امتناع کول
٥٨. تکفيرول
٥٩. بې برخې کول

**په ټولينيزو مراسمو، رواجونو او مؤسساتو کې همکاري نه کول:**

٦٠. د اجتماعي او سپورتي فعاليتونو ځنډول
٦١. د اجتماعي امورو تحريم
٦٢. د زده کونکو اعتصاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦٣. اجتماعي نافرماني(لکه تيکرى نه په سرول)
٦٤. د اجتماعي مؤسساتونه ځان ايستل

## له اجتماعي سيستم نه پر شا تلل:

٦٥. په کور کې پاتې کيدل
٦٦. په ځانګړي ډول همکاري نه کول
٦٧. د کار ګرانو د کار نه تښتيدل
٦٨. پناه وړل
٦٩. ډله ئيزترى تم کيدل
٧٠. د اعتراض لپاره هجرت

**اقتصادي ميتودونه**
**د همکاري نه کولو اقتصادي تحريک**
**د مستهلکينو له خوا اقدام:**

٧١. د مستهلکينو له خوا تحريم
٧٢. د تحريم شوو شيانو مصرف نه کول
٧٣. د هوساينې د لوازماتود استعمال نه سر غړونه
٧٤. د کرايو نه ورکول
٧٥. د کرايې نيولو نه ډډه کول
٧٦. ددښمن هيواد او يا د ټولو باندنيو هيوادونو د توليداتو او خدماتو د آخستلو نه امتناع کول
٧٧. د ځو هيوادونو له خوانه د يوه هيواد د توليداتود يوه شکايت له امله همزمانه تحريم.

**د کارګرانو او توليد کوونکو له خوا اقدام:**

٧٨. د کارګرانو تحريم
٧٩. د توليد کونکو تحريم

**د دلالانو(عمده خرڅونکو) اقدام:**

٨٠. د تهيه کونکو او خرڅونکو تحريم

**د مالکانو او اداري له خوا اقدام:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۱. د تجارانو له خوا تحریم
۸۲. د جایدادونو د اجاره ورکولو او یا خرڅولو نه ډډه کول
۸۳. د فابریکو قلپول
۸٤. د صنعتي مرسته کولو نه ډډه کول
۸٥. د تجارانو "عمومي اعتصاب"

**د مالي منابعو د متصدیانو له خوا اقدام:**

۸٦. د بانکونو نه خپلي پیسې را ایستل
۸۷. د حق الزحمو، قرضونو او مالیاتو د ورکولو نه ډډه کول
۸۸. د قرضونو او سودونو د ورکولو نه ډډه کول
۸۹. د کریدتونو او پانګو تفکیک
۹۰. د مالیاتو نه ورکول
۹۱. د حکومت د پیسو د آخیستلو نه ډډه کول

**د حکومتونو له خوا اقدام:**

۹۲. داخلي بندیز(لکه په امریکي کې د کیوبا پر تولیداتو بندیز)
۹۳. په تور لست کې د سوداګرانو نومونه لیکل
۹٤.د بین المللي خرڅونکو بندیز
۹٥. د بین المللي آخیستونکو بندیز
۹٦. د بین المللي تجارت بندیز

**د اقتصادي همکاري نه کولو میتودونه**

**علامتي(سمبولیک) اعتصاب:**

۹۷. اعتراضي اعتصاب
۹۸. لنډ مهاله اعتصاب

**زراعتي اعتصاب**

۹۹. د بزګرانو اعتصاب
۱۰۰. د فارمونو د کارګرانو اعتصاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځانګړو ډلو له خوانه اعتصاب:**

۱۰۱. د جبري کار(بېګار) نه سر غړول
۱۰۲. د بنديانو اعتصاب
۱۰۳. د کسبګرو اعتصاب
۱۰٤. د حرفوي ډلو اعتصاب

**صنعتي عادي اعتصابونه:**

۱۰۵. د مؤسسو اعتصاب (لکه د مکتبونواعتصاب)
۱۰٦. صنفي اعتصاب(لکه د بوټ جوړونکو اعتصاب)
۱۰۷. د خوا خوږو ډلو اعتصاب
۱۰۸. په تدريج سره دکارګرانو کمېدل او په پاى کې هيڅوک کار ته نه حاضريدل
۱۰۹. په وار سره د فابريکو د کار بندول
۱۱۰. د ورو کار کولو اعتصاب
۱۱۱. په کار کې د مقرراتوډير مراعات کول تر هغه پورې چې د کار سرعت ډير لږ کړي
۱۱۲. د ځان ناروغه آچولو اعتصاب
۱۱۳. اعتصاب د استغنا سره
۱۱٤. محدود اعتصاب
۱۱۵. انتخاب شوي اعتصاب

**د متعددو صنعتونو اعتصابونه:**

۱۱٦. عام کړې شوې اعتصابونه
۱۱۷عمومي اعتصابونه

**له اقتصادي اړيکو سره يو ځاى اعتصابونه کول:**

۱۱۸. د يوې سيمې اقتصادي حرکت په داوطلبانه توګه موقتاً أ درول.د پروټست يو هندوستاني ډول دى، چې هړتال هم ورته ويل کيږي

۱۱۹. د اقتصادي فعاليتونو بندول

**د سياسي همکارئ نه کولو ميتودونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د صلاحيت ردول:**

۱۲۰. د وفادارۍ ايسارول او يا بيرته آخستل
۱۲۱. د عمومي مرستو نه قبلول
۱۲۲. ليکنې او ويناوې چې مقاومت تشويقوي

**له حکومت سره د اتباعو همکاري نه کول:**

۱۲۳. د تقنيني مؤسساتو ردول
۱۲٤. د انتخاباتو تحريم
۱۲۵. د حکومت د وظايفو او مقامونو تحريم
۱۲٦. د حکومت د ځانګو، نمايندګيو او نورو برخو تحريم
۱۲۷. د حکومت د تعليمي مؤسساتو نه راوتل
۱۲۸. د حکومت له خوانه د حمايه شوو تشکيلاتو تحريم
۱۲۹. د قانون له تطبيق کونکو سره د مرستې نه مخ آړول
۱۳۰. د خپلو علايمو او دځای د نښو لرې کول(لکه دکور لمبر او نور..)
۱۳۱. د مقرر شوو مامورينو د قبلولو نه انکار کول
۱۳۲. د موجوده مؤسساتو منحل کيدل نه قبلول

**د ديکتاتورۍ نه د اطاعت کولو پر ځای نورې لارې:**

۱۳۳. بې پروايي او د اوامرو ورو قبلونه
۱۳٤. کله چې مستقيمه لارښودنه وجود ونه لري بې اطاعتي کول
۱۳۵. عامه بې اطاعتي(نافرماني)
۱۳٦. بې اطاعتي په تغير د بڼې لکه د زړه نه يو امر نه اجراکول
۱۳۷. د يو اجتماع او يا يو مجلس د پريښودلو نه امتناع
۱۳۸. کښيناستل
۱۳۹. د اخذ عسکر او تبعيد سره همکاري نه کول
۱٤۰. پټيدل، تښتيدل او يا غلط هويت پکارول
۱٤۱. د "نا حقو" قوانينو په مقابل کښې بې اطاعتي

**د حکومت د منسوبينو له خوا اقدام:**

۱٤۲. د حکومت د لوړ رتبه مقام له خوا د مرستې کولو نه امتناع
۱٤۳. د قومندې او اطلاعاتو د مجرا بندول
۱٤٤. ورو والی او ممانعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱٤٥. عمومي اداري همکاري نه کول
۱٤٦. قضايي همکاري نه کول
۱٤٧. د قانون د تطبيقولو ځانګو له خوا نه قصداً بې کفايتي او انتخابي همکاري نه کول
۱٤٨ بغاوت

**کورنی حکومتي اقدام:**

۱٤٩. د لوړ مقام قانون، نظم يا د محکمې له فيصلې سره بې له مستقيمې سر غړونې نه قسماً قانوني تجاهل او يا ځنډول
۱٥۰. له مرکزي حکومت سره، د محلي،او ولايتي حکومتونو همکاري نه کول

**بين المللي حکومتي اقدام:**

۱٥۱. په ديپلوماتيکي او نورو نمايندګيوکې بدلون
۱٥۲. په ديپلوماتيکي مراسمو کې ځنډ او يا لغو راوستل
۱٥۳. ديپلوماتيکي په رسميت پيژندلو کې ځنډ راوستل
۱٥٤. د ديپلوماتيکي اړيکو پرې کول
۱٥٥. د بين المللي مؤسساتو نه ئې را ويستل
۱٥٦. په بين المللي مؤسساتو کې ئې په غړيتوب نه قبلول
۱٥٧. د بين المللي مؤسساتونه يې اخراجول

**د عدم تشدد د مداخلې ميتودونه**

**سايکالوژيکي مداخلې:**

۱٥٨. ځان ديرې ګرمۍ او يا ډيرې يخنۍ ته معروضول
۱٥٩. روژه

الف: د اخلاقي فشار روژه، چې خپل ځان او يا ژوند په خطر کې واچوي، او د بشري ټولنې احساسات راوپاروي
ب : د لوړې اعتصاب
ج : سيټياګراهيک روژه، چې مقابل لورى د خپل ځوريدلو نه و شرموي

۱٦۰. معکوسه محاکمه، چې قانون باندې انتقاد او مقابل لورى محاکمې ته محول کړي
۱٦۱. د عدم تشدد ځورول

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملي(فزيکي) مداخله:
۱٦۲. کيناستل
۱٦۳. دريدل
۱٦٤. سپريدل
۱٦٥. په اوبو کې دريدل
۱٦٦. په آزاده فضاکي د عدم تشدد د فعالينو موقتي راټوليدل،چې د راټوليدلو ځای علامتي(سمبوليک) اهميت ولري
۱٦۷. د دعا لپاره راټوليدل
۱٦۸. د عدم تشدد يرغل، د داوطلبو افرادو مارش يو مهم علامتي او يا ستراتيژيکي نقطې ته او بيا دهغې اشغال
۱٦۹. د دښمن فضايي قلمرو ته د آلوتکو په واسطه د پاڼو، خوراک او يا سوغاتونو د توزيع لپاره بې د تشدد د استعمال نه ننوتل.
۱۷۰. د عدم تشدد تجاوز
۱۷۱. د عدم تشدد غږ پورته کول(چيغې وهل)
۱۷۲. د عدم تشدد مخنيوانه(ممانعت)
۱۷۳. د عدم تشدد اشغال يا (په عدم تشدد سره د يو ځای نيول)

**اجتماعي مداخله:**

۱۷٤. د نوي اجتماعي نمونې تاسيسول
۱۷٥. په تسهيلاتو کې انډوخر جوړول
۱۷٦. د يوه رسمي مقام سره د خبرو اترو اوږدول او د هغه وخت ضايع کول
۱۷۷. په يوه اجلاس کې ننوتل او د خبرو په واسطه جلسه اخلالول
۱۷۸. په يو ازدحام کې خلکو ته چټک پيغام رسول او بيا تښتيدل
۱۷۹. تعويضي اجتماعي مؤسسې جوړول
۱۸۰. د تعويضي ارتباط سيستم جوړول

**اقتصادي مداخله:**

۱۸۱. سرچپه اعتصاب(چې کارګرانو ته وويل شي،کار ته مه راځئ او دوی بيا راشي)
۱۸۲. د کور نه د نه وتلو اعتصاب
۱۸۳. د ځمکې قبضه کول بې له تشدد نه
۱۸٤. د محاصرې نه سر غړول
۱۸٥. د سياسي تحريک له امله جعلي اسعار جوړول
۱۸٦. د اجناسو د رانيولو نه ځان ساتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸۷. د شتمنیو قبضه کول
۱۸۸. موقتي ذخیره کول
۱۸۹. انتخابي ملاتړ کول
۱۹۰. تعویضي مارکیټونه
۱۹۱. د تعویضي انتقالاتو سیستمونه
۱۹۲. تعویضي اقتصادي مؤسسې جوړول

**سیاسي مداخله:**

۱۹۳. په اداري سیستم کې ازدحام جوړول
۱۹٤. د استخباراتي نمایندګانو د هویت افشا کول
۱۹۵. د بندي کېدلو غوښتنه
۱۹٦. د "بیطرفو" قوانینو نه عامه نافرماني
۱۹۷.بې له همکارۍ نه کار کول
۱۹۸. دوه حاکمیتونه او ورسره موازي حکومتونه جوړول

په ډیرو حالاتو کې هغو خلکو، چې د دیموکراتیکي حقوقو او عدالت لپاره مبارزه کوي، د عدم تشدد د مبارزې د میتودونو د پوره شمیر نه خبر نه وي. معقوله ستراتیژي، توجه د عدم تشدد لارو چارو(میکانیزم) ته، او په احتیاط سره د میتودونو انتخاب د یوې ډلې د بریالیتوب اتفاق زیاتولی شي.
جین شارپ،دا ۱۹۸میتودونه تدقیق او کتلاک کړی او په خپل کتاب کې
(The politics of nonviolent action)
چې په دریو ټوکو کې خپور شوی، ډیرانتخابونه یې د تاریخي مثالونو سره وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ليکوال په اړه:

جين شارپ، د البرټ انشټاين په مؤسسه کښې، د امريکې د متحده ايالاتو، د مساچوست د ايالت د باستن په ښار کښې لوړ رتبه عالم دی. د کال ۱۹٦٥ نه ئي تقريباً د ديرشو کلونو لپاره د هارواړډ د پوهنتون د بين المللي چارو په مرکز کښې د تحقيق وظايف تر سره کړي. هغه د مساچوست د ډارت موت په پوهنتون کښې د سياسي علومو اعزازي پوهاند هم دی.

ډاکټر شارپ، " د عدم تشدد د جګړو په کلازويچ " او " د عدم تشدد په ماکياولي " باندې شهرت لري. هغه په ۱۹۸۳ کال کښې د البرټ انشټاين مؤسسه تاسيس کړ، چې د ستراتيژيکي عدم تشدد د مبارزې په موضوع باندې د ديکتاتورۍ،جنګ ، عامې وژنې او ظلم په مقابل کښې ، تحقيقات، د پاليسيو مطالعات ، ښونه او روزنه، تشويق او ترويج کړي.

جين شارپ، د اکسفورډ د پوهنتون نه د سياسي تيورۍ د فلسفې په څانګه کښې د ډاکټرۍ درجه تر لاسه کړی ( ۱۹٦۸) ، او د اوهايو د ايالت د پوهنتون نه ئې د سو سيالوژۍ په څانګه کښې د ماسټرۍ درجه (۱۹٥۱)، او د سوسيال ساينس په څانګه کښې د ليسانس درجه (۱۹٤۹) لري.

هغوی دوه افتخاري ډاکټرۍ او نورې علمي وياړنې هم تر لاسه کړي.

د لسو کلونو لپاره په ناروي او انګلستان کښې اوسيدلی دی، او د اکسفورډ په پوهنتون او ناروې کښې ئې پر مخ تللي مطالعات ئې تر سره کړی، او هم ئې د اوسلو په پوهنتون او د ناروې د اجتماعي تحقيقاتو په مؤسسې کښې په لوړو مقامونو کښې کار کړی دی.

ډاکټر شارپ ډير کتابونه او نور اثرونه د عدم تشدد پر مبارزې، سياسي قدرت، سياسي مسايل، د آزادۍ د مبارزې، ديکتاتوري، او دفاعي پاليسۍ په برخه کې ليکلي دي. د هغوی آثار په ۳۲ ژبو ترجمه شوي. چې ځينې آثار يې دادي:

- د عدم تشدد د عملي کولو، تګ لاره.
- اروپا فتح نه کيدونکی ګرځول
- ملکي مقاومت
- اجتماعي قدرت او سياسي آزادي
- ګاندي د سياسي ستراتيژي پوه په حيث
- د عدم تشدد د مبارزې قدرت او اجرا کول. سريزه د تبت ديني رهبر دالای لامه له خوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ګاندي د اخلاقي قواوو وسلې ښه په کار اچولی دي. ( دا يې اولنی کتاب دی چې البرت انشټاين او د بهارتان کوماراپا، سريزې هم پکښې شاملې دي.

- د عدم تشدد د مبارزې په کار اچول

د شلمې پيړۍ عملي تجربه، او د يويشتمې پيړۍ لپاره د استعمال وړ. دا کتاب د ځينو د نظر خاوندانو له خوا يو شاهکار ګڼل شوی.

- د عدم تشدد د مبارزې او سياسي سر غړونې ډکشنري.

- مقاومت، سياست، او د امريکايانو مبارزه د آزادۍ لپاره،١٩٨٦ (ګډتاليف)

- عدم تشدد ته لاس آچول: يو تحقيقاتي لار ښود ،١٩٩٧ (ګډ تاليف)

د هغوی ځينې اوسني لنډې ليکنې عبارت دي له: ديکتاتورۍ نه ديموکراسۍ ته، چې په ٣٢ ژبو کښې شته ، د تشدد پر ځای نورې حقيقي لارې ، او د کودتا پر ضد (ګډ تاليف).

ډاکټر شارپ، آسان کړې شوې وړانديزونه ئې، د عدم تشدد د مبارزې په څرنګوالي او د هغه د استعمال په اړه، او هم د کودتا د مخنيوي په ارتباط حاضر کړی دی. مختلف ورکشاپونه ئې اداره کړي، او په نړيوالو سختو کړکيچنو حالاتو کښې د ستراتيژيکي عدم تشدد د مبارزې په برخه کښې ئې ارزښتناکې مشورې ورکړې.

هغه عقيده لري چې، عملي او ستراتيژيکي ښه پلان شوي د عدم تشدد مبارزه، کيدای شي چې په تصادماتو کښې د ظلم د لرې کولو لپاره د تشدد پر ځای په ډيره آغيزناکه توګه په کار واچول شي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**